

# د فولکلور پېژندنې لارښود

محمد داود وفا

www.sikaraam.com

د لوړو زده کړو وزارت
ننګرهار پوهنتون
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی
پښتو څانګه

# د فوکلور پېژندنې لارښود

پوهنیار محمد داود وفا

۱۳۹۲ لمریز / ۲۰۱۳ میلادي

www.sikalaam.com

## ځانګړنې:

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د فوکلور پېژندنې لارښود |
| لیکوال: | پوهنیار محمد داود وفا |
| کمپوزر: | په خپله لیکوال |
| ډیزاین چارې: | عبدالهادي اثر |
| د پښتۍ انځورګر: | حمدالله ارباب |
| خپرندوی: | ختیځ اکاډمي - ننګرهار |
| چاپ کال: | ۱۳۹۲ل/ ۲۰۱۳م |
| چاپ شمېر: | ۱۰۰۰ |
| چاپوار: | لومړی |


**د بیا چاپ حقونه له لیکوال سره خوندي دي.**



www.sikaraam.com

بسم الله الرحمن الرحیم

www.sikaraam.com

# د خپرندوی یادښت

ختیځ اکاډمي ویاړي، چې «دفوکلور پېژندنې لارښود» کتاب د خپلو کتابونو دلړۍ دلومړۍ کړۍ (کتاب) په توګه چاپ او خپروي.

ختیځ اکاډمي، چې سږ کال په ننګرهار کې پرانستل شوې او هدف یې د افغاني او پښتني فرهنګ دودې او پراختیا لپاره لارې چارې پرانستل دي، ژمنه ده، چې تردې وروسته به ګڼ نور علمي، ادبي، کولتوري او ټولنیز کتابونه خپروي او د خپل ویاړلي هېواد د ځوان نسل دژغورنې او رغونې په پاربه یې دا فرهنګي خدمت د کارونو په سر کې وي.

دا کتاب د همدغسې یوې موخې او مخې په ویاړلیکل شوی او هیله ده، تردې لا ډېر، ځوان افغان لیکوال دخپل فرهنګ دځلونې او پالنې کارته متې رابډوهي.

فوکلور دتېرو او هېرو ولسونو ژوند هینداره ده، دا هینداره هغو ته ډېره مهمه او ضروره ده، چې ددنیا د نورو علومو او فنونو له خوندونو بې برخې وي. پښتون ولس، دنړۍ ترټولو ډېر ځپل شوی یو دی. فرهنګي او تاریخي ویاړونه یې د دښمنانو له خوا تښتول شوي او لاهم له ګواښ سره مخ دي، نو چې خپل تاریخ و فرهنګ په فوکلورکې ولټوي، دا ورته ترنورو اسانه او مهمه ده. په دې نیامت، ددغه کتاب خپراوی، هم د پښتو ژبې دودې په کار کې یو ارزښتمن ګام ګڼل کېدی شي او هم د پوهنتوني زده کوونکو لپاره، چې دا ځولسیزې ددرانه او نه راستنېدونکي غم او درد له امله له ګڼو تدریسي او مدني اسانتیاوو بې برخې دي.

په دغسې یوه حالت کې د پښتو ژبې دودې په کار کې یو ګام او چتول هم له ویاړه پرته بل څه نه شي ګڼل کېدی. ختیځ اکاډمي په دغه معنوي ویاړ کې ټول افغان ولس له ځانه سره راګډ بولي او د خیر پر دغو ویاړلیو شېبو یې د مرستو او لاسنیوي په تمه ده.

په درنښت

ختیځ اکاډمي

۱۳۹۲.۲.۱ المریز

www.sikaram.com

جلال آباد

# نیولیک


ګڼه سرلیک مخګڼه

۱. د دغه کتاب په اړ ........................ د

۲. سریزه ........................ و


## لومړی څپرکی

## فوکلور پېژندنه


۳. فوکلور څه دی؟ ........................ ۳

۴. فوکلور د نورو له انده ........................ ۱۵

۵. فوکلوریک ادبیات ........................ ۱۸

۶. د فوکلور پیدا ښت او سرچینې ........................ ۲۰

۷. د فوکلور ارزښت ........................ ۲۲

۸. له نورو پوهنو سره د فوکلور اړیکې ........................ ۲۵

۹. د بحث لنډیز ........................ ۴۷


## دویم څپرکی

## ام فوکلوریک ژانرونه


۱۰. لنډۍ ........................ ۳۶

۱۱. غاړې ........................ ۵۰

۱۲. پړاکی ........................ ۶۰

۱۳. د میندو سندرې ........................ ۶۵

۱۴. د ماشومانو سندرې ........................ ۶۹

۱۵. کیسۍ (اړ) ........................ ۷۳

۱۶. سروکي ........................ ۸۰


www.sikaraam.com

۱۷. ناري یا غړونه ........ ۸۸
۱۸. فالونه ........ ۹۶
۱۹. انګۍ ........ ۱۰۲
۲۰. د ښادۍ سندرې ........ ۱۰۷
۲۱. بلندۍ ........ ۱۱۵
۲۲. سلسلې ........ ۱۱۷
۲۳. برغازۍ ........ ۱۱۹
۲۴. منظوم متلونه ........ ۱۲۲
۲۵. ساندې ........ ۱۲۸

## دریم څپرکی

## خاص فوکلوریک ژانرونه

۲۶. چاربیته ........ ۱۳۶
۲۷. کسرونه ........ ۱۷۸
۲۸. مقام ........ ۱۸۳
۲۹. بدلې ........ ۱۸۸
۳۰. لوبې ........ ۲۰۱
۳۱. بګتۍ ........ ۲۰۴
۳۲. داستان ........ ۲۰۸

## څلورم څپرکی

## ولسي نثرونه

۳۳. نکل ........ ۲۲۵
۳۴. وړې کیسې ........ ۲۳۷
۳۵. ټوکې ........ ۲۳۹

www.sikaraam.com

۳۶. متلونه ........ ۲۴۲
۳۷. کیسۍ یا اړونه ........ ۲۴۵
۳۸. اصطلاحات او محاورې ........ ۲۴۷
۳۹. تشبیهات او استعارې ........ ۲۵۰
۴۰. تکیه کلامونه ........ ۲۵۲
۴۱. دعاوې او ښېراوې ........ ۲۵۴
۴۲. سترې مشي او مخه ښه ........ ۲۵۵
۴۳. القاب او صفات ........ ۲۵۶
۴۴. نومونه ........ ۲۵۷
۴۵. روایات ........ ۲۵۹
۴۶. وروستۍ خبرې او وړاندیځونه ........ ۲۶۱
۴۷. اخځلیک ........ ۲۶۲
۴۸. انګلیسي سریزه ........ I

# د دغه کتاب په اړه

د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګې ته ځان سرلوړی ښکاري، چې د خپلو مسلکي مضمونونو د تدريسي بهير د پياوړتيا په مخه ديوه بل ګام په اوچتولو بريالی کيږي او هغه د «فوکلور پېژندنې» مضمون ته د يوه ځانګړي کتاب چمتوالی او خپراوی دی.

د ژبو او ادبياتو پوهنځي د علمي کادر غړي ښاغلي پوهنيار محمد داود وفا د تدريس په بهير کې د فوکلور پېژندنې مضمون په اړه ژورې کتنې او څېړنې بشپړې کړي او په دې اړه ليکل شوي ګڼ اثار يې لوستي، ښېګڼې او نيمګړتياوې يې درک کړي او بيا يې د خپلو تجربو په رڼا کې ديوه نوي، تازه او بکر اثر ليکلو ته مټې رانغښتي، چې دادی نن يې په بشپړېدو او خپرېدو وياړلي يو.

په تېره څه ناڅه يوه پېړۍ کې د پښتو فوکلور پېژندنې موضوع له خاپوړو تر ځوانۍ او پخوالي ورسېده ، په دې ترڅ کې بېلابېل نظريات، اټکلونه او باورونه وړاندې شول، ښاغلي وفا هڅه وکړه، په دې اړه مهم نظريات ولولي، مهمې برخې يې په نښه کړي او په پوره ځيرتيا ، ژورتيا او علمي او سيستماتيکه توګه يې سره ووېشي او بيا يې داسې يوې بڼې ته برابر کړي، چې هم د ښې او هم د منځپانګې له مخې په ادبياتو پوهنځي کې د افغان ځوانانو دلارې مشال شي.

www.sikanaam.com

استاد دعلمي مطالعې دذوق او پراخې حوصلې په برکت ، دفوکلوري ادبیاتو په اړه دومره مواد راټول کړي او تدوین کړي، چې زه یې دفوکلور لاربښود پرځای فوکلوریکه خزانه ګڼم. دا اثر په څه باندې دوه نیم سوه مخونو کې ترلویو او وړو سرلیکونو لاندې په روانه ، فصیحه او بلیغه ژبه لیکل شوی. ددغه اثر د امتیاز بل ټکی دادی ، چې دهر ژانر ترمعرفۍ وروسته نوې او په زړه پورې بیلګې وړاندې کوي، چې ځینې خو یې ما بیخي چرته لوستې نه وې. ورسره دایې بله ښېګڼه ګڼلی شو ، چې څېړنې او کتنې یې یوازې په افغاني دایره کې نه دي ایسارې کړې، بلکې ختیځ او لویدیځ ټولو ته یې سر وربښکاره کړی او دبهرنیو ژبو کتابونه یې هم ورپسې کتلي دي.

دژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه سپارښتنه کوي، چې ددغه اثر له منځپانګې دهېواد په نورو پوهنتونونو کې هم ګټه اوچتېدی شي او په دې توګه باید دټولو لپاره چاپ او خپور کړای شي.

په درنښت

پوهنوال شاه ولي

دننګرهارپوهنتون دژبو او ادبیاتو پوهنځي دپښتو څانګې مشر

۱۳۹۲المریز، دوري پینځه ویشتمه

www.sikaraam.com

# سریزه

پښتوژبه، چې زرګونه کلونه تاریخ لري، دبېلابېلو پښتني قومونواو خېلونو دکارونې ژبه ده. هماغسې، چې پردغه ژبه له زرګونو کلونو راهیسې خلک غږېږي، دغږېدونکو دژوند او دژوند دښې په باب یې هم لرغونپوهانو، تاریخپوهانو او ګرامر لیکونکو او څېړونکو اسناد موندلي دي.

د پښتو ژبې په وده او پرمختیا کې دفوکلور یادهغه داجزاوو: ولسي منظومو او منثورو ویناوو او فوکلوریکوادبیاتو اغېز څرګند دی. دا اغېز حتی ترګاونډیو ولسونو اوسیمو پراخه دی، ځکه، چې پښتانه دنورو په نسبت نویتوب یا په بله وینا عصریت او تمدن ته هومره نه دي نژدې شوي، لکه نور ولسونه او قومونه.

له دې امله ده، چې پښتوژبه غني فوکلوري روایات، ویناوې او دودونه لري.په دغو ویناوو کې یې ځینې په ادبیاتو کې دمطالعې ځای لري، خو ځینې یې بیا دعمومي انټرپولوژۍ یا بشرپوهنې برخه ده. دا دواړه برخې ارزښتمنې دي، ځکه، چې په فوکلوریکو روایتونو او ویناوو کې دیوه ولس، تاریخ، تمدني پرمختګ، بریاوې، ستونزې، لمانځنې، کړنې، مینې کرکې او دژوند نور اړخونه مومو.

له څوکلونو راهیسې چې دننګرهارپوهنتون په ژبو او ادبیاتوپوهنځي کې دفوکلور مضمون تدریس راسپارل شوی، دفوکلور پېژندنې او څېړنې مسله مې دکارونو په لومړیتوبونو کې وه. په دغومره وخت کې مې دفوکلور

www.sikaraam.com

بېلابېل اثار مطالعه کړل او ځینې برخې يې، خو مې مخامخ تــدريس هـــم کړې. دپښتو ځانگې پرله پسې هڅونې او دزده کوونکو مينې دالارې چارې په گوتو راکړې، چې دفوکلور په باب يو ځانگړی اثر وليکم. که څه هم دا اثر راته بشپړ نه ښکاري او پرله پسې به نورې هڅې وغواړي، چې يو جامع کتاب ترې جوړشي، خو دبې نظمه نوټونو په نسبت په يـــوه کتـــاب کـــې ددغومره موادو راټولوول راته گټور ښکاره شول.

دافغانستان دپوهنتونونو په ادبياتو پوهنځي کې مخکې فوکلـــور ديـــوه مضمون په توگه نه و منل شوی، په کابل پوهنتون کې خو درواني لمريزې پېړۍ په شپږمه لسيزه کې فوکلور ديوه مضمون په توگه تاييد شو، خو پـــه نورو پوهنتونونو کې لا هم زوړ نصاب منل شوی و. د۱۳۸۲کاله له پيلـــه فوکلور مضمون اوس دافغانستان دپوهنتونونو په ادبياتو پوهنځي کې ديـــوه ځانگړي مضمون په توگه پېژندل شوی، ځکه خو دتدريس په برخـــه کـــې ددغه مضمون برخه لا هم خواره ده او وړ اثار په کې نه دي ليکل شوي.

ددې لپاره چې ددغه کتاب دليکنې اړتياوې وښـــييم،په کـــارده، چـــې دفوکلوراودهغو دځانگو، ځېلونو او ډولونو (ژانرونو) دپېژندنې په اړه ترديې مخکې دشوي کاريوه لنډه ارزونه وړاندې کړم.

## په فوکلور د شوي کار يو لنډ جاج

فوکلور يوه پراخه او ويړه موضوع ده، په افغانستان کې فوکلوريـــک مطالعات درواني لمريزې پېړۍ له دويمې لسيزې راهيسې پيـــل شـــوي،دا وخت کابل ادبي انجمن د«راهنمای فولکلور» په نامه يو ځانگړی اثر خپور

www.sikarnaam.com

کړ(۱۳۱٦لمریزکال شاوخوا)، چې فوکلور په کې دیـــوه ولـــس دټولـــو دودونو، رواجونو، روایاتو او افسانو مجموعه بلل شوې او ان تردې، چې دزمکو او اسمانونو پیدایښت او په دې اړه نور ډېر څه، چې اوس دعلومو په بېلابېلو څانګو کې لوستل کیږي او ځینې یې له منځه تللـــي، دفوکلـــور دبرخې په توګه منل شوي. دهمدغه نظریاتو په بنسټ په وروستیو کې افغان فوکلور څېړونکو دفوکلور ټولنیز دریځ ټاکلی او داسې وېش یې وړانـــدې کړی، چې فوکلور یې له بشري پېژندنې، ارواپوهنې او وګړپوهنې سره ګډه کړی دی.

زما ددغه کتاب هدف ترډېره دانه دی، چې ګنې فوکلور څرنګه له نورو پوهنو جلا کولی شو، بلکې دلته هدف یوازې تدریسي مسلې دي، لـــه دې سره سره زه هم اړ شوم، چې وپوهېږو کومې برخې په فوکلور کې مطالعه کولای شو او کومې یې نه ؟

ددې لپاره مې بېلابېل کتابونه وکتل او نظریات مې راغونډ کړل، چـــې داټولګه ترې جوړه شوه. دلته نو خامخا داپوښتنه باید ځواب کـــړو، چـــې مخکنې لیکل شوي اثارو دکومو دلایلو له مخې په ادبیاتو پـــوهنځي کـــې دتدریس ځای نه درلود، چې اوس نوی اثر رامنځته کیږي؟ دا او ورته نورې پوښتنې ښایي په لاندې کرښو کې ځواب کړو، خو اړیو لومړی هغه اثـــار وپېژنو، چې تردې وړاندې لیکل شوي. دا یادونه هم مهمه ده، چې دلته نه شم کولی، دفوکلور په اړه په لرو بر کې لیکل شوي، ټول اثار وښـــییم، دا کار له یوې خوا خورا ګران او درون او له بل اړخه ښایي زموږ له اړونـــده موضوع سره ډېر اړخ هم ونه لګوي. دلته به زه یوازې هغه اثار وښیم، چې

www.sikaraam.com

لږو ډېر داسې مواد لري، چې په تدریس کې ترې ګټه اخیستل ممکن دي. په دې توګه نو په «یوه» فوکلوریک ژانر لیکل شوی اثر یا اثار لـــه دغــه موضوع نه بهر دي. دبیلګې په ډول «لنډۍ». دلنډیو دڅېړنې په باب او یا په خپله دلنډیو دراټولو کړیو بیلګو په باب ډېر اثار لیکل شوي او خپــاره شوي، خو څرنګه، چې دا ډول کتابونه یوازې دیوه ژانر معرفي تـــه جـــلا کړای شوي او دفوکلور نور ژانرونه او برخې نه راپېژني، نـــو دتـــدریس پروخت ترې یوازې د عمومي مطالعې استفاده ممکنه ده، نه مخـــامخ دزده کوونکو او محصلینو لوستنه او کتنه. ځکه نو غواړم دلته هغه اثار وپېژنم، چې فوکلوریک ژانرونه یې رانبوولي دي داځکه، چې د همدغه فوکلوریکو منظومو او منثورو اثاروله برکته ولسي ادبیات ایجادشوي دي.

لاندې کتابونه په ډېرو ستاینو او مننو ارزي، خومونږ یې دلنډون په مخه یوازې هغه برخې په نبنه کوو، چې په تدریسي مسلو پورې ډېره اړه مومي.

## ۱. دخلکو سندرې:

داکتاب نامتو څېړونکي استاد حبیب الله رفیع (اوس څېړندوی) لیکلی او له ځینو نبلونوپرته (۳۲۲) مخونه لري، په ۱۳۴۹لمریز کال دافغانستان اکاډمۍ دتاریخ او ادب ټولنې په کابـــل کـــې خپـــور کـــړی. دا کتـــاب دفوکلوریکو موادو او ژانرونو دپېژندنې په باب تربل هر کتاب ډېر او پراخه معلومات لري.

«دخلکو سندرې» کتاب له اوس(۱۳۹۲لمریز=۲۰۱۳میلادي) نــه تقریبا ۴۳کاله پخوا لیکل شوی. که څه هم ددغه کتاب مواد اوس هم له خورا اوچت ارزښت نه برخه من دي اوزما په ګډون دوروستیو فوکلـــور

www.sikaraam.com

ليكونكو او ټولوونكو اصلي ماخذ او مرجع همدا كتاب دی، خوهغه څــه چې زموږ دتدريس په بهير كې يې زياتون غوښت، دا وو:

١.داكتاب «دخلكو سندرې» په څېړنيز ميتود ليكل شوی او تدريســي بڼه يې تته ده. دلته راټول شوي مواد زياتره څېړونكو تــه مهــم دي، دزده كوونكو لپاره يا ډېر دي او يا اوږده او پراخه.

٢.كتاب دمخكنيوڅېړنو په رڼا كې ليكل شوی، تردې وروسته دفوكلور څېړنې او څرګندونې په برخه كې ځينې نور مواد هم ترلاسه شول.

٣.داكتاب يوازې منظوم فوكلوريك ژانرونه راښيي، په داسې ترڅ كې چې په پوهنځيو كې زده كوونكو ته دولسي نثر برخه ښوول هم مهم دي.

۴.داكتاب تردېره دهغو نظرياتو په رڼا كې ليكل شوی، چې فوكلــور دژوند په هره برخه خپورګڼي، يا داچې زموږ دټولنې هرهغــه دودو رواج، چې، دځينو په اند، په نورو پوهنو كې دمطالعې ځای لري، دلته راګډ شوي دي.

۵.ځينې ژانرونه، چې پخوا يو بشپړ ژانر ګڼل كېده او اوس بايد نه وي، هلته دژانرونو په بڼه راغلي، لكه:

د ښادۍ سندرې، ببولالې، كيسې او داستانونه، غړونه، دهوتكو نارې، دنكلونو نارې او.... هم دژانرونو په نامه راپېژني. اوسنيو څېړنو ښــوولې، چې ځينې دا ژانرونه ګڼل سم نه دي. اوياداچې يو له بل سره ګډ شوي دي.

٦.اوسنيو څېړنو داهم ښوولې، چې فوكلور او فوكلوريك ادبيات دوه سره بېلې برخې دي،يعنې داچې فوكلور يو چتر دی، چې دودونه، رواجونه او اړيكي هم ترمطالعې لاندې نيوای شي، خوفوكلوريك ادبيات يوازې هغه

www.sikaraam.com

څه دي، چې هنري ارزښت لري. په دغه کتاب کې دواړه برخې ګډې ښکاري.

په دې برخه کې ډېرې نورې خبرې هم کېدی شي، خو نورې یې څېړونکو ته پرېږدو او موږ بل کتاب رااخلو.

## ۲.زرینې څانګې:

داکتاب هم دڅېړندوی حبیب الله رفیع اثر دی، چې دزېږي کالنۍ په ګډکتاب کې خپورشوی او په ځانګړې توګه هم چاپ دی. مخونه یې (۱۱۲) دي او یوازې ولسي ادبیات نه بلکې ددیواني او عروضي ادبیاتو په باب هم ژانري وېش او لنډه، خو مهم معلومات وړاندې کوي.په دې باب زما یادونې باید داوي:

۱.داکتاب یوازې د فوکلوریکو ژانرونو نه بلکې ددیواني او عروضي ادبیاتو برخې هم راپېژني، چې نورې برخې یې زموږ په کار پورې اړه نه لري.

۲.دولسي ادب په برخه کې که څه هم خورا مهم معلومات وړاندې کوي، خو دزده کوونکو لپاره لږ دي او لنډه.

۳.داکتاب نسبت پخوانیو ته نوي نظریات، فکرونه او ژانري وېش راښیي، چې دتدریسي کتابونو دلیکلو پروخت ترې بشپړه ګټه اخیستل کېدی شي.په دې کتاب کې هغه برخې په بله بڼه بشپړې شوي، چې «دخلکو سندرې» ټولګه کې نیمګړې وې.

۴.څرنګه چې ددغه کتاب هدف لنډه او مستنده څېړنه ده، نو دولسي ادب ډېرې بیلګې په کې نه شته.

www.sikaraam.com

## ۳.دپښتو شفاهي ادبياتو شکل او مضمون:

داکتاب غوټۍ خاورې ليکلی او په ۱۳۶۶لمريز کال دافغانستان دعلومو اکاډمۍ دژبو او ادبياتو مرکز شفاهي فوکلور امريت په (۲۵۱) مخونو کې خپورکړی، چې دمحقق دعلمي رتبې دترفيع لپاره ليکل شوی. په دې باب زما يادونې دادي:

۱.داکتاب دګړني ادب مهمې برخې راپېژني او ارزښتمنه هڅه ده، چې نوې خبرې او څېړنې يې زموږ دځوانانو لپاره لارښودی ارزښت لري او بايد ديوه مهم اثر په توګه وپېژندل شي. داثر فوکلوريکي بيلګې هم خوندي کوي، خو زياتره په تيوريکه بڼه په فوکلور اوفوکلوري ژانرونو بحث لري. لکه دپورتنيو او ځينو نورو کتابونو په شان دا کتاب هم زياتره دڅېړونکو له کار سره مرسته کوي او تدريسي اړخ يې لږ تت دی.

۲.په کتاب کې دبي بي دستې سندرې، سولۍ، دوړو مشاعرې، دځوانانو سندرې، محلي پارچې يا ولسي نندارې، دنکلونو نارې، داتڼ نارې، سنځرخېلي نارې او سوزخواني دځانګړيو ژانرونو په نامه معرفي شوي، چې اصلا ځانګړي ژانرونه نه دي او دا په ترتيب سره، دبڼادۍ سندرې، دماشومانو سندرې، په عمومي نارو او ساندو ورګډېږي.

۳.داکتاب دوه لوېې برخې راچاپېروي،لومړی ژانري وېش او پېژندنه او بيا دولسي ادب محتويات يا منځپانګه.که څه هم دولسي ادب پرمنځپانګې بحث کول زده کوونکو ته ګټور دي، خو دپوهنتون په درسي مفرداتو کې دوخت دلږوالي او ددرسي ساعتونو دمحدوديت له امله ځای نه شي موندی.په دغه کتاب کې دابرخه (۱۱۱) مخونه ده. په پوهنتوني زده کړو

www.sikaraam.com

کې عموما دشعرونو په منځپانګې او موضوعي وېش،دلکچر په بنه بحث ګټور ګڼل کیږي.

۴.په دغه کتاب کې هم دځینو نورو غونډې فوکلور ، فوکلوریک ژانرونه او فوکلوریک ادبیات سره ګډ شوي دي.یا په بله وینا، دکتاب منځپانګه دفوکلور اړونده ځینې ویناوې ، چې ادبیات نه دي، دادبیاتو په نامه راپیژني.

## ۴.فولکلورپېژندنه:

داکتاب سرمحقق محمد صدیق روهي لیکلی.چې دفوکلور پېژندنې په تیوري دکار خبرې لري. دفوکلور او نورو علومو او فنونو ژوراړیکې، دفوکلور څېړنې نظریاتي اړخونه لکه اساطیري نظریه، مقایسوي نظریه، تاریخي نظریه، دبشرپېژندنې نظریه او دفوکلور علمي نړی لید،فوکلوري مقولې، دفوکلور څېړنې مېتودونه او نور رانیسي. داکتاب په ډېره لوړه سویه دفوکلور پېژندنې په اړه هراړخیز نظریات څېړي. دفوکلور دتیوریک اړخ په اړه نه تردې وړاندې او نه تراوسه داسې بل کتاب لرو. داکتاب دافغاني پوهانو داستعداد او پوهې یوه غوره نمونه کېدی شي.

داکتاب په ډېروستاینو ارزي، خو دپوهنتوني زده کوونکو دزده کړې او مطالعې لپاره دمرستیال درسي کتاب په توګه ګڼل کېدی شي او داځکه، چې:

۱.ددغه کتاب بحثونه دلیسانس دورې زده کوونکو له سویې نه لوړ دي.

۲.زیاتره په تیوري بحث کوي او دفوکلوریکو ژانرونو په باب هماغومره لنډ معلومات وړاندې کوي، چې له تیوریکو مسایلو سره اړه

www.sikaraam.com

لري.

۳.داچې دفوکلورپه باب داستاد روهي نظریات څنګه او په کومه بڼه دي، دازما دبحث موضوع نه ده، ښايي، په ځينو برخوکې ددوی له نظرياتوسره اختلاف نظر هم وشي، په تېره دفوكلور په باب دختيځې او لويديځې نړۍ په نظرياتي څېړنو کې. څرنګه چې پوهنتوني ځوانانو ته پوره شوي او دقيق شوي مسايل ښوول ارزښت لري، نو داكتاب او يايې ځينې برخې، بايد دليسانس ترسويې پورته، دماسترۍ او ډاکترۍ دتدريس لپاره ومنل شي.بلکې ما لا اورېدلي، چې ارواښاد روهي داكتاب دماسترۍ دورې دزده کوونکو لپاره ليکلی دی.

## ۵–ګړنی ادب:

داکتاب عبدالکريم پتنګ ليکلی او عرفان مجلې په۱۳۵۷لمريز کال په کابل کې خپور کړی.کتاب: لنډۍ، دماشومانو سندرې، ساندې، دښځواتڼ او داتڼ سندرې، متلونه، دمتلونو کيسې، نکلونه او دودونه رانښيي. چې دپوهنتوني تدريس لپاره ترې دمرستيال درسي کتاب په توګه استفاده ممکنه ده.

## ٦–غرنۍ سندرې:

داکتاب محمد عارف غروال ليکلی او راټول کړی،په ۱۳٦۰م لمريزکال دافغانستان دعلومو اکاډمۍ په ۲۰۰مخونو کې خپور کړی،په پيل کې دڅېړندوی حبيب الله رفيع يوه اوږده سريزه هم ورسره مله ده. داكتاب دپکتيا دولسي خلکو سندرې او منظومې راپېژني او بيلګې يې وړاندې

www.sikaraam.com

کوي. لنډکی، سروکي او بیتونه، داتې دمیدان بیتونه او ښځینه ولسي ادبیات یې مهم عنوانونه دي.

## ۷–د پښتو د ولسي ادب لارې:

دا کتاب څېړنوال دوست محمد دوست لیکلی، پښتو ټولنې په ۱۳۵۶م لمریزکال په کابل کې خپور کړی، دمخونو شمېر یې له سریزو او نښلونو پرته ۱۵۲دی، داکتاب دپښتو فوکلور پېژندنې او ژانرونو په اړه په زړه پورې بحث لري.

ددغه کتاب په باب باید یاده کړو چې:

۱.داکتاب، فوکلوریک ژانرونه زیاتره دتیوریکو اساساتو په بنا څېړي او ځینې مواد یې دمرستیالو درسي موادو په حیث داستفادې وړ دي.

۲.داکتاب: ببولالې، دهوتکو نارې، ولسي تاریخي حماسي سندرې، ولسي ننداري او تیاتر او... هم دځانګړیو ژانرونو په توګه راپېژني. وروستیو څېړنو ښوولې، چې داځانګړي ژانرونه نه دي، دنورو فوکلوریکوژانرونو برخې دي.

۳.ځینې نور فوکلوریک ژانرونه داکتاب نه راپېژني، لکه: چاربیتې، بدلې، لوبې، سلسلې، برغازۍ او....

۴.ددغه کتاب مولف په دې نظر دی، چې خاصې ولسي سندرې دفوکلور برخه نه شي کېدی.

## ۸–د ادب د تیورۍ اساسونه:

داکتاب هم څېړنوال دوست محمد دوست لیکلی او له سریزې پرته په

www.sikaraam.com

۳۷۵مخونو کې په ۱۳۶۵لمریزکال دچاپ او خپرونو دولتي کومېټې په کابل کې خپور کړی. دکتاب له نامه نه ښکاري، چې اصلي هدف یې دادبي تیورۍ دایجاد او پراختیا څېړنه ده او داچې ادبیات دکومو تیوریو په رڼا کې باید وڅېړل شي. داکتاب زیاتره ددیواني او عروضي ادبیاتو دنظم او نثر پربرخو تیوریک بحثونه وړاندې کوي. دفوکلور په برخه کې دبدلو او نکلونو په اړه هم لږ بحث لري.

## ۹-پښتو منظومې قیصې:

داکتاب عبدالکریم پتنګ لیکلی او ټول کړی، زېري جریدې په ۱۳۵۷لمریزکال په ګډه ټولګه او په ځانګړې بڼه دواړه ډوله خپور کړی، دمخونو شمېر یې له سریزې پرته ۱۲۲ دی. او یوازې دپښتو منظومو کیسودمعرفۍ په باب مفصل بحث لري.حتي په ټول کتاب کې دانه دي لیکل شوي، چې منظومې کیسې دفورم له پلوه کوم ډول جوړښت لري، یا څېړونکي یې څه ډول ګڼي او اصلا باید څنګه وي؟

## ۱۰-فرهنګ ادبیات پښتو:

داکتاب سرمحقق زلمي هېوادمل په دري ژبه لیکلی، درې ټوکه لري، لومړی ټوک یې په ۱۳۵۶، دویم یې په ۱۳۶۵او دریم یې په ۱۳۶۶لمریزکال په کابل کې خپور شوی. دریم ټوک یې دچاپ او خپرونو دولتي کومېټې له سریزو او سمونلیک پرته په (۳۰۳)مخونو کې خپور کړی. لومړی او دویم ټوکونه یې دشاعرانو او پښتوکتابونو معرفي لري، درېیم ټوک یې دپښتو ادبي اصطلاحات او ژانرونه، ادبي ټولنې، مجلې، په

www.sikaraam.com

ادبیاتو پورې اړوند ځینې دودیز اصطلاحات.. هم راپېژني.

داکتاب قاموسي بڼه لري او په لنډه توګه له وړو بیلګو سره فوکلوریک ژانرونه هم راښیي.

## ۱۱-دغروړنو څوکې:

داکتاب عبدالکریم پتنګ لیکلی، په ۱۳۵۹لمریز کال دکابل پوهنتون دژبو او ادبیاتو پوهنځي په ۹۴مخونوکې خپور کړی. کتاب په پیـــل کـــې تریادښتونو وروسته دسرمحقق هېوادمل یوه اوږده او هراړخیـــزه څېړنیـــزه سریزه هم لري، چې دفوکلوریکو موادو په راټولونګ په کې دکار خبرې شوي دي.

داکتاب دواده سندرې، فالونه، داتڼ سندرې، کیسی، دماشومانو سوال وځواب، جامې او ګانې راښیي.

## ۱۲-پښتو ټپه:

داکتاب پروفیسور داورخان داود لیکلی،په ۱۹۹۵میلادي یونیورســـټي بک ایجنسي په پېښور کې خپور کړی.دویم اودریم چاپونه یې هم شـــته. دکتاب نوم داسې ښيي، چې ګنې یوازې دلنډیو.په باب خبرې لري، خو چې منځ یې وګورې، نو دپښتو بدلو، لوبو، نیمکیو، چـــاربیتو، داســـتانونو او بېلابېلو نورو بدیعي صنایعو په باب هم معلومات لري.خوبشپړ نه دي او دا یاد کړي ژانرونه یې هم نورو څېړنو ته اړ دي.

## ۱۳-پښتو ولسي ادبیات:

داکتـــاب ســـرمحقق زلمـــي هېوادمـــل لیکلـــی او پـــه

www.sikandaam.com

۱۳۷۶لمریز=۱۹۹۷میلادي کال دساپي دموقوفاتو اداري په پېښور کې خپور کړی. دخپرندوی له یادښت او دحبیب الله رفیع له سریزې پرته ۱۶۱مخونه لري.

داکتاب په پښتو فوکلور دشوي کار دجاج اخیستو، څېړنې او کره کتنې په اړه مهم بحثونه لري،چې لاربښودی ارزښت لري. ډېر هغه څه چې مخکنیو، دفوکلور یکو ادبیاتو په نامه یاد کړي او باید یاد شوي نه وای، په دغه کتاب کې په علمي او سیستماتیک ډول ترڅېړنې لاندې نیول شوي او دفوکلور پېژندنې نوې لارې او لوري یې راښوولي دي.

دکتاب نوم «پښتو ولسي ادبیات» په لومړي ځل لوستونکي ته ښيي، چې ګنې دابه دپښتو ولسي ادب ژانري پېژندنه او بیلګې وړاندې کوي، خو داسې نه ده، بلکې دا څېړنه او کره کتنه ده. یعنې داکتاب په خپله ولسي ادبیات نه دي، بلکې دولسي ادبیاتو په باب څېړنه ده.

ځوک چې دفوکلوراو فوکلوریکو ادبیاتو په باب څه لیکي، باید داکتاب خامخا ولولي، ځکه، چې دمخکنیو سهوو او غلطیو دښودانې یوه غوره مرجع او سرچینه ګڼل کېدی شي. ماهم خپله دا راټولوونه+ څېړنه زیاتره دهمدغه کتاب دنظریاتو په رڼا کې بشپړه کړې ده.

دپښتوفوکلور دژانرونو دپېژندنې په اړه تردې زیات نورکتابونه هغه دي، چې زیاتره په ځانګړي ډول دیوه فوکلوریک ژانر په باب دي او تدریسي ارزښت نه لري، خو دتدریسي کتابونو لپاره ترې دمرستیالو هغو په توګه استفاده کېدی شي. داکتابونه ډېر دي. دلته به یې دټولو ښودل زموږ کار لا پسې اوږ دکړي. زه یې یوازې په لنډه پېژندنه بسنه کوم:

www.sikaraam.com

## ۱۴-دکوچنيانو ادبيات:

داصف بهاند تاليف.په ۱۳۶۶لمريز کال په کابل کې دچاپ او خپرونو دولتي کومېټې خپور کړی دی.

## ۱۵-انګی:

دپروفيسور سيال کاکړ تاليف. پښتو ادبي بورډ په ۱۹۸۷ميلادي کال په کوټه کې خپور کړی دی.

## ۱۶-پښتو فوکلور کې اړ:

داکتاب پروفيسور داورخان داود ليکلی، په ۱۹۹۷ميلادي کال په خپله ليکوال خپور کړی او دکيسيو(اړونو) په باب مفصله څېړنه لـري. ځينـې نورفوکلوري ژانرونه يې هم په غير منظمه بڼه، لږو ډېر ګرولي دي.

## ۱۷-بديع او دپښتو شعر:

داکتاب اورنګزېب ارشاد ليکلی، په ۱۳۶۹لمريزکال دانش کتابخانې په پيښور کې خپورکړی. دکتاب اصلي موضوع په عروضي ادب کـې د بديعي صنايعو معرفي ده، ځينې فوکلوريک ژانرونه قسما راپېژني.

## ۱۸-کاکړی غاړې:

داکتاب محمدصادق ژړک ليکلی او راټول کړی، پښتو ادبي غورځنګ کوټې خپورکړی،چاپکال نه لري، خو د۲۰۱۱م کـال شـاوخوا چـاپ ښکاري. دکاکړيو غاړو په باب نوې او په زړه پورې -اوږده څېړنـه ده، دکاکړيو بېلابېلې خوندورې نمونې هم لري.

## ۱۹-په کاکړيو غاړو کې سوچه توري:

داکتاب هم محمدصادق ژړک راټول کړی، په ۲۰۰۵م میلادي کال پښتو ادبي غورځنګ کوټې خپور کړی دی.

## ۲۰-د پښتو پرشفاهي داستان یوه تحلیلي څېړنه:

دکاندید اکاډمیسن محمدابراهیم عطایي تالیف او څېړنه ده، په ۱۳۷۰لمریزکال دافغانستان داطلاعاتواو کولتور وزارت خپور کړی. دداستانونو په باب اوږده تیوریک بحثونه لري.

دغسې دپښتو لنډیو، متلونو، سندرو، چاربیتواو نورو څېلونو په باب بېلابېل کتابونه په کابل، پېښور، کوټه او نورو سیمو کې لیکل شوي او خپاره شوي، په اردو ژبه هم دپښتو فوکلور ښوونې په باب ځینې ځانګړي او ګډ کتابونه لیکل شوي، چې تفصیل یې دلته نه شي راوړل کېدی اوځینې یې دهمدغه کتاب داخځلیکونو په برخه کې کتلای شئ.

## دا کتاب:

داکتاب «دفوکلورپېژندنې لارښود» اصلا دننګرهار پوهنتون دژبواوادبیاتو پوهنځي دپښتو څانګې زده کوونکو ته دتدریس په مخه لیکل شوی.خو که په ځینونوروبرخوکې هم لوستونکو ته خیر ورسولی شي، بده نه ده.

داکتاب «دپښتوفوکلور پېژندنې لارښود» نومېږي. داځکه، چې ځینې نور نومونه ترما مخکې کارول شوي او ځینې راته ددغه کتاب لپاره وړ ونه برېښېدل. دفوکلور پېژندنې لارښود ترځینونورو فوکلوري کتابونو داتوپیرونه راښوولی شي:

۱.کتاب دپوهنتوني تدريس په بنسټ ليکل شوی، فوکلوريک ژانرونه، په لنډه توګه راپېژني. ژبه يې ياتدريسي ده يا تدريس ته نژدې ده.

۲.هڅه شوې، دموضوع په باب تردې وړاندې ليکل شوي او خپاره شوي کتابونه وکتل شي او ځينې مهم نظريات يې په دغه کتاب کې شامل کړای شي. په دې توګه داکتاب دمخکنيو ليکل شويو کتابونو دټولو نظرياتو يو نچوړ او لنډيز دی.

۳.دکتاب ژانري وېش دفوکلور په باب دوروستيو نظرياتو په بنسټ شوی، ځينې فوکلوريک توکي، چې اصلاً ځانګړی ژانرونه، نه دی او ترما مخکې نورو ژانرونه ګڼلي له دغه کتابه ايستل شوي. لکه: ببولالې، چې پخوا ځانګړی ژانر ګڼل شوی، خوبايد دبډاديو سندرو ترکتار لاندې يې وګورو. دبې بې دستې سندرې چې دبډاديو سندرو يوډول دی، سولې چې دبډادۍ سندرو يوډول دی، دوړو مشاعرې، چې دماشومانو سندرو يو ډول دی. دنکلونو نارې، داتڼ نارې، تاريخي نارې، چې درې واړه يو ژانر دی او پخوانيو بېل ګڼلی. سوزخواني، چې دساندو يوه برخه ګڼل کېدی شي او يا که دفورم په بڼه کتل کيږي، نو ځينې يې په چاربيتو، بدلو او يا نورو فورمونو ورګډيږي.هڅه مې کړې دوېش داوړ مناسبتونه په پام کې ونيول شي.

۴.هغه ستونزه، چې دفوکلور او ادب دوېش او ټاکنې ترمنځ شته، هڅه مې کړې څرګنده يې کړم. لکه داچې فوکلورڅه دی او ادب څه دی، فوکلوريک ادب بايد کوم وي؟. دلته داسې وېش مطرح شوی، چې فوکلور او فوکلوريک ادب سره جلا کوي. هغه معيارونه، چې دادب لپاره ټاکل

شوي، هغه باید په فوکلور تطبیق کړو، کنه، په دې توګه ځینې فوکلوریک اثار، چې خالي نظمونه دي او هنري ارزښتونه نه لري، هغه باید له فوکلور نه جلا کړو.

که څه هم په دغه کتاب کې دبېې له مخې دابرخې نه دي جلا شوي، ځکه، چې ځینې جوړښتونه له نوروسره اړیکي لري، خو لږترلږه زده کوونکي باید داخبره درک کړای شي.

۵.دبیلګو په راټولولو کې هڅه شوې، کوم توکي،چې هنري ارزښتونه لري، باید وښودل شي، له وسې سره سم مې غوره نمونې ټاکلي دي.

٦.په دې کتاب کې راټول شوي، ټول توکي ددې لپاره دي، چې زده کوونکي یې ولولي، له دې ورهاخوا داسې مهم ژانرونه–غالبا– نه شته، چې زده کوونکو ته مهم وي اوله لوستلو پاتې شي. خو په دې برخه کې باید څېړنې روانې وساتو.

## مېتود

که دڅېړنې اوسني عام تعریفونه او بنې وګورو، نو دتاریخي مېتود ، سروې او تجربي مېتود په بڼو وېشل شوي. دلومړني ډول په دریو څانګو کې تاریخي ، قانوني او اسنادي یاد شوي، زما دکار مېتود ښایي په دغو دریو برخو کې ولټول شي. تشریحي بڼه په دغو ټولو کې کتی شو، ځکه چې ماته دبېې له مخې ددغه کتاب دوراندې کوونې مېتود دتاریخي ترڅنګ زیاتره تشریحي ښکاري،خو لنډ تشریحي. هغه موضوعات، چې کره کتنې او ارزونې ته اړه لري، دلته ځای نه لري. یونیم ځای ډېرمهمې مسلې– چې هرکله په کې دښوېیدو امکان پیښیږي– په نښه شوي، په ځینو ځایونو کې

www.sikaraam.com

دکتابونو او ژانرونو دناسمو تعبیرونوپه باب لنډې یادونې راغلـــي اویاپـــه لمنلیک کې ځای شوي. که څېړنې کوو، دغه ډول مسلې باید وغځوو او ډېر دلایل ورته پیدا کړو. دلته دکتاب له هدفونو سره هماغومره شرحه په کاروه، چې شوې ده.

په لومړي څپرکي کې دفوکلور عامه پېژندنه ده، چې دبېلابېلو نظریـــاتو ټولګه ده، په قاموسونو او دفوکلور څېړنې په ځینو نـــورو کتـــابونو کـــې دفوکلور په اړه بېلابېل تعبیرونه راغونډ شوي، په دې برخه کې ډېرو، ډېرې خبرې کړي، چې دانتخاب مسله هم په کې ستونزمنه ده، خو ما یې، چـــې کومې، زده کوونکو ته مهمې ګڼلې، راخیستې مې دي. پـــه ځینـــو نـــورو کتابونوکې بیا ځینې خبرې تکراري شوي، ما هڅه کړې لومړی لاس ماخذ وټاکم او دتکرار مخه ونیسم.یونیم ځای په کې ځینې نظریات ارزول شوي هم دي.

په دویم څپرکي کې دپښتو منظوم فوکلور عام ژانرونه معرفي شوي. عام ژانرونه یعنې هغه، چې تولیدوونکي (شاعران) یې معلوم نه دي. هغه چـــې شاعران یې معلوم وي، هغه په درېیم څپرکي کې په خاصـــوژانرونو کـــې معرفي شوي، داوېش ترما مخکې ښاغلیو، څېړنـــدوی حبیـــب الله رفیـــع، سرمحقق زلمي هېوادمل، غوټۍ خاورې او نورو ښوولی، چې سم دی او ما هم په هماغه پېروي خپل کار بشپړ کړی، په خپله ددغه وېش په منځ کـــې ځینې ستونزې، چې ما درک کړي، هغه مې په خپل انـــد ســـمې کـــړې دي.خاص منظوم فوکلوریک ژانرونه ددغه کتابګي درېیم څپرکی جوړې.

څلورم څپرکی، منثور فوکلوریک ژانرونه دي. یعنې په نثري ژبه وړاندې

www.sikaram.com

شوي ژانرونه، چې ځينې يې ادبي ارزښت لري، خو ځينې به يې ښـــايي دا ارزښتونه ونه لري. دغه برخه ددې لپاره ښوول شوې، چې پوهنتوني ځوانان دپښتني فوکلور هغه عمومي برخې وپېژني او دوېش بنې يې زده کړي، که څوک يوازې فوکلوريک ادب راپېژني، ځينې دانثري ژانرونه په کې بيا ځای نه لري، لکه: ستړي مه شي او مخه ښه، تکيـــه کلامونـــه، دعاګـــانې او ښېراوې، لوړې اوورته نورځينې ژانرونه لکه دماشومانو او دميندوسندرې او ياددغو ځينې برخې. په دې برخه کې دا نظر، چې ښکلا پېژندنه او ادبـــي تعبيرونه په دغو ډولونو تطبيقولی شو، کنه ؟ لاډېرو نورو څېړنو تـــه اړتيـــا لري.

دهرسرليک په پای کې دهغه منابعو په يادون سرښېره، چې ګټـــه تـــرې اخيستل شوې، زده کوونکو ته داړونده نورومهمو کتابونو ياد راغلی، چې که له اوږدو لوستونو سره مينه لري، کتلی يې شي. ځينې داکتابونه که څه هم لږ څه په ستونزمنه پيدا کېدی شـــي، خـــو يـــادون يـــې راتـــه مهـــم برېښېده.ښايي په راتلونکي وخت کې بيا خپاره شي.

هڅه مې کړې، دژانرونو ترپېژندګلوۍ وروسته نوې بيلګـــې ومـــوم. دفوکلور دهر ژانر په باب ډېرې بيلګې موندل کېدی شي، خو ټولې يې کله ادبي ارزښتونه نه شي ښودی اويا داچې دکليمو دانتخاب ښه يې سيمه ييزه ده.دلته راوړې بيلګې ترډېره دمانا او مفاهيمو دښه درک او دعامه پوهاوي وړتياوو ته په کتنه غوره شوي، خو ځينې يې، چې پخوا خپـــرې شـــوي او ترهغې سملاسې بله غوره بيلګه نه شوه موندل کېدی، هماغه پخوانۍ ټاکل شوي دي.

www.sikaraam.com

دکتاب اخځونه (ماخذونه) دليکوال دتخلص نه بلکې دنامه په بنسټ ليکل شوي، يو خو داخځ ښوداني دابنه هم په څېړنو کې راغلې، بله داده، چې کله پوهنتوني زده کوونکي، دتخلصونو له درک سره هومره اشنايي نه لري، نو داځل ما دا لار تاکلې، که ترنورو ښه نه وي، نو لږترلږه ناسمه هم نه ده.زه هم دځينو نورو غوندې په دې باور يم، چې څېړونکی بايد دخپلو لوستونکو په غم کې وي، چې څرنګه يې ښه پوه کولی شي، هماغسې ورته غوره ده.دلته دژانرونو دپېژندګلوۍ په پای کې بيا لومړی دکتاب نوم راغلی او بيا دليکوال. داځکه، چې دغلته کتاب لومړی درجه ارزښت لري او هلته په پای کې ليکوال او کتاب دواړه. په متن کې چې له کومو اخځونو ګټــه اخيستل شوې، سربېره پردې، چې اخيستنې يې په وړو قوسونو کې نيــول شوي او دکتاب نوم او مخ ورته ښوول شوی، د اړونده سرليک په پای کې په هغه کتابونوکې، چې دزده کوونکو دپراخه مطالعې په هــدف ښــوول شوي، په ګډه ښه راغلي او په همدغه ليکلړ(لست) کې د مــتن داړونــده اخيستنځي هدف هم په کې په نظر کې نيول شوی. يعنې داچې که ديــوه فوکلوريک ژانر دپېژندنې په پای برخه کې هغه اخځونه، چې استفاده ترې شوې، له هغوسره ګډ ښوول شوي، چې هدف ترې داستفادې دځای ښوول نه، بلکې زده کوونکو ته داضافي مطالعې لپاره دکتاب او ليکوال پتــه ورکول دي.

دفوکلورڅېړنې او ښوونې ډګر پراخه دی، هرڅومره خبرې پــه کــې ځاييدای شي او هرڅومره خبرې په کې ببځايه نه دي، خو زموږ دموضوع دهدفونو لمن تنګه ده او ټولې خبرې نه شو ځاييولی.

www.sikaraam.com

له خپل درانه استاد الحاج څېړندوی حبیب الله رفیع نه مننه ضرور ده ، چې دپښتو فوکلور بې بها ملغلرې یې تربل هرچا په زړه پورې خوندي کړي او درانه استاد سرمحقق زلمي هېوادمل ته خو بیا همدومره نورعقیدت هم، چې ددغه ملغلرو وېش یې په نویو نظریاتو وړاندې کړی دی.

زه خپلې خبرې دلته بس کوم اود پښتني فوکلورپېژندنې مضمون ښکلا او څلا ته داټپه غبرګوم، چې:

*ستا د ښایست ګلونه ډېر دي*

*څولۍ مې تنګه زه به کــــوم-کــــوم ټولومــــه*

په درنښت

پوهنیار محمد داود وفا

جلال اباد

د۱۳۹۲لمریز کال دوري شپږمه

د۲۰۱۳م میلادي کال دمارچ ۲۷مه

www.sikaraam.com

لومړی څپرکی

# فوکلورپېژندنه

www.sikaraam.com

## په دغه څپرکي کې به يې لولئ:

-فوکلور څه دی؟

-فوکلور د بهرنيو پوهانو له انده

-فوکلوريک ادبيات

-د فوکلور پيدا ينبت او سرچينې

-د فوکلور ارزښت

-له نورو پوهنو سره د فوکلور اړيکې

-فوکلور د ژوند پېژندنې په توګه

-فوکلور د کړنې ادب په توګه

او نور.

www.sikaraam.com

# فوکلور پېژندنه

***د دغه بحث د سريزې په دود:***

فوکلور يا په بله ژبه فولکلور د يوناني ژبې مرکبه کليمه ګڼلی شو، چې د خلکو د پوهې په مانا ياده شوې، دغه ټکی د لفظي مانا له مخې د ژوند هره برخه را چاپېروي، لکه د زوکړې له وخت نه بيا تر مړينې، د يوه ملت، يا ولس، يا هېواد، يا قوم ټول کړه وړه د فوکلور د اجزاوو په توګه د مطالعې وړ ګڼل شوي. په تېره هغه څه چې يو ولس له نورو نه سره جلا کوي. لکه ژبه، دودو دستور، د ځينو ځانګړو ژوندنيو پېښو په باب د يوه ولس ليد لوری او اندود ياد فکر ډول.

د فوکلور د مطالعې ساحه پراخه ده، ځينې وايي له اسمان نه لاندې د ځمکې پر سر ټول هغه کړه وړه، چې په بېلابېلو ټولنو کې يې انسانان ترسره کوي، د هر ولس د ځانګړي فوکلور برخه ګڼل کيږي، ځينې نور بيا وايي، فوکلور د انسانانو يوازې هغه کړه وړه رانيسي، چې له نورو نه مختلف دي. يا هغه، چې يو ولس يا يوه انساني کتله له بلې هغې نه سره جلا کوي. يا هغه بڼه، چې د انساني ټولنو ترمنځ د بيلتون کرښې کاږي.


www.sikaraam.com

دفوکلور دکلیمې په باب ځینې وایي، چې دا یوه انګلیسي کلیمه ده، ځیني وایي، فوکلوریوه یوناني کلیمه ده، ځینې یې بیا فرانسوي بولي، په فرانسوي، یوناني، او انګلیسي ژبو کې دا کلیمه په همدغه اوسني جوړښت ویل کیږي، خو څرنګه چې ددغه ژبو ځینې لغتونه په یوناني او ځینې یې دهغې ژبې دمور لاتیني پورې اړه لري، فکر کیږي، چې دا کلیمه به اصلا لاتیني کلیمه وي او دنورو ژوندنیو اصطلاحاتو په څېر دغو ژبو ته راننوتې. ځیني اوسني انګلیسي ژبې، د foklore پرځای یوازې د fok توری کاروي، نو دا ښیي، چې په نورو ژبو کې باید دا ټکی لومړی د فوک په بڼه وکتل شي. د «لور» لاحقه، وروستی جوړښت دی.

څنګه چې دفوکلور دنومونې دژبې په ریښه کې نظرونه بېلابېل دي، همداسې، دفوکلور دسکښت او جوړښت په باب هم نظرونه بېل دي ورسره دفوکلور دچوکاټونو په اړه هم نظرونه ډېر دي. یو شمېر څېړونکي په دې اند دي، چې فوکلور دژوندانه هره برخه مطالعه کوي، یا په بله ژبه دفوکلور په چوکاټ کې دژوندانه ټول اړخونه شامل دي، په تېره هغه، چې یو ولس له نورو هغو نه سره بېلوي، لکه ډوډۍ خوراک، کالي اغوستل، واده کول، دمړي ښخول، اړیکي، دپېښو په وړاندې تصور کول او ګڼ داډول نور ځایونه.

ځینې بیا وایي، فوکلور یوازې هغه احساسات ګڼل کیږي، چې دپېښو پروخت دیوه ځانګړي ولس له خوا چې په یوه ګډه ژبه خبرې

www.sikaraam.com

کوي، څرګندېږي. په دې مانا چې فوکلور يوازې د خلکو د پوهې هغه برخه ده، چې په ژبني توکونو کې ترچوکاټ بندې، وروسته په ځانخبرې او يا ناځانخبرې کې راڅرګند شوي وي.

دلته په پيل کې د فوکلور کليمې په اړه د ځينو قاموسونو او پښتنو څېړونکو نظريات وينو:

# فوکلور څه دی؟

مشهور پارسي قاموس(*فرهنگ عميد* ) ليکي:

«فولکلور:فرانسوي ټکی دی، دعوامو پېژندنه،دولسي خلکو دادابو، دودونو او تصنيفاتو پوهنه يا علم. د سيمه ايزو عقيدو، افسانواو ترانو ټولګه.»

*[فرهنگ عميد(دويم ټوک) ۱۵۵۵ م مخ]*

معين فرهنګ ليکي:«فولکلور فرانسوي ټکی دی folk د خلکو او lore د هغو پوهه. هغه علم، چې د يوې سيمې د اصلي پخوانيو استوګنو له خوا د هغو ددود و ادابو(اخلاقو)، کيسو او ولسي تصانيفو نه جوړ دی. يا خلک پېژندنه.»

*[فرهنگ فارسي معين۱۷۷۶يم مخ(دويم ټوک)]*

د څېړندوی محمد صديق روهي په نظر:

«فوکلور د زيار ايستونکو د هلوځلو او ژوند پېښو هنداره ده، چې په هغه کې د خلکو اجتماعي سيکالوژي، د

www.sikaraam.com

دوی انګېرنې او برداشتونه، دهغوی ارمانونه او غوښتنې، د دوی ذوق او د پوهې سطحه،ددوی مبارزې او فعالیتونه او په پای کې ددوی دباطني نړۍ ژورتیاوې منعکسیږي. سره له دې چې په فوکلور کې جادو، خرافات او دې ورته نور عقاید او تجربې هم شاملې دي، خو که موضوع په ژوره او هراړخیزه توګه وڅېړل شي، نو دلرغونو انسانانو جادو او خرافات هم، له حیاتي اړتیاوو سره نېغې اړیکې درلودې، دځینو خرافاتي اړخونو په نفې کولو سره له فوکلور څخه د تربیتي مقصدونو او ستیتیکي غوښتنو دپوره کولو لپاره هم استفاده کیږي.»

*[« د کوچنیانو ادبیات »۲۱ م مخ]*

کاندید اکاډمیسین محمدصدیق روهي دڅېړنوال دوست محمد دوست دکتاب« دولسي ادب لارې »په سریزه کې بل ځای لیکي:

«دفوکلور داساساتو دڅېړنو په ترڅ کې باید دفوکلور او اجتماعي بشرپېژندنې (serial anthropology ترمنځ حدود څرګند وي.پخوانیو لیکوالو دغه دواړه موضوعګانې سره ګډې کړې وې.»

ددې مانا داده، چې عمومي بشرپېژندنه بیله موضوع ده او دبشرپه مټ تولیدشوي مادي وسایل او دهغو په وړاندې احساسات جلابحث دی، دلته دی، چې فوکلورپه تیوریک لحاظ یوازې په هغو مسلوډېر راڅرخي چې له احساساتو نه سرچینه

www.sikaraam.com

اخلي.

څېړندوی حبیب الله رفیع لیکي:

«فوکلور ته په بېلابېلو ژبو کې د فرهنګ عامه، خلک پېژندنې، توده شناسي، دانش عوام، خلقیات او د اساطیرو او میتولوژۍ نومونه ورکړل شوي، چې هره یوه د خلکو پېژندنې او د خلکو د فرهنګ مانا لري»

*[د خلکو سندرې، دریم مخ]*

همدا لیکوال بل ځای لیکي:

«د اصطلاح لومړی ځل انګریزي لیکوال تامس په ۱۸۴۶ میلادي کې د همدې مفهوم (د خلکو پوهه او حکمت) لپاره وضعه کړه، خو محققین په پښتو کې «د خلکو پوهه» د فوکلور جامعه او مانعه مانا نه ګڼي، ځکه، چې د خلکو پوهه یو عام نوم دی، چې د دوی ټول علوم، زده کړې او تجربې په کې مطالعه کېدای شي او دا نو فوکلور ته نه شو اختصاصولی....».

*[د څېړندوی رفیع لسکنبلې لیکنه(فوکلور څېړنه)]*

فضل میر ختک وایي:

«د عوامو مجموعي ژوند او د ژوند طور طریقو ته فوکلور وایي. دا داسې ژوندی طور و طریقې وي، چې نه مري او نه زړېږي. ځکه چې داد ماضي سره تعلق نه پرې کوي، او په وړاندې وختونو نظر لري، او ځان ته لاره پیدا کوي، لکه زمونږ دودونه دستورونه.»

*[فضلیات، ۳۱۲م مخ]*

www.sikaraam.com

پروفیسور داور خان داود لیکي:

«فولکلور =(folklore) د انګریزي ژبې یوه مرکبه کلیمه ده، چې د دوو کلیمو «فولک» (folk) او لور (lore) نه جوړه ده.د فولک (folk) لغوي معنی ده ولس یا خلک او د لور (lore) معنی ده، پوهه یا زده کړه. د غسې د فولکلور د مرکبې کلیمې معنی شوه، د خلکو زده کړه یا ولسي پوهه.

په ادبي اصطلاح کې فوکلور د یو ولس رسم و رواج، تهذیب و تمدن، توهماتو، عقایدو، روایاتو، کړه وړه، واده ښادۍ، مړې ژوندي، تعصباتو، خوښۍ، ناخوښۍ، دژوند طورو طریقو او داسې نورو سره تعلق لري.»

*[پښتو فولکلور کې ار ۲۰ م مخ]*

اکسفورډ ورډ پاور ډکشنري لیکي:

*Folk (fok): traditional in a community, of a traditional style: robin hood is an Englihs folk hero. folk music. afolk song.*

*ژباړه: فولک (فوک). په یوه ټولنه کې دودیز والی یا رواجیتوب. یا دودیزه بڼه. (لکه داسې چې وو ایو)، رابین هوډ په انګلیسي فوکلور کې د هیرو یا اتل په توګه پېژنو. فوک میوزک، فوک سندره، یا په بله ژبه فوکلوریکه سندره، فوکلوریکه موسیقي. یې دکارونې عامې اصطلاح ګانې دي.*

بل ځای د فوکلور کلیمه داسې لیکي:

*Traditional stories and beliefs.*

ژباړه: [فوکلور] دودیزو کیسو او [دودیزو] باورونو (عقیدو+ فکرونو) ته وایي.

[۲۸۲یم مخ؛ Oxford Word Power Dictionary]

امریکانا دایرة المعارف (The Encyclopedia Americana) لیکي:

(In its broadest sense, is the part of the culture, customs, and beliefs of a society that is based on Popular tradition. It is produced by the community and is usually transmitted orally or by demonstration. In addition to folk- tales and poetry-the principal subjects treated in this article-folklore includes arts and skills and music and dance.)

که په تولیزه او پراخه توګه ورته وکتل شي، فوکلور د یوې ټولنې د کولتور، دودونو او باورونو هغه برخه ده، چې په پراخه توګه د منل شویو روایاتو پر بنسټ رامنځته شوې وي، د ټولنو له خوا ایجاد او رانقل شوي دي او معمولاً په شفاهي بڼه او یا هم د نمایش او ننداري له لارې خپاره شوي دي.

دادایرة المعارف لږ وروسته بیا پسې لیکي:

(For most of this century and the last, folklore has referred to those products of the human spirit created outsied the written record and kept alive by oral transmission. It includes folk song and folktale, passed on to participatory audiences by an active tradition-bearer (a grand-parent a sea chanteyman, an

www.sikaraam.com

*Appalachian singer, a Negro with a repertory of blues or spirituals); folk dance, practiced in a group with ancient choreography and untutored leaders; folk plays and ancient lituals; traditional rules for stacking hay, for planting corn by the light of the moon, for building canals, or for decorating barns with hex singns; folk medicine; and weather lore.)*

د روانې پېړۍ په دوهمه برخه او همدارنګه په تېرې پېړۍ کې فوکلور کليمه د هغو بشري محصولاتو او اثارو لپاره کارول شوې، چې په ليکل شويو اثاروکې نه دي رانقل شوي او په توله کې په شفاهي بڼه سينه په سينه ژوندي ساتل شوي دي.

په دغو کې ولسي سندرې او افسانوي (خيالي) کيسې دي، چې سينه په سينه راتلونکو نسلونو ته رانقل شوي، معمولاً د (مجلسونو ګډونوالو ته د نيکونو له طريقه، د اپليچين سندرغاړي «Appalachian Singer»- د متحده ایالاتو په سويل کې يوه سيمه ده- له لارې، د يوه تور پوستي يا نيګرو له لارې چې جاز موسيقي ته يې لاسرسی لاره او يا روحاني وي له پلوه ژوندي پاتې شوي دي)؛ فوک ډانس چې په ډله ييزه توګه د لرغوني رقص له هنر «Choreography» سره د آماتورو مشرانو به لارښوونه ترسره کېږي او همدارنګه ولسي ننداري او لرغوني دودونه لکه د وچو واښو د راغونډولو لپاره دوديزې لارې چارې، د سپوږمۍ رڼا ته د جوارو کرنه، د کانالونو جوړونه، د غلې په

*انبارونو کې د هګز نښه (Hex Signs)، دوديزه درملنه او د اوبو او هوا په اړه ولسي روايات او افسانې هغه نورې لاې چارې دي چې فوکلور يې رانقل کړي او ژوندی ساتلی دی.*

*[The Encyclopedia Americana<498>r>11>volume.]*

درياب قاموس ليکي: «فولکلور: ولسي ادبيات، ولسي پوهه، فوکلور. فولکلوري: اسم صفت، له فولکلور سره متعلق لرونکی.»

*[درياب ۱۹۹۱ يم مخ]*

تاج اللغات ليکي: فولکلور، ولسي ادبيات، ولسي پوهه.

*[تاج اللغات جامع ۵۳۲م مخ]*

پښتو - پښتو تشريحي قاموس ليکي:

«فولکلور، فوکلور، فوکلار: د خلکو ادبيات، د ولس ادبيات، د خلکو فرهنګ، ولسي پوهه، د خلکو زده کړه، عاميانه اداب او رسوم، ولس پېژندنه، د خلکو علم(science):

۱. د کولتور هغه څانګه، چې د انساني مشخصو ډلو عنعنې، دودونه، نکلونه، افسانې، ارزښتونه، ټوټکې، کرکې، انګېرنې، شګومونه، اعتقادونه، طب، ټوکې او داسې نور په کې شامل دي. په شوروي اتحاد کې فوکلور د ولسي شفاهي ادب او خلاقيت، ولسي سندرو، ولسي موسيقۍ او ګډا په مفهوم استعماليږي او د فوکلور اصطلاح له شاعرانه (شفاهي) تخليق سره برابره راوړي.

۲. فولکلور د محتوا له نظره درې برخې لري:

۱. شفاهي فولکلور، چې اجزاوې يې دا دي: سيمه ايزې (محلي) ويناګانې، سيمه ايزنومونه، متلونه، سندرې (لنډۍ)، معماوې،

www.sikaraam.com

کېسې، ټوکې، دودونه، ولسي قوانین، د مشرانو درناوی، د کشرانو حقوق، ټولنیزې چارې(پګړه، اشر، بسپنه، نکلونه.. ).

۲.نیم شفاهي فولکلور:خرافاتي عقیدې، (کرکې، پال، ستوري پېژندنه) سیمه ییزې نڅاوې او ګډېدا، سیمه ییزې لوبې.

۳.غیرشفاهي فولکلور: سیمه ایز هنرونه، سیمه ییزه موسیقي، سیمه ییز خواړه، سیمه ییز ادب، سیمه ییزې اشارې....

۲.د دغو عناصرو علمي څېړنه:

فولکلور پنځه خاصیته لري، شفاها موجود دی، په عنعنوي توګه وجود لري، په نظم یا نثر دی، جوړوونکي یې معمولا معلوم نه دي، د کولتور د جزپه حیث په هر کولتور کې شته....»

*[پښتو - پښتو تشریحي قاموس(څلورم ټوک)۲۳۳۸ م مخ]*

ایراني لیکوال عربعلي رضایي لیکي:

«فولکلور، عامه فرهنګ، قومي فرهنګ: فرانسوي اصطلاح ده، چې «فولک» د «خلک» په مانا او «لور» د «پوهې» په مانا سره یوځای شوي، چې مراد ترې« د عقایدو مجموعه، فکرونه، کیسې، اداب او دودونه، ترانې، د یوه ملت لومړنۍ ساده ترانې او هنرونه »دي په اصل کې فولکلور د خلکو اداب-رواجونه، کیسې، افسانې، متلونه، او عامیانه ترانې دي چې سینه په سینه له یوه نه بل نسل ته ورغلي او په ګړني ډول د خلکو ترمنځ دود دي.

ځینو څېړونکو، دودیزمراسم، بڼې او د معمارۍ سبکونه هم د فولکلور یوه برخه ګڼلي.له هغه وخته، چې توماس پرسي د غزلو، ترانو او موزونو رومانونو(کیسو ) یوه ټولګه د «انګلیسي

www.sikaraam.com

شعرلرغوني یادګارونه» په نامه خپره کړه، دعامه فرهنګ څېړنه دبشپړتیا په لور روانه وه....»

*[واژه ګان توصیفي ادبیات ۱۲۰ م مخ]*

فرهنګ اصطلاحات فلسفي لیکي: «folk:قوم، قومي، خلک،(لکه) folk art، قومي هنر، folk community، قومي ټولنه یا اجتماع، folk mind، قومي بڼه یا فکر «فوکلور(folklore):قومي فرهنګ، ولسي ادبیات.» -folk psyehology، قومي اروا پوهنه.»

*[فرهنګ اصطلاحات فلسفه (انګلیسي-فارسي) ۱۷۸ یم مخ]*

دافرهنګ هم یو ځای دقومي فرهنګ ترڅنګ، دولسي ادبیاتو ټکی هم کاروي.

اوس مو چې په قاموسونو کې دولسي ادب ټکی هم وموند، نو دڅېړنوال دوست نظریات هم دکتو دي.

«فولکلور.....دولسي پوهې لمن بیخي پراخه ده، چې دولس دودونه، عادتونه، طب دکور جوړولو، کرنې پوښاک، خصوصیات، قصې، سندرې، معاملې او نور ورکې شامل دي. کله کله دولسي ادب نه مطلب یوازې دولس ادب هم وي، چې د(خلکو ادب)، (ولسي ادب)، (شفاهي ادب)،( فولکلوریک ادب) او خپله د(فولکلور) په نامه هم یادیږي....»

*[د پښتو دولسي ادب لارې، ۱ مخ]*

بل ځای دولسي ادب وېش داسې راښیي:

«ولسي ادب په دریو برخو وېشلای شو:

۱.منثور ادب(افسانې -کیسې).
۲.منظوم ادب(ولسي سندرې او نور)
۳.منظوم وزمه ادب(متلونه، منثورې کیسې)»

*[د پښتو دولسي ادب لارې(لومړی چاپ)۳۷ م مخ]*

دخېړنوال دوست په اند، که څه هم خاصې سندرې -چې شاعر یې معلوم وي- په ولسي فورم کې ویل شوي وي، خو معلوم ویونکي فوکلورنه شي تولېدولی. دا مسله که څه هم دیوې نظریې په توګه داورېدو وړده، خو ورسره دبحث وړ هم ده. ځکه کله چې دیوه اثر مثلا:چاربیتې یو ولسي یا په بله وینا نازده کړی شاعر په خپل دغه اثر کې ولسي احساسات دهماغو په ژبه وړاندې کوي، دهماغو (ولس) په چاپېریال کې رالوی شوي خیالونه او دپېښو په وړاندې غبرګون راوښیي، نو که شاعر یې معلوم هم وي، دځینو په فکر دغسې طرزتفکر له فوکلوره بهر نه شي ګڼل کېدی، ځکه چې داسې څه له هغونورو(عروضي یا دیواني هغه) سره دفکر، اندېښنو او اغېزپېژندنې له پلوه توپیر لري.

دخېړنوال دوست دانظریه هغه سرته رسیږي، چې ویل کېدل «ادب دادب لپاره» خو کله چې څرګنده شوه، چې ادب یوازې دادب لپاره نه دی، بلکې دژوند لپاره هم دی، نو دانظریه، دمعلوم شاعر شعر دهغه خپل ملکیت دی او بل څوک په کې دمداخلې حق نه لري، داوخت دانظر ارزښت پیدا کوي، چې دشاعر او لیکوال له خولې وتلې خبرې، دخلکو لپاره وي، دده دځان او ساعت تېرۍ لپاره نه وي او که وکتل شي، دتفریح او ساعت تېرۍ مسله په کې

www.sikaraam.com

دويمه درجه ارزښت مومي. زموږ د فوکلور تاريخي چاربيتي، چې د ډېرو پېښو تاريخونه يې ژوندي ساتلي، د ټولو ګډ مال ګڼلی شي او شاعر يې يوازې د موزونولو له امله د شاباسي وړ ګڼل کيږي.

په هره توګه دا دوه نظريې له پخوانه موجودې دي او ځينې برخې يې لا هم څېړنو او بحثونو ته لارڅاري، دادبياتو د تيورۍ پېژندنې په برخه کې: اروابښاد و - کانديد اکاډميسن پوهاند ډاکټر محمد رحيم الهام، کانديد اکاميسن محمد صديق روهي، څېړنوال دوست محمد دوست، کانديد اکاډميسن محمدا انور نوميالی (زياتره دانتروپولوجۍ يابشرپېژندنې په برخه کې) او ځينو نوروپاموږ نظريات وړاندې کړي، خو دانظريات لاپسې غځول او پراخول غواړي.

دکابل پوهنتون د دري ژبې او ادبياتو څانګې استاد پوهاند ډاکټر محمد افضل بنووال، په دې ورستيو کې په خپور کړي کتاب هم د دري ژبو په فوکلور کې يوازې ويناوې او ګړنې نه بلکې دژوندانه دودونه او دستورونه هم دفوکلور دا جزاوو په توګه دزده کړې لپاره دادبياتو پوهنځي زده کوونکو ته مهم ګڼي. لکه: کليوالي طبابت، لاسي هنراونور.

*[فولکلور شناسي ۱۳۴-۱۰۸ مخونه]*

کانديد اکاډميسين روهي يو ځای فوکلور او ادب داسې سره وېشي:

«دفوکلور پېژندنې له تاريخي سير څخه داسې جوتيږي، چې دفوکلور ساحه ډېره پراخه ده، شفاهي ادبيات (يافولکلوريک

ادبیات) دغه یوه برخه ګڼله کیږي، څرنګه چې د فولکلور ځینې برخې، د کولتوري انتروپالوجستانو یا اتنو لوجستانو له خوا په علمي توګه تر څېړنې لاندې راغلي، نو ځینو فوکلوریستانو یوازې د شفاهي ادبیاتو په ډګر کې خپلې څېړنې ترسره کولې او دغسې تمایل منځته راغی، چې د فولکلور نورې برخې کولتوري بشر پېژندنې ته ورپرېږدي. ښایي یوه بله وجه به یې داوي، چې ځینو پوهانو د فولکلوریستانو کارته په سپکه سترګه کتل او داسې تصور یې درلود چې فولکلور له مبتذلو او غیر علمي موضوعاتو سره سرا و کار لري، نو فولکلوریستانو خپله پاملرنه پر هغو برخو چې ستیتیکي ارزښت لري، متمرکزه کړه. په ځینو ځایونو کې فولکلور د خلکو د شفاهي ایجاداتو په مفهوم استعمالیږي.»

*[فولکلور پېژندنه ۲۰ م مخ]*

خو څېړندوی حبیب الله رفیع څلور کاله وړاندې (۱۳۸۸ لمریز) بیا هم د فوکلور پېژندنې یو نوی او جامع وبش وړاندې کړی:

«د خلکو ادبیات لکه سندرې، منظومې کیسې، نکلونه، متلونه، اصطلاحات، ټوکې، ترانې او نور دودونه، رواجونه، عنعنات، عقاید او طرز تفکر، ګډکارونه، اشر، بدرګه، ګوندي، لښکر او نور- پښتونولي او نرخونه، لکه روغه جوړه، ناغه نناتې، تیره برمته او نور- خپلوي دژوند اداب، د خپلوانو نومونه، د مشرانو درناوی، د کشرانو نازول او نور ورزښتونه او لوبې، لکه د ځوانانو او انجونو لوبې، د ځوانانو او پېغلو لوبې او د لویانو لوبې، شګونونه (بختونه)، فالونه، کرکې، کږنې، د خوبونو

www.sikaraam.com

تعبیرونه او نور ــ د ښځو دریځ کارونه او نور ـ ودانۍ، ابنیې عامیانه تاریخ، شجرې او نور ـ اخلي پخلی، د خوړو ډولونه او نور ـ دستورو، لمر، سپوږمۍ، ځمکې، اسمان، کهکشان او نورو موجوداتو په باب نظریې، دستورو اغېزې، فالونه، دلاس کرښې، دتندي کرښې او نور ـ جامې زېورات، دکورلوبې او نور ولسي ادب، لکه دبوټو او نورو په وسیله دناروغیو تداوي، وینه ایستل، پوستکی اغوستل، هډوکي تړل او نور ـ کرنه، دڅارویو او وښو دروزنې او جوړښت په باب معلومات، کرکیله او نور ـ دانسان پېژندګلوۍ او دهغه دپیدا ایښت په باب افسانې، او اساطیر دپښتني فوکلور موضوعات دي او دټولو ترشا افسانې او اسطورې ولاړې دي.»

*[دخېړندوی رفیع الله سلیکلې مقاله (فوکلور څېړنه)]*

# فوکلور د نورو له انده

د فوکلوریا فوکلوریکو څېړنو په اړه دنړۍ په هره برخه کې نظریات موجود دي. ځینې ډېر مهم به یې دلته ولیکو:

د فوکلور کلیمې په اړه دنورې نړۍ دپوهانو نظرونه هم بېلا بېل دي، ځینې دمادي ژوند وسایل او له وسایلو سره چال چلن ددغه پوهې یوه برخه ګڼي، خو ځینې یې بیا نه ګڼي. یو شی، چې دټولو ترمنځ ګډ ښکاري، هغه دادی، چې دفوکلور ارزښت، ساتنه او

www.sikaraam.com

پالنه د ټولو له نظره ارزښتمن ګڼل شوی، دلته يې په لنډه ډول يادوو:

نامتو روسي پوه ماکسيم ګورکی وايي:

«زه بيا ستاسو پام دغه ټکي ته را ګرځوم، چې فوکلور د خلکو دژبې محصول دی او دوی له دغه لارې ډېر پياوړي اتلان، چې په هنري لحاظ کامل ټيپونه (کرکټرونه) ګڼل کيږي، خلق کړي دي... موږ هغه وخت د مبارزو انسانانو په تاريخ پوره پوهېدلی شو، چې د فوکلور په باره کې يې جامع معلومات ولرو...»

*[د خلکو سندرې ۱۱م مخ]*

معاصر انګليس تاريخپوه تاين.بي Taeen.B وايي:

«د بشري تمدنونو د تکامل او يا تنزل په باره کې نه نژادي او نه محيطي عوامل موثر دي، بلکې دا له بشري روح سره اړه لري، په دې توګه ميتولوژي او فوکلور په دې برخه کې خورا ارزښت لري.د بشري او جغرافيايي عواملو له مخې د تمدن مطالعه يوه سهوه ده، ځکه چې دا ډول مطالعه د انسانانو په روحياتو اړه لري او موږ بې ځايه مادي علوم لکه بيولوجي او جيولوجي په دې لاره کې استخداموو.....»

*[د خلکو سندرې ۱۲م مخ]*

په وروستيو منځنيو پېړيو کې په لويديځ کې فوکلور ته د څېړونکو پام وراوښتی، خو دا پام په نولسمه او شلمه پېړۍ کې پراخه شو او بېلابېلو لوديز پوهانو نظريات ورکړل. په دوی کې په اوولسمه پېړۍ کې جان اوبري (۱۲۸۷ميلادي زوکړه)،

www.sikaraam.com

سر ادوارد تایلر» (۱۹۱۷-۱۸۳۲)، سر جیمزجورج فریزر (۱۹۴۱-۱۸۵۴) او «توماس» ۱۸۴۶ زیاتره دیادونې وړ دي.

د «کیپلنګ» انګلیسي پوه له انده په فوکلور کې لاندې دا موضوعات د مطالعې وړ دي:

د ځمکې او اسمان پیدا ایښت او بیلتون

د طبیعت د تاریخ خصوصیات

د انساني تمدن پیل

د مذهبي او اجتماعي عاداتو او دودونو سرچینه

*[د خلکو سندرې ۱۳ م مخ]*

سر جورج لارنس ګومي (۱۹۱۲-۱۸۵۳) په خپل کتاب handbook of folklore کې فوکلور داسې وېشي:

۱. دودیزې کیسې، عامیانه حکایات، داتلولې داستانونه، ترانې، سرودونه او نور

۲. دودونه، ولسي رواجونه او عادات، مراسم، لوبې او نور.

۳. عقیدې او خرافات جادوګري، نجوم، خرافي او موهومي تمرینونه.

۴. عامیانه ویناوې او خطابې: د خلکو دودیزې ویناوې، متلونه، هجایي شعرونه او کیسې.

*[د خلکو سندرې ۱۵ م مخ]*

د کورنیو او بهرنیو څېړونکو پورتنې نظریات په ټوله کې په دې راټول دي، چې فوکلور د خلکو هغه ولسي پوهه ده، چې د سیمه ایزچاپیریال د تعبیرونو په بڼو دانه، د ژوند انه په باب په منثوره او

www.sikaraam.com

منظومه بڼه ویل شوي وي، دا هم تقریبا په ټولو نظریاتو کې وینو، چې د ژوندانه رواجونه او دودونه هم د فوکلور برخه ده. خو په ځینو نظریاتو کې بیا فوکلور او ولسي ادبیات په یوه مانا ګڼل شوي، په داسې ترځ کې چې فوکلور یوه عامه کلیمه ده او ادبیات خاصه. په لاندې کرښو کې دا تفصیل لاروښانوی شو.

## فوکلوریک ادبیات

فوکلوریک ادبیات یوازې باید هغه وګڼو، چې په ګړنې ډول په کلیو، باندو او ولسونو کې د ښځینه وو او نارینه وو له خوا په منظوم او یا هم منثور ډول تولید شوي وي او هنري ارزښت ولري. د فوکلوري توکیو (ژانرونو) هغه برخې، چې هنري ښکنې او ښکلاوې ونه لري، په فوکلوریکو یا ولسي ادبیاتو کې نه شي حسابېدی.

هغه نورې برخې، چې د کلیوالي دودو دستور او د پېښو پروخت د ځانګړي طرز تفکر استازي کوي، کېدی شي، د فوکلور دیوې برخې یا جز په توګه د بحث وړ وبولو نه د فوکلوریک ادب په توګه.

سرمحقق هېواد مل هم دې ټکي ته پام کړی او یوځای لیکي:

«او سني زیاتره کره کتونکي دیوې ژبې هغه شفاهي توکي او لیکلي اثار ادبیات بولي، چې یوه موضوع په هنري بڼه بیان

www.sikaraam.com

کاندې یعنې داچې د هنرپه ښېګڼو اراسته او پسوللې وي.(۱)

دغسې چې او سني ادبي کره کتونکي هرډول لیکنې او منظومې په ادبیاتو کې نه شمېري، نودارنګه باید شفاهي ژبني توکي هم مورږ دشفاهي ادبیاتو په جمله کې تصنیف بندي نه کړو، داهغه ژبني شفاهي توکي دي، چې دیوې ژبې دادبیاتو د تاریخ په عمومي مباحثو کې پرې خبرې نه شي کېدای. بلکې دژبپوهنې دځینو څانګو څېړونکي او پلټونکي ترې ګټه اخیستی شي.»

*[پښتو ولسي ادبیات د سرمحقق هبوادمل تالیف. ۳۴-۳۳ مخونه]*

په دې توګه دده له انده دې نتیجې ته رسیږو، چې په خپله ځینې فوکلوریک منظوم ژانرونه مخامخ ادب نه دي، لکه دماشومانو سندرې، دمیندو سندرې، فالونه، کیسې او په نثري برخه کې وړې کیسې، اصطلاحات او محاورې، سترې مه شې او مخه ښه، تشبیهات او استعارې، تکیه کلامونه، دعاوې او ښېراوې، القاب او صفات، نومونه، روایات، عقیدې او اندود (طرز

---

۱. *هنر: دویلیم مورس له انده: هنرد غږونو، کلیمو، رنګونو، شکلونو، او حرکاتو یا نورو عناصرو داسې شعوري تولید او منطقي ترتیب ته وایي، چې د انسان د ښکلا پر احساس مثبت (مطلوب) اغېز وکړي*

***ارزښت:** هغه پرنیسپ، معیار یا کیفیت دی، چې دیوې ټولنې په مجموعي معتقداتو کې ګټور مهم، محترم او ضروري وي یا هغه کیفیت دی، چې په یوه شي کې موجود شي، اهمیت یې زیاتوي*

*[(داستاد حبیب الله جاج پښتون زوی د ماسترۍ دورې لکچرنوټ)]*

*په دې توګه هنري ارزښت داسې پېژندی شو: هغه پرنسیپ، معیار یا کیفیت دی، چې- د ذهن او احساساتو په مټ- دانسان په ښکلا خوښي ذوق مثبت اغېز وکړي*

*. دا باید فلسفه، انتروپالوجي، سیوسیالوجي او سیکالوجي وښیي، چې د ښکلا خوښونې ذوق کوم بریدونه لري او اغېز یې کله رامنځته کیږي*

www.sikaraam.com

تفکر ).رمزونه او کنايې او ورته نور ژانرونه يا بڼې، چې هنري ارزښت نه لري، په ادبياتو کې نه شو شمېرلی. خوبل پلو د ژوند انه هره برخه تقريبا يو ځانګړی هنر لري، کېدی شي، دا هم وويل شي، چې هرفن و مسلک ځانګړی هنري ارزښت لرلی شي، دلته به نو يو ادبي ټکی کارول ورته وړ وي، دا دبي هنر ارزښت يا ارزښتونه. د دغه تازه نظرياتو په رڼا کې دولس او خلکو له ټکي سره دادبي ټکی په احتياط کارول په کار دي.

## د فوکلور پيدايښت او سرچينې

فوکلور د قبيلوي ټولنو د ګډ ژوند د احساساتو محصول دی، دا ټولنې د انسانيت د زېږون له ورځې، ترننه موجودې دي او په بېلابېلو قومونو، سيمو او هېوادونو وېشل شوي دي، په لرغونو زمانو کې د بشر لپاره د اوسني مادي ژوند تصورات ممکن نه و او هرڅه په دوديزه بڼه د هرچا د چاپيريال له شرايطو سره سم مطرح کېدل، مثلا انسانانو هغه څه ته، چې د دوی په څنګ کې وو او اړتيا يې ورته لرله، بېلابېل نومونه وضعه کړل، بيا يې د دغه څيزونو دوېش خبره ياده کړه، بيا دا انساني ټولنې سره جلا شوې، بېلابېلې برخې يې په ختيزو، لويديزو، شمالي او جنوبي خواوو لاړې، دوی مادي شيانو ته له خپل ذهن و فکر سره سم نومونه کېښودل، چې دا وخت په طبيعي توګه د ژبو وېش رامنځته شو،

www.sikaraam.com

ژبې دوی ته د مادي څېزونو نومونه وروښود ل او د هغو د کارونې لارې چارې یې ورته برابرې کړې، له دغو څېزونو نه د استفادې بڼې د دوی فکرونه پراخه کړل او ورو- ورو یې نو یو کتنو او انګیرونو ته مخه کړه، چې له امله یې هرې انساني قبیلې د خپلو فکرونو او تصوراتو په وړاندې د غبرګون او چال چلن کولو ځانګړې دود خپل کړ. دغه دود ورو- ورو ټولنیزو چاروته ورو غځېد او په پای کې د ژوندانه په ټولو چارو چاپېرشو. انسانان اړ شول، د پېښو په وړاندې د غبرګون ښودانې لپاره ژبه او فکر سره یو ځای کړي، یا یې د حل لپاره لارې ولټوي او یا یې د ژبې په بیان مطرح کړي، دغه مطرح کېدنه کله د یوه بریالیتوب او کله هم د یوې ماتې کیسه وي او کله بیا د ژوند د هرې پېښې په باب. کله دا خبرې د کیسې او داستان په بڼه په نثر بیان شوي او کله هم په منظومو او مقفا لفظونو.او چې داسې وشول، نو بیا یې دوښش او بڼې خبره یاده شوه، چې په کوم چو کاټ کې؟

بل پلو د ژوندانه د همدغه پېښو له تړاو سره نورې لارې چارې، لکه دا چې ولې یوه پېښه رامنځته شوه، څنګه رامنځته شوه، په کومو اوزارو او وسایلو او د څه لپاره؟ د دغسې پوښتنو په وړاندې فزیکي غبرګونونه د ژوندانه د طرز و طریقې د یوې بلې بڼې ښودانه کوي، چې هغه یې فزیکي چال چلن شو. هغه برخه چې یوازې په احساساتو، خیالاتو او کله هم موهوماتو او ارمانونو راوڅرخېده د ولس خبرې، د ولس پوهه، د ولس ادبیات او د ولس د احساساتو د استازې په نامه یې پېژنو، هغه چې د دغه احساساتو

www.sikaraam.com

دايجاد او رامنځته کېدو وسيله شول او په فزيکي نړۍ پورې يې اړه وموندله، دولس په دود و دستور او طرز تفکر(اندود) پورې يې اړتيا وموندله، نو هغه بايد دفوکلور دمادي يا فزيکي برخې په نامه ونوموو. په دې برخه کې دڅېړونکو ترمنځ بېلابېل نظريات شته، خو په دې ټول يوه خوله دي، چې فوکلور ديوه ولس دژبې او دودونو او فکرونو هغه مجموعه ده، چې په خپل چاپېريال کې يې دپېښو پروړاندې ځرګندوي.

## د فوکلور ارزښت

فوکلور دځينو لپاره دمخکنيو ولسونو ، ټولنواو دځينو لپاره اوس هم ديوه ولس او يايوې ټولنې دژوند پېښو هينداره ده،دژوندانه دټولواو کله هم دځينو پېښو په وړاندې ديوه ولس دنظرياتو، فکرونو، بنې او جوړښتونه راښيي.داچې يو ولس دپېښو په وړاندې څه ډول نظر لري. دزوکړې له پيله بيا دژوندانه تروروستۍ ورځې او بيا تردې هم وراخوا تروروستيودودونو پورې.

په دې برخه کې سربېره پردې، چې کولی شو ديوه ولس دژوندانه له پيله ترپايه هرڅه ووينو او پرې پوه شو، دولس په ځانګړې ژبه ددوی ماتې او برياوې او يا ټولې ژوندنۍ پېښې کره کړی شو. نو په دې توګه ويلای شو، فوکلور دانسانانو دژوند

www.sikaraam.com

پېښو د ساتنې او ژغورنې یوه ټولګه ده. چې د یوه ولس د ایجاد، ودې او بشپړتیا پړاوونه په خوندوره، احساساتې، او تولنې ژبه راښیي. کله کله دا بیان دومره احساساتي وي، چې مبالغه او خرافات هم ورسره ملګري وي او کله هم په ربنتینې، صفا او ډانګپییللې ژبه. دانو اوس د فوکلور پېژندونکو دنده ګڼل کیږي، چې څه ډول وښيي، کومه پېښه، یا کوم احساس په کومه ژبه یا په څه ډول ژبه او یا په څه ډول فکر وړاندې شوی دی.

فوکلور د ولس تاریخ، میراثونه، احساسات، عقیدې او باورونه ژوندي ساتي، له یوه نه بل نسل ته، خوله په خوله او یا هم سینه په سینه لیږدي.

پښتون ولس چې لاترننه په یوه ناانډوله نړۍ کې راګیر پروت دی او ډېره برخه یې له سواد نه محرومه ده د فوکلور میتافزیکي برخه ترنورو ډېره ژغورلې او لا ترننه هم په دغه ژبه کې د فوکلور د تولید زمینې شته. د پښتنو د بریالیتوب او حماسو ویاړونه په فوکلور کې خوندي دي، چې هم یې د دوی احساسات ساره کړي او هم یې ورته په ناخانخبرۍ کې د دوی تاریخ ژغورلی، که څه هم د فوکلور ځینې بنې یا ځینې برخې د فنا بادونو په مخه کړي، خو لا یې هم یادونه ژوندي دي او نن موږ پرې خبرې کوو.

پېغله سلمی شاهین د فوکلور د ارزښت او هدفونه په اړه یو ځای لیکي:

«فولکلور هغه علم دی، چې د ولسي ژوند او ادبي تاریخ له نامعلومه لرغونیو دورو سره تعلق لري. د دې علم د زده کړې مقصد

www.sikaraam.com

دادي، چې په صدو (پېړيو) مخکې د يوې معاشرې د خلکو د سوچ او فکر انداز (بڼه) څه و؟ د قديمي فکر هغه لرغونې اثاثه، چې د ټول ولس شريک ميراث وي او د هغو د ژوند ترجماني کوي، ، د دې ليکونکي معلوم نه وي، خو بحيث مجموعي د هغوی ټول ژوند احاطه کوي، د هغو تهذيب او تمدن يعنې خوراک، جامه، ناسته پاسته، طرزفکر، دودونه، دستورونه، عقايد، طرز معاشرت او د کليوال ژوند هغه اړخونه او روايات څرګندوي، چې ګڼ اقدار يې لا اوس هم زمونږ په کليوال ژوندکې رواج لري او موجود دي....»

پروفيسور محمد نواز طاير ليکي:

«فولکلور، چې په پښتو کې ورته شفاهي يا ولسي ادب ويلی شي او مقصد يې د يوه ولس د روايات و تجزيه کول دي، د هغوی د ژوند د معاشرتي نظام او ذهنيت اندازه لګول دي. داد ولسي رواياتو، د هغې علمي او ادبي افکارونه بيخي بدل دي، کوم چې د لويو-لويو عالمانو او مفکرينو يا شاعرانو په ليک کې راوستی شي. د دغه ادب د مطالعې په ذريعه د معاشرې معنوي او عملي اړخ څرګنديدی شي او روايات چې د معاشرې اډانه پرې ولاړه وي، په دې کې محفوظ وي. د دې په ذريعه مونږ د بېلو-بېلو نسلونو او ولسونو د فطرت مزاج او نسلي امتيازاتو سره اشنا کېدی شو.»

*[د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر (۱۰-۱۱ مخونه)]*

پروفيسور طاير فوکلور په عمومي توګه ادب ګڼي، يعنې هغه توکي، چې که هنري ښکلا ونه لري، که داسې وشي، نو بايد فوکلور له دودو دستور او هغو توکيو سره په ګډه مطالعه شي،

www.sikaraam.com

چې کوم هنري خوند، کیفیت، غورېدا او احساس به ونه لري.

## له نورو پوهنو[1] سره دفوکلور اړیکي:

د «رهنمای فولکلور» په نامه کتاب - چې په افغانستان کې دفوکلور پېژندنې لومړنۍ هڅه ګڼل شوې- دفوکلورپېژندنې دچوکاټ پېژندنې برخه ډېره پراخه راپېژني. ددغه کتاب له انده فوکلور دانسانانو له زوکړې ترمړینې ټولې خواوې راچاپېروي. ددغه اثرله مخې ټولو علومو او فنونو له فوکلور نه سرچینه اخیستې، چې ځینې یې اوس شته او ځینې یې له منځه تللي. دې ته ورته نظریه په لویدیځ کې هم موجوده ده، چې اکثره انساني کړنې او نظریې له فوکلورنه اخیستل شوې راښیي.

داچې فوکلور څه ډول په نورو پوهنو کې ځای لري او یاداچې څېړونکو څه ډول ځای ورکړی. دامسله په لاندې جدول کې یوځای په لنډ ډول ترڅېړنې لاندې داسې راغلې ده:

1. پوهنه او پوهه: دوه بېلا بېلې کلیمې ګڼل په کاردي، پوهنه دطبیعي علومو (ساینس ریاضي او نور اړونده) پوهنو لپاره، چې په تجربه ولاړدي او هرڅه په کې څرګندلوری خپلوي چوکاټونه یې دقیق دي او پوهه بیا دهغو لپاره، چې هرکله په کې دبدلون امکان پېښېدی شي لکه ټولنیز علوم، ادبیات، فوکلور او نور. دامسله ،یوازې دیوې نظریې په بڼه دکتو وړده.

www.sikaraam.com

**د کولتور پوهنې او نورو علومو ترمنځ اړيکي**




*[اخخ: کولتور پوهنه د دکتور بهاند ژباړه]*

«خلک پېژندنه» د فوکلور د مطالعې برخه ده.دا يوه نظريه ده او فوکلور د کولتورپوهنې ترڅنګ له ځينو نورو خواوو نه هم د څېړنې وړ دی.

مثلا دا نظر، چې «ميتولوژي» mythologie (١) د اتلانو داستانونه، داساطيرو(٢) او ويا ړلو ارباب الانواعو کيسې دي او

١. ميتولوژي mythologie فرانسوي ټکی دی، چې د اتلانو کيسې، داساطيرو تشريح پوهنه(علم التفسير)، د خدايانو او قهرمانانو افسانې.
٢. اساطير عربي ټکی دی، داسطورې جمعه او د سطر د جمعې جمعه ده ، افسانو ، چټياتو ، دروغو کيسو، د اتلانو او خدايانو په اړه له مبالغې ډکو خبرو ته وايي، چې له

www.sikaraam.com

داهغه څه دي، چې د فوکلور د مطالعې برخه ده.

## د بحث لنډيز

په پورته بحثونو کې مو د فوکلور په اړه د کورنیو او بهرنیو پوهانو، کتابونو او قاموسونو بېلا بېل نظریات مطالعه کړل، اوس په لنډه توګه د فوکلور عامې او ادبي برخې داسې وېشلی شو:

### ۱. فوکلور د ژوند پېژندنې په توګه:

لکه چې و مو ویل، د ځینو په اند فوکلور د ژوندانه هره خوا راچاپېره کړې او د یوه ولس، د عادي ټولنیزو فعالیتونو ترڅنګ دودونه، فکرونه، د ژوند طریقې او بڼې، اغوستل، خوښۍ او خپګانونه، بېلا بېل ژوندني مراسم، د پېښنو په وړاندې غبرګونونه او نور داډول چارې ټولې په کې شاملېږي، خو دلته د پاموړ خبره داده، چې له انتروپولوجۍ سره باید فوکلور حدود هم وټاکو او هغه په دې توګه، چې فوکلور د دغه اړتیاوو، عاداتو او دودونو په اړه، فکر، اند ېښنې، احساسات او د بیان ژبه ده، نه په خپله دغه چارې ځکه نو ویلی شو، چې د ژوندانه د یادو چارو په اړه یوازې احساسات فوکلور ګڼل شوي، ځکه نو د ځینو په فکر د دغه نظریه

لرغونیو زمانو راپاتې دي. اساطیرالاولین: د مخکنیو تیرو شویو خلکو کیسې.
[فرهنګ فارسي عمید ۱۲۷-۱۸۷۷ یم مخونه]

www.sikaraam.com

فوکلور او بشرپوهنه یو له بله سره بېلوي، خو ځینې نور بیا وایي، د دغه دواړو ترمنځ اړیکي، خورا ژور دي او یو د بل په پېژندنه یې درک کولی شو. دا بحث له نورو بشري علومو سره په اړیکیو او یا هم په کتنه دلا څېړنې وړ دی. نو په دې توګه ویلی شو، چې فوکلور د انسانانو د پېژندنې، یا د یوه ولس د تاریخ، دودونو، ژوند او فکر پېژندنې په توګه مطرح دی او که غواړو، چې یو ملت یا ولس په سمه توګه وپېژنو باید د هغو د فکر بڼه او وېش وپېژنو او بیا یې ترارزونې وروسته په نتیجو خبرې وشي.

## ۲. فوکلور د ګړنې ادب په توګه:

فوکلور د ګړنې ادب د پېژندنې په توګه هم مطرح دی. ګړنی ویناوې معمولا د پېښنو پروخت د زړه هغه ځانګړی احساس دی، چې انسانان یې څرګندولو ته اړوځي. دا ویناوې که په نظم دي، که په نثر په خپلو ځانګړیو چوکاټونو کې په ناځانخبري ډول پېیل شوي او چوکاټ بندي شوي، چې اوس یې مونږ د فوکلوریکو ژانرونو په توګه پېژنو. دا ژانرونه ولس نه دي ټاکلي، ولس یوازې خپلې ویناوې په کې تنظیم کړي، خو فوکلور څېړونکو څرګنده کړې، چې کوم ژانر څه ډول دی او یا دا چې معمولا کوم ژانر د کومو موضوعاتو په باب په کومه کچه یا اندازه بحث کوي؟

دغه وېش د علومو او پوهنو په هره برخه کې شته او دا د پېژندنې، زده کړې او بحث او څېړنې لپاره یوه مناسبه او ضروري

www.sikaraam.com

مسله ده.

پښتو فوکلوریک یا ولسي ادب په تېره نژدې څه کم یوه پېړۍ کې په بېلا بېلو ژانرونو وېشل شوی، چې ځینې یې وروسته دژانرونه له کتاره ایستل شوي او ځینې نوي ډولونه په کې ترموندنې وروسته ایجاد شوي، یا داچې ځینې ډولونه یې مخکې چا په کره توګه پېژندلي نه ول.که څه هم د پښتني شفاهي فوکلور وېش بېلابېل او یا په ځینو کتابونو او لیکنو کې توپیري ښکاري، خو په عمومي توګه د چوکاټ بندۍ نظریه او هدف یو دی او هغه د پښتني ګړني (شفاهي) ادب پوره او سمه پېژندنه او کره کول دي.

په دې کتاب کې به له ځینو نور سره په توپیر یو وېش وړاندې کړو، چې نسبتا معقول ښکاري.

یوه بله مسله، چې د هېرولو نه ده، داده، چې په دغه وېش کې ځینې داسې ژانرونه هم پېژندل شوي، چې د هنریتوب له پلوه به د پوښتنې وړ وي، په دې مانا، چې که دغو ته د ولسي ادب نوم ورکوو، نو د ادب هغه تعریف باید هېر نه کړو، چې وایو، دهنري ارزښت لرونکی اثر ادب دی. دا ژانرونه لکه د میندو سندرې، د ماشومانو سندرې او ځینې نورې بېلګې، خو که مورډ اد بیلتون کار کوو، اړیو یوه مناسبه چوکاټ بندي ورته ولرو.فوکلوریک ادب یا فوکلوري ادب هم ورته اصطلاح ده چې باید څه ډول یې وپېژنو؟، خو دلته هڅه شوې، ټول منظوم فوکلور په نښه کړو، دهنري ارزښت د ټاکنې مسله یې باید لوستونکي او څېړونکي


www.sikaraam.com

وښيي. د فوکلور پېژندنې د څانګو يو شمېر څېړونکي دا وېش معقول نه ګڼي او ليکي، چې فوکلور دې د دودو دستور او عامو ولسي اندودونو په چوکاټ کې وڅېړل شي او ادبي نو مونه به داماناوښندي، چې فوکلور له ولس نه يوه خاص پوړ خلکو ته منسوب شي.

## اخځليک


۱. اصف بهاند: دکوچنيانو ادبيات، دچاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ۱۳۶۲ل کابل.

۲. پروېز بابايي (راټولوونکی او ليکونکی): فرهنګ اصطلاحات فلسفه (انګليسي-فارسي) دويم چاپ، نګاه خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۲، تهران

۳. پښتو-پښتو تشريحي قاموس: د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۵لمريز، کابل

۴. حبيب الله جاج پښتونزوی: دادبي تيورۍ درسي لکچرنوټ (ماستري دوره)، کابل پوهنتون، ۱۳۹۰لمريز

۵. حبيب الله رفيع: د خلکوسندرې، دافغانستان د تاريخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹لمريز کابل

۶. حبيب الله رفيع: لاس ليکلې مقاله، ۱۳۸۸لمريز، کابل

۷. حسن عميد: فرهنګ فارسي عميد، امير کبير خپرندويه موسسه، ۱۳۷۷لمريز، تهران


www.sikaraam.com

۸. داورخان داود(پروفیسور): پښتو فوکلورکې ار،(خپرندوی په خپله لیکوال)، ۱۹۹۷میلادي، پېښور
۹. دوست شینواری(خېړنوال): د پښتو دولسي ادب لارې، ۱۳۵۲المریز، کابل
۱۰. زلمی هېوادمل: پښتو ولسي ادبیات، د ساپي د موقوفاتو اداره، ۱۳۷۲المریز، پېښور
۱۱. سلمی شاهین: د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، پښتو اکاډمي-پېښورپوهنتون، ۱۹۸۹-۱۹۸۸، پېښور.
۱۲. عربعلي رضایي: واژګان توصیفي ادبیات، (انګلیسي-فارسي)،فرهنګ معاصر، ۱۳۸۲المریز، تهران
۱۳. فضل میر ختک: فضلیات(د پښتو ادبي اصطلاحات)،حیات بک ډیپو کرک، ۱۹۹۹میلادي، پېښور
۱۴. قلندرمومند-فرید صحرایي: دریاب(قاموس)، د پښتونخوا د پوهنې اداره((nwfp text book board، ۱۹۹۴ میلادي، پېښور
۱۵. لطیف بهاند(دکتور+ ژباړن):کلتور پوهنه، دافغانستان علمي تحقیقاتي مرکز، ۱۹۹۹میلادي، مسکو
۱۶. محمد افضل بنووال(پوهاند ډاکټر):فولکلورشناسي، سعید خپروني ، ۱۳۸۹المریز، کابل
۱۷. محمد صدیق روهي (څېړندوی): فوکلور پېژندنه، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۵المریز، کابل
۱۸. محمد معین (ډاکټر):فرهنګ فارسي معین، شپږ ټوکیز،

www.sikaraam.com

دویم چاپ، ۱۳۸۲المریز، نامن خپرونه،تهران(دویم ټوک)
۱۹. مشتاق مجروح یوسفزی (راټولوونکی): تاج اللغات جامع، تاج کتب خانه ، پېښور(۲۰۱۰م کال ؟)

**د انګلیسي ژبې کتلې کتابونه:**

20. *Oxford Wordpower Dictionary*,OXFORD university,fivetprent ,jungle publications Tehran
21. Kathryn Vanspanckeren: *U.S.A.Literature In Brief*, New Community Development Organization,2011,usa
22. *The Encyclopedia Americana* <498>r>11> volume, (grolier).scholastic library,usa.

دویم څپرکی

# عام فوکلوریک ژانرونه

www.sikaraam.com

**په دغه څپرکي کې یې لولئ:**

- فوکلوریک ژانرونه:
- لنډۍ څه دي؟
- غاړې او ډولونه یې
- ټپاکي
- دمیندو سندرې
- دماشومانو سندرې
- کیسې یاړه
- سروکي
- نارې
- فالونه
- انګۍ
- دنیادۍ سندرې
- بلنډۍ
- سلسلې
- برغازۍ
- منظوم متلونه
- ساندې

www.sikaraam.com

# فوکلوريک ژانرونه

علوم او فنون د ښې پېژندنې لپاره په بېلا بېلو څانګو وېشل کېږي. فوکلور هم د سيستماتيکې پېژنې او بېلونې لپاره دغه ډول وېش ته اړ دی. خو موږ دلته ټول فوکلوريک اړخونه، په ژانر پېژندنه او ټاکنه کې تر پېژندنې لاندې نه شو راوستای. يوازې هغه برخې پېژنو، چې يا مخامخ په ادب پورې اړه مومي او په هنري ارزښتونو کې د پښتنو د ژوند بېلابېلې برخې رانسيي او يا دغو ارزښتونو ته ډېر نژدې دي.


www.sikaraam.com

*دغه ډول ادبي ایجادات باید په لاندې توګه ووېشو:*

## ۱.منظوم فوکلوریک ژانرونه (۱)

منظوم فوکلوریک ژانرونه، دوه ډوله وړاندې کولی شو:

۱. عام ژانرونه

۲.خاص ژانرونه

۱ . *«ژانر» فرانسوي ټکی دی، په پښتو ادبي څېړنو کې دیوه نارینه نوم په توګه دیوه ادبي صنف لپاره کارېږي (دریاب ۸۱۴م مخ) ادبي صنف، ادبي ځېل، ادبي بڼه، ادبي خېل، ادبي ډول، ادبي چوکاټ، ادبي نوعه، دا ټول یوه مانا ښیي.*

www.sikaraam.com

# عام ژانرونه

د پښتو ولسي ادب عام منظوم ژانرونه هغه دي، چې ویونکی یا شاعر یې معلوم نه وي. د یوه ادبي اثر د ایجاد ځای، شخص، حالت او ځرنګوالی ځرګند نه وي. دا ژانرونه د ټولو ګډ ملکیت ګڼل کیږي، دا د هغو ولسي خلکو احساسات راښیي، چې سواد نه لري او دادبي پوهنو په اړه خو بیخي په څه نه پوهیږي، بلکې د پښتو په وخت د هغو د احساساتو د ځرګندونې یوازې یوه وسیله ګرځېدلې وي، په دغو کې منظومې او منثورې برخې دواړه راتلای شي، لکه په منظومو کې دا ژانرونه: لنډۍ، کاکړۍ، سروکي، ناري، پړاکي (لنډکۍ)، فالونه، د ښادۍ سندرې، د مینډو سندرې، د ماشومانو سندرې، کیسې یا اړ، متلونه... او په منثورو کې، فوکلوریکې کیسې، لطیفې او دولسي ننداړو په وخت شفاهي روایتونه.

دلته به نو عام فوکلوریک ژانرونه اوس وپېژنو.

# لنډۍ

لنډۍ د پښتو ګړني ادب نامتو او مهم ډول دی، لنډۍ ته ځينې وخت، ټپه او مسره(۱) هم ويل کيږي.

---

۱ مسره چې ځينې يې د مصره +مصرع يا مصراع په بڼه هم ليکي، اصلا عربي کليمه ده، چې لفظي مانا يې د دروازې يوه تمبه يا تخته نبودل شوې، چې دوه سره يوځای شي، نو پوره دروازه شي، له دې امله نيم بيت ته مسره او دوه مسرو ته بيت ويل کيږي (فضليات: د فضل مير ختک ۳۹۳ يم مخ) خو لنډۍ له مسلکي بحثونو پرته د بيت په نامه نه بلکې د مسرې يا مسرۍ په نامه هم ياديږي د لنډيو لپاره د مسرۍ تکی په عامه توګه نه ياديږي، بلکې عام نوم يې لنډۍ او ټپه دی. په ځينو پښتني سيموکې بيا د ټيکی په نامه هم ياه شوې د اڅلور سره نومونه په بېلا بېلو لنډيو کې هم ياد شوي:

لنډۍ: لنډۍ کوه او بيا يې ليکه –چې په ټولي کې شرمينده نه شې مينه

ټپه: د ټپې وار راسره کيږده- ماته بې واره ټپې خوند نه راکوينه

مسره: مسرې په هغه چا اثر کړي- چې يا ميين وي ياخو ورک له ملکه شينه

ټيکی: ټيکی مې ډېر درته وکړې- په لااله الاالله يې ختمومه

پروفيسور داور خان داود په «پښتو ټپه» نومې کتاب کې د پښتو لنډيو د نومونو او د هغو د نومونې دلاملونو په اړه يوځای وايي:

«د ولسي شاعرۍ د اصنف په دريو نامو بللی شي. يعنې ټپه، لنډۍ او مسره. لنډۍ وړوکي ته وايي، د ټپې وړومبۍ مسره وړه وي، په دې سبب ورته لنډۍ ويلی شي. لنډۍ د نبامار غوندې يوه زهرايله اژدها هم ده، چې دوه سرونه يې وي، د دې چيچلی سړی چرې هم نه رغيږي. د دې صنف

www.sikaraam.com

لنډۍ يوازې يو بيت وي، چې لومړۍ مسره يې نهه څپې (سيلابونه) او دويمه يې ديارلس څپې وي. لنډۍ په همدغه يو بيت کې هم -چې د شکل له مخې ترټولو وړوکی ګڼل شوی- يوه پوره کيسه ځايولی شي. په نورو ژبو کې دغه ډول منظومه وينا تراوسه نه ده ليدل شوې. له دې امله د پښتنو او ناپښتنو له خوا ځانګړې پام وراوښتی. بله خوا، لنډۍ د لرغونتوب له پلوه هم دارزښت وړ ګڼل شوې، ويل کيږي، د پښتو د منظومو ګړنيو ادبياتو پيل له همدغه لنډيو شوی او داسې لنډۍ کتل شوي، چې لرغونې ماناګانې يې لاهم ساتلي او د پښتون ولس د پېژند ګلوۍ،

ته لنډۍ د دغې اژدها په مناسبت هم ويلی شي.لنډۍ يعنې ټپه چې سړی خوري، ډېر زيات اثرلري.

ځينې خلک وايي، چې دې ته ټپه په دې وجه وايي، چې سندرغاړي د سندرو ويلو په وخت داواز داوچتولو يا تېزولو په غرض يو غوږ ټپوي، يعنې په يوه غوږ لاس ږدي، ځکه دا صنف په ټپه مشهور دی.خو ځينې خلک دې ته ټپه په دې غرض وايي، چې د دې د ويلو سره سندرغاړي يااوريدونکي لاسونه ټپوي.

(لنډۍ)ته د مسرۍ د نوم اخيستو درې وجې دي: اوله دا چې د دې يوه مسره وړه او بله لويه وي. دالويه او وړه دواړه په يوه مسره شمېرلی شي، دويمه دا چې ځينې محققين د مسرۍ تعلق له مصري(خواږه يا چيني) سره جوتوي. د دوی په نزد.چونکه مصري خواږه وي په دې وجه مسرۍ هم په سړي لکه د چينو خوږه لګي. دويمه دا چې مسرۍ ته مسره د مصرۍ توري په مناسبت هم ويلی شي...»

*[پښتو ټپه د پروفيسور داورخان داود ۴۲-۴۱ مخونه]*

ښاغلي پروفيسور داود ياد کړې دارواېتونه يوازې فوکلوريکه بڼه لري او کوم علمي اساس نه لري. په پښتو ژبه کې ګڼ داسې نومونه او نومونې شته، چې د تسميې يا نومونې دلايل يې څرګند نه دي او کومه ځانګړې مانا هم نه شي ښندی. دا د ژبې په تاريخ او د ويونکو په دود و نو پورې هم اړه لري. دا کوم علمي بحث نه شو ګڼلی، چې هر نوم دې خامخا پوره، دقيقه او سمه مانا ولري.

www.sikaraam.com

لرغونتوب او اروايي احساساتو استازي په کې کتل کېدی شي.

دلنډيو مهمه ځانګړنه ځانته والی يا انفراديت دی، يعنې په يوازيني يوه بيت کې هرڅه ځايوي، ديوې ښې، يابدې پېښې پوره کيسه په کې راغلې وي. که څوک وغواړي، يوه اوږده کيسه يوازې په يوه لنډۍ کې بيان کړي، داکېدی شي. داد لنډيو قوت، عظمت او انفراديت راښيي. بل لوري ته لنډۍ ځانګړې جذابيت او شعريت هم راښيي، دلنډۍ لومړنۍ مسره يالنډه منظومه برخه او بيا ورپسې اوږده ديارلس څپه ييزه مسره چې کله دواړه يوځای شي او ولوستل شي،اوربدونکو او لوستونکو ته يو قدرتي او طبيعي خوند ورپه زړه کوي، يوه ځانګړي اهنګ او وزم ته يې بيايي، چې کله خوبې تشريح کوی هم نه شي او بيا چې ورسره په اهنګينه ژبه يوه په زړه پورې کيسه هم ورپه زړه کړي، نو په زړونو داسې اغېز کوي، چې بل داسې شعر او منظوم کلام دادنده هيڅکله دغه شان نه شي ترسره کولی، يا لږترلږه تراوسه يې نه ده ترسره کړې. او داچې دنړۍ په نورو ژبو کې يې مثال نه شته، نو دلنډيو نړۍ والتوب او په زړه پورې والی يې ناپښتنو ته هم په زبات رسولی.

لنډۍ زياتره دښځينه وو له خوا ويل شوي، ډېری داډول لنډۍ دښځينه سو چه احساساتو استازي کوي.دلنډيو په کتو او اوربدو احساسيږي، چې داد سوچه، سپېڅلې او ساده قريحې زېږنده ده، ځکه چې له دغه لنډون سره سره يې ژبه هم خورا ولسي، سوچه او کره ده، چې هرکله په کې ولسي اصطلاحات، نوموني، انګيرنې او انځورونه کتل کېدی شي. دا واړه هغه څه دي، چې لنډۍ پرتهولو

www.sikaraam.com

ځان منلی دی.

**لرغونتوب:**

دلنډیو دلرغونتوب په اړه ویل شوي، چې داد پښتو دګړنیو ادبیاتو لومړنی یا په لومړنیو ډولونو کې دی.د پښتو ګړني ادب د پیل دقیق وخت نه شي ښودل کېدی، له دې امله څوک دا حکم نه شي، کولی، چې دګړني ادب کوم ژانر لومړی ایجاد دی؟ خو څرنګه چې لنډۍ دبڼې او شکل له مخې ترټولو ساده او اسانه ډول دی، ځکه نو دخلکو په سینو کې تربل هرپښتو منظوم کلام ډېر ځای لري او پخواني مفاهیم او انځورونه په کې ترنورو داډول منظومو ویناوو ډېر کتل شوي، نو په دې وجه منل کېدی شي، چې داخېل دې ترنورو لرغونی وي.

دلنډیو په اړه په ترسره شویو څېړنو کې ویل شوي، چې لنډۍ ترمیلاد وړاندې لومړی ځل اریایانو په لرغونې پښتونخوا کې ویلي او داهغه وخت و، چې اریایان لا دهندوکوش برو او لرو لمنو ته نه خواره شوي، چې ترخورېدا وروسته دوی ټولو په لړه وډېره بڼه دا منظوم کلام له ځانه سره ټولو سیمو ته ورساوه او عام مقبولیت یې وموند.

د پښتو ژبې دا لنډۍ
سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه
یارمې دګلو لو کوي ګوتې رېبینه

په لرغونیو لنډیو کې یوه ګڼل شوې، ددغه لنډۍ په باب عام روایت دادی، چې د سپوږمۍ ترړنا لاندې دګلو لوهغه مهال


www.sikaraam.com

لرغونيو اريايانو کاوه، چې د پښتونخوا او يا لرغوني افغانستان د هسکو غرونو په لمنو کې د سوما په نامه يو خدايي ګل د درملو او نورو کارونو لپاره رېبل کېده. کومې مېينې د خپل يار په غم کې د سپوږمۍ د راختو په تمه دا ټپه ورته کړې ده. دا روايت که څه هم په ځينو برخو کې علمي بنسټ نه لري، خو لرغونپوهانو هغه مهال د اريايانو له خوا د سوما د ګل د استفادې خبره موندلې ده او کېدی شي، چې سم وي. که داسې وي، نو لنډۍ ترميلاد لا پخوا موجوديت درلود. کېدی شي، دا لنډۍ هغه مهال په لږ څه بدلـه بڼه وه او ترموږه اوس په دغه تراشل شوې بڼه رارسېدلې وي. تر دې وروسته په بېلابېلو ژوندنيو، سياسي، ټولنيزو او عشقي پېښو کې لنډۍ کتل شوي، چې ځينې يې لوړ تاريخي ارزښت لري او زموږ د کولتور او فرهنګ مهمې کيسې را په زړه کوي.

د سلطان محمد غزنوي په وخت کې چې افغاني فاتحان هند ته د جګړې لپاره د ګومل په لاره تللي ول، د يوې مېينې له خولې دا لنډۍ هم پېږۍ- پېړۍ پخوانۍ ګڼل شوې:

که د خالو لښکرې راغلې
زه به ګومل ته د خپل يار ديدن ته ځمه

تاريخ ليکونکو ملک خالو د غزنوي لښکرو يو سردار ياد کړی، چې له نورو سره يو ځای د افغانستان د سويلې درې ګومل په لاره هند ته تللی واو معمولا د الښکرې ببرته په همدغه لاره راستنېدې.

په دې وروستيو کې د انګليسانو د دويم يرغل (۱۸۷۹م) پر وخت د ميوندۍ ملالې لنډۍ هم خورا مشهوره ده:

www.sikaraam.com

که په میوند کې شهید نه شوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینه

په دغه ستره پېښه کې دغه یوې لنډۍ افغان ولس ته د تاریخ ترټولو ستره مېړانه ورپه برخه کړه.

د خېړونکو په اند لنډۍ تردې وړاندې لا ډېرې د ګټات او بیلات اوسوبو کیسې لرلې، خو د نا انډوله سیاسي او ټولنیزو شرایطو له امله په سینو کې خاورې شوي او یوازې نامتو برخې یې ترموږ رارسېدلي. د لنډیو عظمت و قوت د دغه ډول نظریاتو په زبات رسونه کې موږ لاډېر هڅوي.

بل پلو د فوکلور پېژندنې په لړ کې یو نظر دا هم دی، چې لنډۍ له وخت سره بدلون هم موندلی، مثلا دا چې لنډۍ هرکله نوې جوړې شوي او زړې کرار کرار له منځه تللي. په دې اړه سلیمان لایق یو ځای لیکي:

«د لنډیو هستي له ځینو جهاتو څخه د څېړۍ ونې ته ورته ده، چې پاڼې یې یو ځای او یو ځل نه تو یېږي، بلکې تدریجي، پرله پسې او نامحسوس خزان پرې تېرېږي. لنډۍ کټ مټ د څېړۍ پاڼو ته ورته دي، چې له خپلې لویې ونې (د خلکو له حافظې) څخه یوه -یوه او په کراره -کراره دبانديې وځي او په ځای یې یوه زیاتي لنډۍ د ولس د ژوند پرډنډر باندې راټوکیږي...».

*[(د زېږي د ۱۳۶۰ م لمریز کال کالنی، د سلیمان لایق مقاله، ۸ م مخ)]*

په دې توګه نو، د پښتو فوکلور پر دغه مهمه څانګه که له یوې خوا د خلکو ذوقونه ماتیږي او احساسات سړوي، بلې خوا ته

www.sikaraam.com

دا شفاهي یا ګړنی هنر څومره چې موجود دی، تردې زیات لا هېر شوی، او هرکله د پېښو په وړاندې په نوي طرز تفکر او مفاهیمو نور رازېږېدلی. دا که څه هم سملاسي دلنډیو دورکېدا په مانا نه دی، خو دولسي ادب د دغه ستر ډول دلرغونتوب، ورکېدا او ساتنې په باب هم یو نظر وړاندې کوي.

++++

دهرې لنډۍ د مانا ځانګړتوب دا راښیي، چې هره لنډۍ به ګڼې په سره جلا وختونوکې ویل شوي وي، خو داسې لنډۍ هم شته، چې په عمومي توګه د سوال و ځواب په بڼه ویل شوي وي، خو له دې سره سره هم خپل ځانګړتوب ساتي او هره یوه په ځانګړې توګه هم داورېدو وړه ده. لکه دا لنډۍ:

زړه مې له سترګو ګیله من شو:
چې دیدن ته کړې خوشې غم زه تېرومه
سترګو له واره ځواب ورکړ
چې مېین ته یې اوښکې بیا زه تویومه
نو زړه قاضي شو وېش یې وکړ
دمینې غم دی په تقسیم به یې ګالونه

دغه ډول یو پربل پسې تړلې لنډۍ کله کله لیدی شو، خو دا ډول لنډۍ ډېرې لږې دي او عموما لنډۍ هره یوه دبلې له قید نه ازاده ده.

www.sikaraam.com

**د لنډيو څپه ييز جوړښت:**

دلنډۍ لومړۍ مسره نهه څپه ييزه (لنډه) وي او دويمه مسره يې ديارلس څپه ييزه(اوږده وي).

لومړۍ مسره يې له دويمې سره د قافيې او رديف له پلوه کوم ورته والی نه لري او دټولو لنډيو په پای کې معمولا د(ه) توری راځي:

داسمان ستوری شوې جانانه
نه در ختی شم نه مې زړه صبر کوينه
*څپه ييزه يا سيلابوتونيکه بنه يې:*

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د | اسـ | ما ن | سـ تو | ری | شوې | جا | نا | نه | | | | |
| نه | در | خ | تی | شم | نه | مې | زړه | صـ | بر | ک | وې | نه |

پورته لنډۍ د(نه) په بڼه ده، خو ځينې دا بيا د(مه) په بڼه هم کتل کيږي لکه:

زما به ته ياد پرې ياره !
که د جنت په منارو ولاړه يمه

ځينې وخت بيا لنډۍ د(له) په دوه توريو پای ته رسېدلې وي، دا په عمومي جوړښت کې هماغه د(ه) پای ګڼلی شو، خو په ويلو کې يې لږخه توپير کتی شو لکه:

اصيله وم، کم اصل يوړم
کم اصل داسې مې ساتي لکه مغوله

دڅپو شمېر بيا په ټولو لنډيو کې يو شان پېژنو. يا په بله وينا، دهرې لنډۍ لومړۍ مسره (نيم بيت) نهه څپې وي او دويمه يې دیارلس څپې وي.

**د لنډيو په اړه څو يادونې:**

دلنډيو په اړه په تېرو څو لسيزو کې بېلابېلې ټولګې خپرې شوي، په دغو ټولګو کې ځينې يې داسې دي، چې دباسوادو خلکو (شاعرانو+ليکوالو) له خوا په کې په خپل سر لنډۍ جوړې شوي، چې ولسي خوند او رنګ او احساسات نه لري. په کابل او پېښور کې اکاډميو دلنډيو دراټولولو په کار دپيسو دورکړې اعلان کړی و، له دې امله داوخت ځينو داسې لنډۍ جوړې کړې، چې دلنډيو اصلي روح وکيفيت نه لري. دالنډۍ له اصلي لنډيو سره يوځای شوې او خوند يې ورپيکه کړ.

په ځينو کتابونو کې لنډۍ، ټپې، مسرۍ او ټيکۍ داسې راپېژندل شوي، چې ګويا داهريو بېل صنف يا ځېل دی، خو داسمه نه ده.

ځينو څېړونکو دسياسي نظرياتو په هدف هم لنډۍ جوړې کړي. دفوکلور زده کوونکي بايد په دې پوه شي، چې اصلي لنډۍ له جعلي لنډيو نه بېلې کړای شي. دپښتني فوکلور په ځينو نورو ژانرونو کې هم په اګاهانه ډول ګوتوهنې شوي، که دفوکلوري ادب په اصيلو ارزښتونو وپوهيږو په ناسمه بڼه دغه ډول جوړښتونه بايد له سمو نه بېل کړای شو.

څېړنيار سيد نظيم سيدي، په دې ورستيو کې دلنډيو په اړه

www.sikaraam.com

د «زرچاڼ» په نوم يو ځانګړی کتاب ليکلی. په دغه کتاب کې پرپښتو لنډۍ د عروضي - ديواني ادبياتو فورمونه او د بديع او بيان بېلابېلې خواوې تطبيق شوي، دا څېړنه نوې ده او ښوولې يې ده، چې لنډۍ له عروضي پلوه هم ارزښتمنې دي.

دغه څېړنې د پښتو د فوکلوريک ادب ارزښتونه نور هم لوړ کړي، خو په علمي توګه په فوکلوريکو ژانرونو د عروضي ادبياتو د بديعي او بياني جوړښتونو تطبيق کوم علمي اساس نه لري، دا ځکه، چې د هغو جوړوونکي (ولس+ خلک) د غه ډول ادبي صنايع نه پېژني او نه يې په اړه معلومات لري. د عروضي + ديواني ادبياتو يا د باسواده خلکو ليکلی ادب او د ولس خبرې او احساسات د خيال او د مشابهتونو د تاکنې له مخې په کولتوري، اروايي، ټولنيز او عقيدتي لحاظ يو له بل سره په ګډه نه شي مطالعه کېدی. دا ډول څېړنې زموږ لرغوني فوکلور له يوې بلې زوايې نه څېړي، چې ورته نورو څېړنو ته به هم مخه پرانيزي.

## د لنډيو څو رنګارنګ بېلګې: (١)

ستر ګې مې ستا په لور څلور شوې<br>
څلور اته شوې اته شپاړس شوې مېينه<br>
بيا به نرۍ کميس ونه کړم

**١ . يادښت**: په لنډيو کې هر ډول بېلګې موندی شو، که لنډۍ د موضوعي ويش له پلوه وڅېړو، نو د هرې موضوع په اړه په لسګونو کتی شو. د لنډيو په ځينو کتابونو کې موضوعي ويش هم وړاندې شوی، د لته يې عامې بېلګې کتلای شئ.

www.sikaraam.com

بېگا باران و، جانان ټوله وليد مه
زړه مې ناسور په وينو سور دی
سرپوښ تنور دی، سرې لمبې وهي دننه
خدايه گورگورې تورې مه کړې
جينکۍ سرې شونډې وروړې –تورې راوړينه
خدايه د چرگ ژبه گونگۍ کړې
زه داشنا غيږې ته اوس راغلې يمه
«الف» اشنا کړم «ب» جدا کړم
«ت» په توبو ورله ورځم که پو خلاشينه
داپټ مين يم، پټ به ژاړم
پټې به اوښکې په گرېوان کې تويومه
پېغلتوب نيمه پاچايي ده
ورک ناوېتوب شه، چې دوه نيمې ورځې وينه
په تعويذونو پوره نه شوه
اوس به لمن په زيارتونو گرځومه
سترگې دې تورې په چل گورې
دليلا خورې په کتو دې ميين کړمه
داته چې ځې اخر به لاړشې
ماته گړۍ په گړۍ مه وايه چې ځمه
ددروازې دخوا ملنگه
تکيه دې خدای شه مونږه ور پورې کوونه
په نيمکښو تمبو کې گورې

www.sikaraam.com

زاره دې مه چوه زه يو ازې ناسته يمه
په تصور مې ځان پاچا کړ
چې سر مې پورته کړ ملنګ د دنيا ومه
زما پرې ستا مينه ما تيره ي
ګلابه څکه دې په جيب کې ګرځومه
صبر مې نور له مخې نه شي
زړه مې تر خولې پورې راځک شو مړ به شمه
ټټر مې ننبه ورته ايښې
يارپرې ليندۍ سترګې راکاږي خير دې وينه
ښه ده چې ته له خيره راغلې
ما په کچکول پترې وهل درپسې تلمه
تاج دې د حسن په سر پروت دی
څکه دې درته سلامی راغلی يمه
تخت مې بې ياره په کار نه دی
تخته مې خوښه ده چې يار راسره وينه
مينه دې اور دی په ما پور دی
رنګ مې تک تور دی غم دې زور دی مړ به شمه
چې مخ راستون کړې غم مې ستون کړې
مخ دې ستون مه شه زما غم راستنوينه
زما د يار د اسې خندا ده
د سلو کالو مرور پو خلا کوينه
زما د عمر سره سمه


www.sikaraam.com

ميرات شي غمه په خندا دې تېرومه
زما د زړه ناكاره رنځه
نه دې دارو شته، نه دې حال ويلى شمه
ستا د ښايست ګلونه ډېر دي
ځولۍ مې تنګه زه به كوم-كوم ټولومه
په نيمنۍ تيږه مې وله
دارې خومه يايه چې خوله نه دركومه
ديدن په لک، خندا په زر ده
د سپينې خولې بيه به نه معلومومه
د يار كنځل د ګل ويشتل دي
بد يې خندل دي، چې د بل سرى كوينه
په سينه يو لالى ځاييږي
زه لونګين او جانان دواړه ځايومه
وطن د يار په سترګو خوږوي
چې يارېې نه وي، څوک يې څه پروا لرينه
او به چې ډنډ شي بوى پيدا كړي
د ډېرې ناستې دا شنا خپګان راځينه

*زده كوونكي دې دلنډيو د لا پراخه څېړنې او كتنې لپاره دالاندې كتابونه وګوري:*

۱.پښتني سندرې. پښتو ټولنه، ۱۳۳۳ او ۱۳۳۵ المريز، كابل.(دا كتاب دوه ټوكه دى، لومړى ټوک يې لنډۍ دي، چې

www.sikaraam.com

د محمد ین ژواک په زیار خپور شوی دی.)

۲. *پښتو ټپه:* د پروفیسور داور خان داود، یونیورستي بک ایجنسي، ۱۹۹۵میلادي، پېښور

۳. *ټپه او ژوند:* د پروفیسور محمد نواز طایر، پښتو اکاډمي- پېښور پوهنتون، ۱۹۸۰میلادي، پېښور

۴. *روهي سندرې(دوه ټوکه):* سلمی شاهین، پېښور پوهنتون پښتو اکاډمي، ۱۹۸۴میلادي، پېښور

۵. *ګل ټپې(څلور ټوکه):* د ګل محمد کاکړ، کوټه(چاپکال نه لري)

۶. *ګلونه په لنډیو کې:* سرمحقق علي محمد منګل، خپرندوی په خپله لیکوال، ۱۳۹۱لمریز، کابل

۷. *لنډۍ:* د سلیمان لایق په سریزه، پښتو ټولنه، ۱۳۶۴لمریز، کابل

۸. *لنډۍ:* د عبدالروف بېنوا تالیف لومړی ځل په ۱۳۲۵لمریز په کابل او بیا ځلي په ۲۰۰۸م کال په کوټه کې خپور شوی.

۹. *ملي سندرې:* د محمد ګل نوري، پښتو ټولنه، ۱۳۲۷لمریز، کابل

۱۰. *ولسي ملغلرې:* د سید اګل غریبیار، خپرندوی په خپله لیکوال، ۱۳۸۵لمریز، پېښور.

*دلنډیو په اړه ګڼې مجموعې خپرې شوې، چې د ټولو نومونه دلته نه شي لیکل کېدی په پورته یادو کتابونو کې د لنډیو ببلګه ییزې او څېړنیزې ټولګې دواړه نبوول شوي دي*

# غــاړې

غاړې، چې په کاکړیو غاړو (کاکړۍ غاړې) او کله هم په کاکړیو یادیږي، د پښتني فوکلوریو مهم ژانر دی، چې یوازې د یوه بیت په بڼه وي او د بیت دواړه مسرۍ په خپلو کې سره هم قافیه او هم ردیفه وي. عموما کاکړۍ اته څپیزې وي، خوځینې مهال یې یوه مسره له بلې سره څپه ییز توپیر هم لري. یعنې داسې، چې یوه مسره یې تربلې یوه څپه زیاته لري. د بری ځل دغه ډېرښت په دویمه مسره کې وي او لومړۍ مسره اکثره وخت تربلې کمه راځي. د څپو دغه ډېرښت یا کمښت په ویلو کې نه محسوسیږي، یوازې په څپه ییزه تجزیه کې یې کتی شو.

کاکړۍ غاړې په هره موضوع کې ویل شوي او په هره موضوع ویل کېدی هم شي. د مینو په ستاینه، د کورني ژوند پرستونزو،

www.sikaraam.com

اړيکو، په ټولنيزو راکړو ورکړو، په سياسي حالاتو، په ديني او عقيدتي مسايلو، په ټولنيزو ناخوالو، د ظلم، زور او زياتي پروخت، دزده کړې په وخت او بالاخره د پښتنو د ژوندانه په هر اړخ کې ويل شوي او ويل کېدی شي.

لکه چې د لنډيو لپاره د موضوع څرنګوالی نه شي ټاکل کېدی، غاړې هم عينا همدا سې موضوعي جوړښت لري، چې د ژوند په هيڅ برخه کې ترې انکار نه شي کېدی او هره موضوع را چاپېرولی شي.

د غاړو څپه ييز جوړښتونه:

١. چې دواړه مسرۍ يې په يوه وزن وي. لکه:

سپين کالي هلک مې يار دی

تور کالي ولې ولاړ دی

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سپين | کا | لي | هـ | لک | مې | يار | دی |
| تور | کا | لي | و | لې | و | لاړ | دی |

٢. چې يوه مسرۍ له بلې نه په وزن کې زياته وي. لکه:

خوب ظالم دی ترمرګي

بې ګرانه کم دی ځي راځي

څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خوب | ظا | لم | دی | تر | مر | ګي | |
| بې | ګرا | نه | کم | دی | ځي | را | ځي |

پورته وينو، چې لومړۍ مسره يې اووه او دويمه يې اته څپې

www.sikaraam.com

لري.خو په وينګ کې اووه - اته او اته - اته څپه ايزې کوم توپير نه رامنځته کوي.

## د غاړو ډولونه:

د شکل يا بڼې له مخې ځينو څېړونکو غاړې په پنځو ډولونو وېشلي:( کاکړۍ غاړې د محمدصادق ژړک ).

### ۱.کړې غاړې:

دا د غاړو هغه بڼه ده، چې پخوا دود وه او درديف او قافيې خيال په کې نه ساتل کېده او ورسره د اهنګ له مخې هم په پوره توګه يوه مسرۍ بلې ته ورته نه ښکاري. لکه:

پر کابل اختو بندي دی
شېرجان مړ قايم پراره

يا دا چې:

ترغوړو مه د ګران نسي
پيکی خدای نه دی راکړی

په پورته غاړو کې دلومړۍ او دويمې مسرۍ ترمنځ رديف او قافيه نه شته، خو اهنګ لري.

### ۲.ازادې غاړې:

ازادې ځکه ورته وايي، چې د قافيې او رديف له قيده ازادې وي.لکه:

زه څې کېنم ستا ترڅنګ

www.sikaraam.com

اخلم له ګردې دنيا خوند
يا دا چې:
ژير تيکری وا ړه ګلان
پرجار راواوړه دبادام

په پورته دوه غاړو کې دردیف پرځای دراغلیو کلیمو تورې یوډول نه دي. په لومړۍ غاړه کې څنګ او خوند وینئ. په دویمه کې ګلان او بادام وینئ، چې قافیه یې سره برابر نه ده، دتورو دغه وینګ دوینا پروخت ډېر نه څرګندیږي، په ځانګړې توګه کله، چې په هغو محلسونو کې ویل کیږي، خو دا ډول غاړې له نورو هغو سره چې په قافیه او ردیف برابرې وي، توپیر څرګندوي.

**۱. هغه غاړې، چې قافیه او ردیف دواړه لري:**

دا غاړې، چې ښایي دغاړو اصلي بڼه ورته وو ایو ترنورو ډېرې په زړه پورې دي. اصلاً دغاړو کیفیت همدغه ډول برابر کړی. لکه:

کډې ځي نرې باران دی
په هلمند کې مې جانان دی
یا دا چې:
یوه شپه ده، خدای دې دوې کې
سهار ګران ځي په سپېدې کې

په پورته ډول کې په لومړۍ هغې کې باران او جانان سره قافیه دي او په دویمه کې دوې او سپېدې دغه راز ردیف: په لومړۍ کې دی او په دویمه کې (کې) دی.

www.sikaraam.com

**۴. هغه غاړې چې یوازې قافیه لري، لکه:**

خپل به کم په تا پردي
که دې باور وي په یاري

او یا دا چې:

مخ دې پټ که خل دې ویني
یې وړکی ترشېدو سپینې

په پورته دواړو بېلګو کې: پردي –یاري او وینې –سپینې د قافیې کلیمې دي، چې ردیف نه لري.

**۵.هغه غاړې چې یوازې ردیف لري، لکه:**

جار دې شم ترتور پیکي
ځوانان دې ګرد کړل سوداییي

او یا دا چې:

ګران دې نه کیي واده
که کونډه سوم، کوم یې زه

پورته وینو، چې دا غاړې قافیه نه لري، بلکې دورستیو کلیمو یوازې یو- یو توری یې په یوه بڼه لېدی شو. په لومړۍ غاړه کې د پیکي او سوداییي کلیمو وروستۍ (ي) او په دویمه کې دواده او زه کلیمو (ه) دردیف په توګه پېژندی شو.

دغاړو په باب دا هم باید یاده کړو، چې غاړې دلنډیو په نسبت نوي تمدني څېزونه ډېر یادوي. که له یوې خوا غاړې، دلغتونو دوېینګ او یا هم دسیمه ایزتوب له امله دلنډیو په کچه نامتو نه

www.sikaraam.com

دي او په هره پښتني سيمه کې ويونکي يا اورېدونکي نه لري، بيا هم د تمدني اغېز په برخه ترلنډيو مخکې ښکاري لکه:

ناسته يم پرټيلفون
دګران درک نه دی معلوم
سره لارۍ توريې ټيرونه
دملتان راوړي بارونه

په لنډيو کې ټيلفون او لارۍ او ټيرونو په شان کليمې نه شته، يا ډېرې لږې دي. بل پلو په طبيعي توګه په لنډيو کې د دغه نويو نومونو ګډونه هغومره زړه راښکونکی نه ښکاري، لکه په کاکړيو کې. په کاکړيو غاړو کې د دغه نويو اغېزو ګډون هيڅکله په اورېدو کې ناپه زړه پورې نه دی. ښايي په اينده کې لنډۍ هم داوړتيا ومومي، خو په اوسني وخت کې په لنډيو کې د نويو تمدني اغېزو ګډون بېخونده ښکاري او يا دا چې د غاړو په شان طبيعي رنګ يې لانه دی خپل کړی.

دغاړو رنګارنګ بېلګې:

مدينې نوم دې بالا دی
پرتاپاس نوم د پېشوا دی
خدای دې غرق کي پرنګيان
پرميان يې بېل کړل افغانان
سور دې مړ کئ سک زخمي
بخت نامې ځان دې کئ غازي
بنګل مړ ظريف ټپي دی

www.sikaraam.com

پرژوب غرې د پېرنګي دی
وپانسې ته يې خبر اوئ
شېرجان سيګرټ ولګاوئ
سترګې ورو- ورو اړوي
لکه لړم لګوي خولې
رادې سي ورپوخ به زړه کم
میلمستیا به د ګران وکم
جاردې سم ترپراخ تندي
کوې په غم کې خوشالي
اند ښنې مې ستا پرزړه دي
وچ سونان مې دوير نه دي
ترې سوم د سرې پرخوله
غواړم په وچ غره کې اوبه
ستا پرغونډه زنه خال دی
مادې سم نيولی حال دی
غاښ په ورو رالګوه
ځې سار يې خاپ نه وي ښکاره
نه کوي د خولې خبرې
بارخوګان ځوښې زوی مړي
جګه غاړه سپينه خوله
برباد دې کم په بيلتانه
تورپيکی ترزنګنو

راله سرداره د ماينو
ما په لاس تللي دي
کنداري من و ، د سرې تې
تر ويښته يې ملا نرۍ
پرغونډه ظلم مه کوئ
زه له شپې وينم خوبونه
پرگران اچوم لاسونه
سپينه خوله گوتې نرۍ
پرزړه ويشتلې يم چورۍ
خير به غواړمه د ژوند
لگوم ستا پرمړوند
ستاورنونه د برپاسته
سر به مې ز رپر ښو ببېده
ستاپرپلوليا گرځم زه
نه مه دی موړ ښايستې زړه
پرد پسې داوړ له ذاته
اورلړم لمبه يې زياته
پردرگاه د سپين خندا ده
خوله وروړم دادې شاده
نجونې تل په سپوږمۍ وځي
اجل والې به کېوزي
له کښې رالې پرته تلې

www.sikandam.com

په دید دې د برې مړېدې
زما دې کې اوښکې روانې
ځي ته ولاړې ببوجانې
ستا خالونه مخ سبزي
سیوري پرجوړکه د پیکي
سپینه خوله چارګل پرایښی
زړه یې روغ نه دی پرې ایښی
ګرده شپه مې څپ که سپینه
اوس مه راله ترخوله وینه

*[اخځ: په پورته بحث کې د غاړو دوښ پلاټ او اکثره بېلګې یې له - کاکړې غاړې: د محمد صادق ژړک (لومړی برخه)، پښتو ادبي غورځنګ کوټه (چاپکال نه لري) نه اخیستل شوي دي.]*

*د غاړو دلا زیاتې کتنې او ارزونې لپاره وګورئ:*

۱. *کاکړې غاړې:* د محمد صادق ژړک، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، چاپکال نه لري.

۲. *کاکړې لنډۍ:* د صاحبزاده حمید الله د پښین، ۱۹۲۷ میلادي، کوټه

۳. *غاړې:* د پروفیسور سیال کاکړ، ۱۹۲۹ میلادي، کوټه

۴. *کاکړۍ:* د پروفیسور سیال کاکړ، ۱۹۷۳ میلادي، کوټه

۵. *پخوانۍ غاړې:* د پروفیسور سیال کاکړ، ۲۰۰۲ میلادي کال، کوټه

۶. *د غاړو ادبي څېړنه:* د سید خیر محمد عارف،

۱۹۹۵میلادي، کوټه

۷. *کليوالي کاکړۍ لنډۍ او ملي مصرۍ*: د غازي محمد حسن، غزنوي کتاب خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۲المريز، کابل

۸. *په کاکړۍ غاړو کې د پښتو سوچه توري (لومړی ټوک)*: د محمد صادق ژړک، پښتو ادبي غورځنګ، کوټه، ۲۰۰۵ميلادي

له دې پرته دولسي ادبياتو په زياترونورو کتابونو کې غاړې د يوه ژانر په بڼه په لږ او کله هم په څه تفصيل را پېژندل شوي دي.

www.sikaraam.com

# پړاکۍ

د اسندرې د افغانستان په سويلي او سويل ختيزو سيمو کې ويل کيږي. سرمحقق زلمی هېواد مل په خپل کتاب «د پښتو ادبياتو تاريخ-لرغونې او منځنۍ دوره) کې په دې اړه ليکي:

«د اسندرې د پښتو د شفاهي ادبياتو يو ځانګړی ډول دی، هره سندره يې يوه څوارلس سيلابيزه مسری لري، چې معمولاً ديوې بلې سندرې په پای کې په خاصه غاړه (لحن) ويله کيږي او په ځانګړي ډول د استعمال مورد نه لري.»

څېړنمل محمد عارف غروال په غزنۍ سندرې نومې کتاب کې پړاکۍ د «لنډکۍ» ترسرليک لاندې راپېژني او يوځای ليکي:

«...ځيني خلک يې پړاکۍ بولي، څوک لنډکۍ ورته وايي، څوک يې ټکۍ بولي او څوک يې د سورې په نامه يادوي، خو څرنګه چې ترلنډۍ لنډې دي او د پښتو په ولسي ادب کې ترې لنډې سندرې

نه شته، نو ځکه ما دلنډکۍ نوم ورته ور وباله...»

*[غرنۍ سندرې ۱۲۳ م مخ]*

څېړندوی رفیع داژانر بیا دلنډکۍ په نامه یاد کړی، خو په ولسي اصطلاح یې پړاکۍ بولي، ښاغلي هېوادمل هم دا نظر وراندې کوي، چې په ولسي سندرو له خپله انده نوم ایښوونه سمه نه بریښي، څرنګه چې یې ولس وایي، هماغه نوم یې باید فوکلور پوهان هم ومني.

پړاکي په هره موضوع کې ویل کېدی شي او په هره ټولنیزه عشقي او کیسه ایزو موضوعاتو ویل شوي.

پړاکي کله ناکله له لنډیو سره هم ویل کیږي او په ځینو پښتني سیمو کې په اتڼ کې هم دکارونې ځای لري.

غرنۍ سندرې د پړاکیو جوړښت داسې ښوولی:

لنډکۍ (پړاکۍ) معمولاً څوارلس سیلابه وي، او دلنډیو په شان په (ونه-ینه- او -مه) په توریو پای ته رسي.

په ونه پای ته رسېدلی پړاکی:

جار په خوست ګرمي ده، ماته کېږده څنارونه

په ینه پای ته رسېدلی پړاکی:

جار دیدن ړلی ده مازیګر یې وروینه

په مه پای ته رسېدلی پړاکی:

تورې سترګې سره لاسونه تاته ناسته یمه

دلنډیو او پړاکیو توپیر داښوول شوی، چې لنډۍ ۱۳ او پړاکی ۱۴ څپه ییز وي، دلنډۍ لومړۍ مسره نهه څپې وي، خو پړاکی بیا

يو ازې يوه مسره وي. د لنډۍ وروستۍ ۱۳ سيلابه مسره له لومړنۍ مسرې پرته يوازې (اکثره وخت) نيمګړې وي، خو پراکې بشپړه مانا ښندي.

بېلګې:

تورې سترګې سره لاسونه تاته ناسته يمه

څپه يېز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| تو | ر | سـ | ګ | سـ | لا | سـ | نه | تا | ته | نـا | ته | يـ | م |
| | ې | تر | ې | ره | | و | | | | سـ | | | ه |

ماخو دې خدای نه لري، چې ته نه وې مېينه

پرېږده د دنيا غمونه زه دې ډېره يمه

په لنډيو کې د سيمه ايزو قومونو د ځينو تاريخي پېښو کيسې هم مخې ته راځي. لاندې ديوه خټک ځوان او د زېبو په نامه ديوې پېغلې د مينې داستان دی: (۱)

---

۱. غرنۍ سندرې د دغو پراکيو کيسه داسې ليکلې:

يو خټک زلمی له خپل اصلي ځای نه، د وزيرستان «تال» نومې ځای ته په سفر لاړ، هلته يې خپله غريبي کوله.

د هغه ځای ديوه مخور لور «زېبو» د ده په زړه کې د مينې ځای ونيو او د ده هم ورسره مينه پيدا شوه، خو داپټه مينه ډېره ژر رسوا شوه. دواړو هڅه کوله خپله مينه پټه وساتي، خو چې بريالي نه شول، نو زېبو مشوره ورکړه، چې وتښتي.

يوه شپه يې د تېښتې لپاره خبره غوټه کړه، او له سيمې نه روان شول، دوی لا ډېر نه وو تللي، چې د کلي چغه (د کليوالو خلکو بهير) ورورسېده. دوی هڅه کوله چې ځان وژغورې، خټک مخکې او زېبو ورپسې وه، په وروستيو شېبو کې خټک دغره سر ته رسېدلی و، خو زېبو لا دغره په بېخ کې ايساره وه، دکلي چغه پرې ورمخکې شوه، زېبو يې دغره په بېخ کې راونيوله، لومړۍ يې پرې دواړه لاسونه غوڅ کړل او بيا يې مړه کړه، وروسته ياده (چغه) دغره سر ته په خټک پسې ورغلل او هغه يې هم له برېتانو راونيو او وې واژه. د دغه پېښې په باب کليوالو

www.sikaraam.com

څه کراره شپه ده، چې ختک زېبو مو ځینه
ورو ختکه ورو ځه، صبحدم دی ستړې شومه
زه به تاته ورو تلم، وروسته چغې ګډې دینه
مه تښته ختکه ما کارتوس راوړي دینه
جار ختک جنګیږي، زېبو شنه شي وخاندینه
جار ختک د شنو پاڼو برغو دی رنګ به شینه
غره په ببخ یې پرې کړل د زېبو سپین مړوندونه
غره په سر یې پرې کړل د ختک چنګک برېتونه

+++

نه ... مې لالی راپورې زه ولاړه یمه
یار مې تور ببری دی، زه ګېډۍ د ګلو یمه
ټینګه غېږه راکه رنګه بنګه د رغلمه
څټ مې په مخ ښکل کړه، چې بیا نه کړې ارمانونه
سپینه خوله مې ستا ده، د بل خاورې شه میینه
جار خوله رانېژدې کړه ما لونګ ژوولي دینه
مه راوړه ساړه لاسونه، ډېر ساړه مې شینه
سور سالو مې ورو – ورو جیګوه له خوبه یمه
زه میینه نه یم، چا دروغ ویلي دینه
پړاکي په ځینو پښتني سیمو کې د منظمو سندرو دیوې بڼې په

---

پړاکي وویل، چې اوس هم د ځینو هنرمندانو په ژبه یادیږي. پورتني پړاکي د دغه پېښې په باب ویل شوي دي

[غرني سندرې ۱۲۷-۱۲۶ مخونه]

www.sikaraam.com

توګه هم کتل شوي. لکه:

جارجار لالیه-مړ مه شې لالیه-زه میینه نه یم-
چادروغ ویلي دینه

*دتفصیل لپاره یې دا کتابونه کتلی شئ:*

۱. *د پښتو ادبیاتو تاریخ (الرغوني او منځنی دورې)*: د سرمحقق زلمي هېوادمل، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹المریز، ۴پېښور.

۲. *غرنی سندرې*: د محمد عارف غروال، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۰المریز، کابل.

۳. *زرینې څانګې*: د حبیب الله رفیع، د زېري جریده، ۱۳۶۰المریز، کابل

۴. *مختصر تاریخ زبان وادب پشتو*: دډاکټر حنیف خلیل، مقتدره قومي زبان، ۲۰۰۹، اسلام اباد.

www.sikaraam.com

# د میندو سندرې

پښتنې میندې دژوند انه په بېلابېلو پړاوونو کې ځینې منظوم جوړښتونه وایي، چې موږ یې د میندو سندرو په نامه پېژنو. میندې کله چې ماشوم کراروي، کله چې دماشومانو دساعت تېرۍ او تفریح ته پام کوي، کله چې غواړي ماشومان بوخت وساتي او کله چې غواړي، ماشومان په یوه عالي او غوره روحیه وروزي نو بیا ورته خاص پښتني منظوم جوړښتونه زمزمه کوي، چې دمیندو سندرې یې بولو.

دا سندرې کوم ځانګړی جوړښت نه لري، کله دوه، کله درې، کله څلور او کله تر دې زیات منظوم ترکیبونه وي، چې د ماشوم لپاره په کې دلهجې بدلون تکي هم کتلی شو. بل پلو سیمو ته پام هم د میندو سندرې تو پیر سرله لري، هم دلهجې له پلوه هم د جوړښت یا بنې له پلوه.

ځینو پښتنو څېړونکو د میندو سندرو ترڅنګ د «الله هو» په

www.sikaraam.com

نامه یوبل ژانر هم ښوولی، چې د میندو له خوا د ماشومانو د کرارولو او یا ویده کولو پروخت ویل کیږي. په پښتونخوا کې مخکنیو او اوسنیو اکثره ښځونکو «الله هو» د میندو سندرې په توګه یو ځانګړی ژانر ښوولی. پرنورو ښځونکو سربېره د پښتونخوا ځوان ښځونکي ډاکټر حنیف خلیل په اردو ژبه «مختصر تاریخ زبان و ادب پشتو» کې دا سندرې دیوه ژانرپه توګه را پېژني او لیکي، چې دا د مور له خوا ماشوم ته د ننګ وغیرت او مېړانې د زده کړې لپاره ویل کیږي. [(مختصر تاریخ وزبان ادب پشتو: ۹۸ یم مخ)] خو دا سندرې د میندو سندرو په عمومي چوکاټ کې یوه ځانګړې بېه ده، چې له دې پرته د ماشوم له زوکړې بیا تر لوېېدو پورې بېلابېله ډوله نورې سندرې هم شته او دا ټول باید د میندو سندرې تر عمومي سرلیک لاندې مطالعه شي.

د میندو سندرې کېدای شي، په څو برخوو وېشل شي، لکه د ماشوم د کرارونې پروخت، د ماشوم د ویده کېدو پروخت، د ماشوم د لوبو پروخت او یا هم هغو ته د نصیحت او پند پروخت. دغه راز په نورو وختونو کې.

دلته د دغه ټولو ډولونو تفصیل نه شي ځایېدای، خو په څو بېلګو به یې وغځوو:

لکه:

اللوللو- پېشو مه راځه دغرو- (پلانکی) جان دا سپې ویده دی،
لکه ګوډی د رنجو

ځینې وخت چې ماشوم ژاړي، مور یې ټپوي او غواړي ژړا یې

www.sikaraam.com

په خندا بدله شي. نو پرې ورتېته شي، په داسې حال کې چې ماشوم دخپلې مور ځانګړي حرکات هم څاري، خبروته یې هم غوږ وي:
چا وهلی- (پلانکی جان) چا وهلی-ګوډ مېږي په پښه وهلی-ګوډ مېږی دې ړوند شي - نن یې بیا وهلی- ادې ته په ژړا راغلی....
ښاغلي رفیع دمیندو د سندرو دابڼه دوردګو په سیمه ایزه لهجه ثبت کړې، خو دغه ډول سندرې د پښتنو په اکثره سیمو کې میندې دخپلو لهجو له وینګ سره سمې وایي.
بله بېلګه:
یو یې سپینکی مخ دی لکه پوځه دچوپان- یوه یې لوړه پوزه ده، که پوله ددېکان- دوه یې غټې سترګې دي که ګاټې دمیدان- دوه یې نرۍ وریځې دی که توری دقران-دوه یې نرۍ شونډې دي، که مزی دګرېوان....
ماشوم ته دننګ و غیرت دښودانې پروخت:
(پلانکی جانه) ښایسته-ښه دې توره ښه وسله-په ښایسته نیلي سپره- چې نیلی دې تماشې کا- تور تازیان دې ورسره.
دماشوم دګرځېدانې پروخت:
(پلانکی) جانه غونډه منډه-دروازګۍ ته وکړه منډه-په ځان دې اتیات وکړه-چې تورپېکۍ دې نه شي کونډه.
کله چې ماشوم په خبرو راشي:
یوه ګونګټه وه -دپولې ترخوا پټه وه- سرېې ښویه کړی و-بتکی یې پرې وهلی و-مېږه ته یې زړه شوی و-شپون ورته ویل چې ما به کړې- دې وی، په څه به وهې - ده ویل په ډانګ به دې وهم-دې

www.sikaraam.com

وي: ته ورک شه ډانګ دې ورک شه- بیا موږک په مخه ورغی وی ما کړې- دې وی په څه به مې وهې- دې ویل په پسته لکۍ -دې ویل تانه ځار شم د پستې لکۍ دې ځار شم - بیا ګونګټه اوبو ته تللې وه- په اوبو کې لوېدلې وه- ویل یې په اوبو سوره – په زنځیر اسپه تره – په موږک مې سلام وایه، چې بې بې ګونګټه په اوبو کې، لوېده.

ꕥꕥꕥ

*دلا زیاتو معلوماتو لپاره دا کتابونه دکتنې وړ دي:*

۱.د *پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دورې)*: د سرمحقق زلمي هېوادمل، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹المریز، پېښور.

۲.د *پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون*: دغوټۍ خاورې، ۱۳۶۶المریز، کابل

۳.د *پښتو د ولسي ادب لارې*: د څېړنوال دوست، پښتو ټولنه، ۱۳۵۲المریز، کابل.

۴.د *خلکو سندرې*: د حبیب الله رفیع، د افغانستان ادب اکاډمي-۱۳۴۹المریز، کابل.

www.sikaraam.com

# د ماشومانو سندرې

ماشومان د هرې ټولنې لويه برخه ده، په پښتني ټولنه کې ماشومان د مينډو له خوا په سندرو او خوږو خبرو نازول شوي. کله چې ماشومان غټ شي له څلور- پينځه کلنۍ وروسته ماشومان په خپله له نورو ماشومانو سره لوبو ته وځي. دوی د کورونو ترمخ، د کلي په ميدانونو کې، د حجرو او جوماتونو ترڅنګ او يا په نورو هغه ځايونو کې چې ورسره مينه ولري، لوبې کوي. پرلوبو سربېره دوی په خپله هم سندرې وايي. دا سندرې دوی کله په ګډه او کله هم په يوازې سر زمزمه کوي. معمولا هغه وخت، چې دوی په ځينو لوبو بوخت وي، له نورو سره په ګډه سندرو ويلو ته هڅېږي.

په اوسني وخت کې ماشومان کله-کله دراډيو ګانو سندرې هم وايي، چې اوس-اوس دود شوي، خو ددوی اصلي هنر دانه دی، بلکې له ډېرپخوا راهيسې دوی خپلې ځانګړې سندرې لري، چې ځينې يې په ځانګړې توګه د ځينو لوبو پروخت او ځينې يې بيا په

www.sikaraam.com

انفرادي ډول وايي.

د ماشومانو سندرې ساده او خاص ولسي رنګ لري، دا هغه وخت وي، چې دوی لا سواد نه وي زده کړی او يا هم د سواد زدکړې په لومړنيو او ټيټنيو پوړيو کې وي، چې ليکنۍ ژبې لا پرې اغېز نه وي کړی. د دوی سندرې د سات تېرۍ، د يوه بل د کړلو او يا هم د ځينو ځانګړيو لوبو پروخت وي. دا ختر په شپو، په ودونو کې د لوبو پروخت او يا هم د نوي کال په شان شپو کې سندرې وايي.

چاچي - ستا چرګه ما چيچي
کاکا دې خدای لري- سبا به بله راولي
کابل کې ګل اندامې دي- په شل روپۍ ارزانې دي
ټکنده غرمه ده - کوچۍ غريبه مړه ده
ورور مې تلی دی درې ته - رابه شي غرمې ته
ماله به پلي راوړي- پلي به ورکړم غواته
غوا به ماته پۍ راکړي- پۍ به ورکړم سيند ته
سيند به ماته کاڼي راکړي-کاڼي به ورکړم خدای ته
خدای به ماته ورور راکړي
يه وروزه بيداره شه - ستا په لونګۍ ډزې دي
ګډوډې ورځې دي.
لادې پړی- دوه دې رخړی
چرګه مې ناجوړه ده - بانه مې ورته جوړه ده
کومه يوه نيسې؟ وچه ! درغلم په پچه
کومه يوه نيسې؟ لمده- درغلم په بنده

www.sikaraam.com

ګړی ګړی جوپ- یوه لغته یو سوک
جان جان جوپ-که چا خبرې وکړې یوه لغته یو سوک
په شنه اسمان وریږي - د ګیدړې لور ودیږي
اکوبکو - سرسینده کو- غوامې لاړه په ترپکو-پاتو خورې
راوځه په لاسو کې دې الوچې دي، زرغونې دي- الیشرنګ ډبل غپ

د ماشومانو ځینې سندرې او اصطلاحګانې مانا هم نه لري، یا یوازې د قافیې د پوره کولو لپاره وي او یا هم هغو ته په خپله ژبه کې مانا دارې ښکارې.

دماشومانو سندرو لپاره وګورئ:

١. *د پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون*: د غوثي خاورې دافغانستان دعلومو اکاډمي، ١٣٦٢المریز، کابل.

٢. *په پښتو کې د ماشومانو سندرې او صوتونه*: د پروفیسور محمد نواز طایر، پېښور پوهنتون-پښتو اکاډمي، ١٩٨٩میلادي، پېښور.

٣. *د خلکو سندرې*: د حبیب الله رفیع، افغانستان اکاډمي، د تاریخ او ادب ټولنه، ١٣٤٩المریز، کابل.

۴. *د کوچنیانو ادبیات*: د محمد اصف بهاند، د چاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ١٣٦٢المریز، کابل.

۵. *دماشوم ګلونه*: د غلام حضرت روغمن، دافغانستان دلیکوالو انجمن ١٣٦٩المریز(داکتاب زیاتره دلویانو له خوا

www.sikaraam.com

ماشومانو ته ليکلي شعرونه راښيي.)

۶.د ماشومانو سندرو په باب او دلويانو له خوا ماشومانو ته ليکل شوي ځينې شعرونه، منظومې او منثورې کيسې، په دې ورستيو کې په کابل او پېښور کې دلاندې مرستندويه ټولنو له خوا خپرې شوي:

۱.بي.بي سي راډيو۲.داريک دګرځنده کتابتونونو اداره۳. مصوربنسټ۴.شانتي رضاکاره ټولنه (دجاپان په مرسته). ۵.له افغان ماشومانو سره دالمان دمرستو اداره۵. دافغانستان لپاره دسويډن کومېټه۷.دبيفيرمرستندويه ټولنه او ځينې نورې.

# کیسۍ (اړ)

کیسۍ هم ماشومان وايي او هم لويان. کیسۍ ته په دري کې چیستان او په ځينو پښتني سیمو کې ټکونه یا اړ(اړونه جمع)هم وایه شي.

د پښتونخوا یوه څېړونکي پروفیسور داور خان داود په دې اړه پوره کتاب لیکلی، دی دهمدغه کتاب په ۵۲م مخ کې لیکي:

«دفوکلور دنورو اصنافو په شان اړ هم دپښتو دولسي ادب یو مشهور صنف دی، چې په اردو کې ورته «پهیلی»او«بجهارت» فارسۍ کې ورته «چیستان»عربۍ کې لغز، انګرېزۍ کې RIDDLEپنجابۍ کې «بجهارتا»او بلوچۍ کې «چاچ» ویلی شي.

دبرې پښتونخوا پښتانه، اړ ته دونې، دوړې او کیسۍ او دسویلي پښتونخوا ولس ورته هم کیسۍ وایي.دکوزې پښتونخوادمختلفو سیمو خلک اړ ته نور نومونه هم اخلي لکه:دوړې، دونې، سوکړې، ټکونه، پړوکې، کلتونکی، او داسې


www.sikaraam.com

نور، خو اړ ددې ټولو نه زيات مستعمل او قابل فهم نوم دی.

اړداړول له مصدر نه وتی دی.اړ، اړول، او اړه هم ديوې مادې نه وتی يعنې هم ماخذ لغات او کلمات دي، چې په ژبه کې د استعمال په وجه يې مختلف اشکال، مطالب او مفاهيم خپل کړي دي.»

*[پښتو فوکلور کې اړ(۵۴-۵۳مخونه)]*

کيسې يا اړ کله ددوو تنو او کله ددوو ډلو ماشومانو ترمنځ د ساعت تېرې، ذهني ذکاوت معلومولو او لوبو په وخت کارول کيږي. کيسې هم منظوم او هم په منثورو بڼو کتلی شو. د نورو فوکلوريکو ژانرو په شان کيسې هم لرغونی تاريخ لري، خو د پيلبدا ځرګند وخت يې نه پېژنو. د پښتو په ځينو پخوانيو نکلونو کې هم د کيسيو په شان پوښتنې شته. ښاغلی څېړنوال دوست په دې اړه ليکي:

«د فوکلوريستانو په عقيده، کيسې په ډېر لرغوني وخت کې دودونو په دود و دستور کې شاملې وې. لکه چې لرغونې روايات او افسانې شاهدي ورکوي، په ډېرو لرغونو وختونو کې د ناوې کورنۍ ددې لپاره، چې د خپل زوم د ذهنيت او پوهې اندازه معلومه کړي، له ده څخه به يې د کيسې په ډول څو پوښتنې کولې او په دې صورت کې به يې معلوموله، چې ددوی زوم ددوی له خور يا لور سره د ګډ ژوند وړ دی که نه؟ د سيف الملوک او بدري جمالې په لرغونې کيسه کې ويل کيږي:

کله چې له دوولس کاله مزل او خواريو او زحمت ګاللو وروسته سيف الملوک له بدري جمالې سره واده کاوه، د بدري جمالې


www.sikaraam.com

پلار د سيف الملوک نه دا درې پوښتنې وکړې:

الف: د څه شي غوږ تر ټولو زيات دي؟ ځواب: د باران ځکه چې هرشي ته غوږ ورکوي.

ب: د څه شي ګل ډېر ښه دی؟ ځواب: د پومبې ځکه چې د هرچا پوښاک دی.

ج: د څه شي زور زيات دی؟ ځواب: د اس ځکه چې ملکونه ايل کوي او د پښو درزار يې ترليرې ځای پورې رسيږي.»

*[د پښتو دولسي ادب لارې، ۱۵۰ م مخ]*

په دې توګه کيسې نه يوازې ماشومانو ته بلکې د پښتو په لرغونيو نکلونو کې د لويانو له خوا هم د کارونې وړ دي.

د کيسې ارزښت يوازې تفريح او ساعت تېري نه بلکې د ذهني ودې او پرمختګ دليل هم ښود ل شوی دی.

فوکلور پېژندونکو کيسې په درې ډولو وېشلي:

*۱. منظومې کيسې*

*خو منظوموالی يې قاعده نه لري، کله دوه يا درې ترکيبه، کله هم ديوه بيت يا مسرې په بڼه*

*۲. منثورې کيسې:*

*چې ژبه يې يا ټوله د نثر په بڼه وي او کله لږ څه اهنګينه وي.*

*۳. نيمه منظومې کيسې:*

*چې اهنګ لري، نه پوره منظوم وي او نه ټول د نثر په بڼه*

د دې ټولو بېلګې لاندې وينو:

د منظومو کيسيو بېلګې:


www.sikaraam.com

ماجوړ کړ سمدلاسه - پرې وختم د پاسه
په مخکې او په شا ځي - دی پورته په هوا ځي
(ځواب: تال)
څرګه د چورګوړو سره لاړه هندوستان ته
رابه شي مابنام ته
(ځواب: ستوري او سپوږمۍ)
نه ګرځي نه خوراک کا - نه يې بلې خواته تله شي - انسان ورته وايه شي.
همېش په يوه حال وي - سترګې هم رپوی نه شي - انسان ورته وايه شي
(ځواب: عکس=انځور)
هيڅ نه وي دورځې - خو چې شپه شي راپيدا شي - هرچاته په خندا شي
خندايې ده فيض ناکه - د خندا سره ژړېږي - ځان وخوري بيا ورکيږي.
(ځواب: شمع)
نيمه منظومې کيسې:
لکه:
جينجړ تاته جينجړ ماته - جينجړ وخاته منا ته
(ځواب: لوګی)
هلته لګي - دلته لګي - سر يې په کابل لګي
(ځواب: تسکوره)

www.sikaram.com

خېټه يې شته - کولمې يې نه شته
خوله يې شته - ژبه يې نه شته
(ځواب: چاینک)

د موضوع له مخې کیسې بېلابېل ډولونه لري لکه:

فی البدیهه کیسې - مجهولې کیسې - معقولې کیسې - استفهامیه کیسې - نثري شاهکار - ورزشي کیسې اونور.

په پښتو ژبه کې ډېرې کیسې شته، چې جوړښتونه يې هم بېلابېل دي او لا ژورو کتنو او څېړنو ته اړې دي.

کیسې بېلابېل نور ډولونه هم لري، چې دا برخه باید پوهنتوني زده کوونکي د کورنیو دندو په توګه بشپړې کړي.

*د کیسیو د لا زیاتې کتنې لپاره لاندې کتابونه کتلای شئ:*

۱. *پښتو فولکلور کې اړ:* د پروفیسور داور خان داود، خپرندوی پخپله لیکوال، ۱۹۹۷ میلادي، پېښور.

۲. *د پښتو د ولسي ادب لارې:* د څېړنوال دوست، پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵۲ المریز.

۳. *جم د ارمستټر:* د پښتونخوا د شعر هاروبهار، پښتو ټولنه (دریم چاپ)، ۱۹۷۸ میلادي، کابل.

۴. *د پښتو قیصې:* پوهاند رښتین او غلام رحمان جرار، پښتو ټولنه، ۱۳۳۱ المریز، کابل.

۵. *اړونه او ټکونه:* غلام نقشبند ماماخېلی، ننګرهار مجله، ۱۳۴۰ المریز کال بېلابېلې ګڼې.


www.sikaram.com

۶. *دخلکو سندرې*: حبیب الله رفیع، دافغانستان اکاډمي – دتاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹ المریز، کابل.
۷. *دا په څه شی وي؟*: علي محمد سوبمن، فوکلور مجله- بېلابېلې ګڼې، کابل ۱۳۵۴-۱۳۵۵ المریزکلونه، کابل.
۸. *دغرونو څوکې*: دعبدالکریم پتنګ، پښتوټولنه، ۱۳۵۷ المریز، کابل.
۹. *ولسي سندرې*: دزلمي هېوادمل (دااثر دري ټوکه دی، په لومړیو دوو ټوکونو کې ځینې برخې کیسې لري) دافغانستان دعلومو اکاډمي، دژبو او ادبیاتو مرکز. *[۱۳۶۱، ۱۳۶۷ المریزکلونه، کابل]*
۱۰. *اړونه ټکونه او دوړې (قلمي)*: سراج الاسلام سراج، دپېښورپوهنتون پښتو اکاډمی کتابتون، ۱۹۲۱ میلادي (دتالیف کال)، پېښور.
۱۱. *ټکونه یا د ماغزو جنګ*: دهمېش ګل همېش، عوامي کتب خانه قصه خوانی پېښور (چاپکال نه لري).
۱۲. *پښتني افکار*: دسیال کاکړ، خپرندوی په خپله لیکوال، ۱۹۶۹ میلادي، کوټه.
۱۳. *فولکلور (مجله)*: دافغانستان داطلاعاتو او کولتور وزارت دکولتور او هنرریاست-دفوکلور او ادب امریت، بېلابېلې ګڼې (په دغو کې د «اړونو =کیسو) په باب د سرمحقق هېوادمل، سرمحقق علي محمد منګل او ځینو نورو څېړونکو یوشمې مقالې خپرې شوې )دامجله دروانې لمریزې پېړۍ د پنځمې لسیزې له پیله بیا تر ۱۳۵۷ پورې خپرېده.

www.sikaraam.com

په دې اړه په ځینو نورو لیکنو، خپرونو او دولسي ادب په ځینو نورو کتابونو کې هم یو نیم ځای د کیسیو موضوع څېړل شوې او بیلګې یې وړاندې شوي دي.

www.sikaraam.com

# سروکي

سروکي د پښتني فوکلوريو ځانګړی منظوم ډول دی، چې له لنډۍ سره د يو ځای ويلو په ترڅ کې پوره کيږي او څرنګه چې د لنډيو په سر کې ويل کيږي نو د سروکي په نامه نومول شوی. په ځينو سيمو کې ورته «نيمکۍ» هو وايي. (۱)

سروکي معمولا پښتنې مېرمنې او پښتانه هنرمندان په هنري

۱. ځينو پښتنو څېړونکو سروکي او نيمکۍ دوه بېل ژانرونه راښوولي. خو د دغه دواړو په جوړښت کې هيڅ توپير نه شته او دا نومونه يوازې سيمه ايزه بڼه لري. د سروکو او نيمکيو جوړښتونه يو دي. دا ډول نومونې معمولا زموږ مخکنيو څېړونکو کړي، چې يا هغه وخت د پوره څېړنې او فوکلور راټولوونې امکانات موجود نه وو او يا فوکلوريکې څېړنې پراخه شوې نه وې. وروسته بيا څېړنو وښووده، چې دا دواړه يو ژانر دی. عجيبه دا ده، چې اوس هم ځينې پښتانه څېړونکي په همدې ناسم نظر دي او دواړه بېل ژانرونه ګڼي. په دې وروستيو کې (۲۰۰۹ ميلادي) په اردو ژبه د پښتو خوځنده څېړونکي ډاکټر حنيف خليل په ليکلي کتاب: «مختصر تاريخ زبان وادب پشتو» کې هم سروکي او نيمکۍ بېل ژانرونه ګڼل شوي او په مخکنيو ځينو منابعو يې – پرته له دې چې وې څېړي – استناد کړی. په همدغه کتاب کې ځينې نور ژانرونه هم، چې اصلا د يوه بل ژانر برخه دي، راپېژندل شوي. دا کتاب يوازې د فوکلوريکو ژانرونو په باب نه دی، بلکې په عامه توګه ټول پښتو ادبيات رانيسي، چې په نورو برخو کې هم د کره کتنې لپاره ځای لري.

www.sikaraam.com

مجلسونو کې- د هنري الاتو د کارونې پروخت- وايي. هغه لنډۍ چې سروکی بشپړوي، ټیکی ورته وايي.

هغه وخت، چې په مقامونو، داستانونو او نورو سندرو د مجلس بڼه ستړې ښکاره شي، معمولاً يې هنرمندان وايي. سروکي دويلو تود ياګرم انداز لري او ترويلو وروسته يې بيا لنډۍ بشپړوي او سروکي ورسره بيا بيا تکراريږي، چې هم ويونکي او هم ورته ناست اوريدونکي دعادي سندرو په نسبت په ډېر پرجوش وجذبه راولي. کله داسې هم وي، چې سروکی ډېر نه تکراريږي، يوازې د سندرې په سر او پای کې ويل کيږي.

سرمحقق زلمي هېوادمل د سروکو په باب په لنډه بحث کې مهمې خبرې کړي:

«داسې ښکاري، چې سروکي د پښتو د خاصو سندرو لکه چاربیتو، بدلو، بګټیو او لوبو پاتې شونې دي. مانا دا چې د پښتو د ولسي ادبياتو دغه ګردې يادې شوې سندرې هره يوه، يو سر او په سر پسې بندونه لري. څنګه چې دا سندرې هم اکثره شفاهي بڼه لري، دوختونو په تېرېدو سره يې بندونه د خلکو له حافظو وځي او يوازې سر يې پاتېږي، چې بيا يې د محلي تنګ ټکور څښتنان دلنډيو په وسيله بشپړوي او ديوې بشپړې سندرې په بڼه يې وړاندې کوي. سروکي سره له دې چې زياتره برخه يې د پښتو ولسي سندرو پاتې شونې دي، ځينې داسې سروکي هم شته، چې ذوقيانو جوړ کړي دي له هغه پاتېشونو او دغو نويو جوړو کړيو سروکو څخه د پښتو شفاهي ادبياتو دغه ډول راپيدا شوی دی،

www.sikaraam.com

چې په عام ډول (سروکي) بلل کېږي. په ځينو پښتني سيموکې نيمکۍ هم ورته وايي. د پکتيا د منګلو پښتانه يې پامونه بولي.»

*[د پښتو ادبياتو تاريخ (لرغونې او منځنۍ دورې) ۸م مخ]*

سروکي بېلابېل جوړښتونه لري، ځينې سروکي لنډيو ته ورته بڼه لري. ځينې يې بيا درې يا څلور او کله هم ترديې زياتې مسرۍ لري.

ښاغلي هېوادمل سروکي پردوو ډولونو وېشلي: عام سروکي او خاص. عام يې هغه ښوولي، چې په عمومي توګه يې پښتانه هنرمندان د موسيقۍ په مجلسونو کې وايي او يو ډول يې هغه راښوولي، چې داتڼ په ډګرونو کې ويل کېږي. اوس–اوس پښتانه هنرمندان سروکي تقريبا د موسيقۍ په هر محفل کې وايي او دايې هغه لومړنی ډول دی.

ښاغلي دوست شينواري بيا د سروکو ډول لږ نور هم غځولی او وايي:

«په لنډيو کې د تکرار په نسبت نه بلکې د خپلو اجزاوو د تاليف په نسبت سروکي په دوه ډوله دي:

الف: هغه سروکي، چې په خپل جوړښت او تاليف کې يې تکرار نه وي. يعنې نه ټول تکرارېږي او نه د هغوی يوه ټوټه يا برخه.

ب: هغه سروکي، چې يا ټول تکرارېږي او يا د هغو يوه برخه.»

بيا لومړی ډله په پارکو وېشي: مثلا دوه پارکيز، درې پارکيز، څلو پارکيز او د غسې پنځه پارکيز.

بيا نا انډوله سروکي هم راپېژني.

www.sikaraam.com

دغه وېش که څه هم د بحث وړ دی، خو اوس – اوس د سروکو بڼې يو څه بدلې شوې هم دي او د تکرار مسله يې ويونکو ته پاتې ده. که ويونکی (هنرمند) دلنډيو په منځ – منځ کې د تکرار لحن ولري، کوي يې او که يې ونه لري، ترې تېرېږي.

د سروکو بېلابېلې بڼې

۱.اتڼيز سروکي:

داتڼ سر:

پرې مې ږده داتورې زلفې چې په مخ زانګي- نه ږدم درنجو خالونه سبا به وران وي

له لنډيو سره يوځای:

سترګې دې تورې په رنجو کړه- مه ږده درنجو خالونه

د مسافر اشنا دې غږدی رابه شينه –مه ږده درنجو خالونه سبا به وران وي

پرې مې ږده داتورې زلفې په مخ زانګي....

داتڼ سر:

تاويشتلی يمه وابې غوره ياره –خوب، خوب مې وړينه

له لنډيو سره ګډ:

سترګې دې ډکې تمانچې دي- تا ويشتلې يمه وابې غوره ياره خوب خوب مې وړينه

زه دې په ډکو تمانچو ويشتلی يمه – وابې غوره ياره خوب خوب مې وړينه

تا ويشتلی يمه وا بې غوره ياره –خوب خوب مې وړينه

www.sikaraam.com

**عام سروکي:**

عام سروکي پښتانه سندرغاړي د موسيقۍ په هره ډول محفلونو کې وايي. سره له دې چې اکثره سروکي له موضوع سره سم، خپلې ځانګړې لنډۍ يا ټيکۍ لري، خو دا هم ممکنه ده، چې هره ډول لنډۍ په کې وويل شي. ډېری اوسني هنرمندان دا توپير نه کوي.

ادکې مورې ماړو له ځمه –دېډ يالۍ توتان ړلۍ وهلي دينه ماړو له ځمه

له لنډيو سره ګډ:

دتوتو پاڼې مې خوراک وای - ماړو له ځمه

ادکې مورې ماړو له ځمه- دلبره مه وای دموزي دکور غمونه– ماړو له ځمه

ادکې مورې ماړو له ځمه –دېډ يالۍ توتان ړلۍ وهلي دينه ماړو له ځمه

په پښتو ژبه کې سروکي بېلابېل موضوعات لري، خو اکثره يې عشقي دي او دمينتوب او مينې مختلف حالتونه بيانوي. خو له دې سره سره ځينې سروکي تاريخي پېښې هم راښيي: لکه

ورته راکاږه توپونه –ناوګۍ موندو ورانه کړله عمراخانه

له دې امله چې دسروکو جوړښت بېلابېل ډولونه لري، له ځينو ايزې تجزيې نه تېرېږو او يوازې بېلګې يې ښيو:

هلک نرۍ چينار دی- په سر يې دګل ونه –په زنه يې شين خال دی - په غاړه تاويزونه

راځه چې درومو تورو غرو ته ځنګ په ځنګ- څه تورې


www.sikaraam.com

ګور ګورې دي، په تورو غرو کې د پېښې
کټ په بام ایښی دی- ډاډه راځه لالیه- سور مې شال ایښی دی -ډاډه راځه لالیه
د تورو غرو په سر مې کلی د جانان دی- څه نری نری باران دی باران
ستا لېونۍ مینه مې خوب ته نه پرېږدینه- نرۍ- نرۍ او به راځي ما ډوبوینه
(او) بندیوانه مې ساتینه- ماته لالی وای- چې چېرته مه ځه دزړه سره
جانانه راشه په ګلشن نوی بهار دی- زړګی مې بې قرار دی- زما شېرینه یاره
تورې سترګې خماري- درته کړم ناله زاري- دزړه زخم مې کاري -شوم رسوا ستا په یاري
نن د جانان دیدن ته ځمه- تورې نرۍ وریځې- خدای خو دې لنډه کړي داد زمکې تنابونه- مستې نازنینې
په لوړو غرو باندې راتاو شو توپانونه یاره- ږلۍ وریږینه- مه ځه دلته شپه وکړه- پاتې شه باران دی
کراره شپه ده- خلک ټول کوي خوبونه- زړه زما کوي دردونه جانانه
طالبه ډېر مې یادېږې- بیا ولاړه یمه- طالبه ډېر مې یادېږې
په اوسنیو هنري محفلونو کې چې دولسي او دیواني شاعرۍ یو ګډوله بڼه راښیي، دلنډیو دویلو پروخت په منځ- منځ کې هم

سروکو ته ورته بيتونه ويل کيږي، لکه:

چې په سيونډ کې تـرې چا پېره سـمندر دی – بېشـکه قلنـدر دی- بېشکه قلندر دی

ته راته رباب وهه او زه درته منګی- مـخ بـه ماسره جنګی ـمخ بـه ماسره جنګی

ښـومره ښايسـته دی – ښـومره ښـکلی مزيـدار دی – دامخـامخ هلک مې يار دی

ورور مې ولاړ و، تامې تاو کړل مړوندونـه – وې ليدم، قسم دی يار ه وې ليدم

يو ښکلی رانه ورک دی- دګلو نه نازک دی- که چاراوسته ماله – په ژوند به شم خوشاله – وبربړم بد مې حال دی – په لاس يې فيـروزه ده – په زنه يې شين خال دی.

ଔଔଔ

*د سروکو دلاکتنې او سپړنې لپاره لاندې کتابونه کتلای شئ:*

۱.*پښـتنې سـندرې* (دوه ټوکـه): محمـد ديـن ژواک او پښــتو ټولنه، کابل ۱۳۳۳المريز-۱۳۳۵کې وروستۍ برخې.

۲.*د خلکـو سـندرې* د حبيـب الله رفيـع، افغانسـتان اکـاډمي – د تاريخ او ادب ټولنه – ۱۳۴۹المريز، کابل.

۳.*سروکې:* د عبدالکريم پتنګ، خپرندوی؟۱۳۵۸المريز، کابل

غرنـۍ سـندرې: د محمـد عـارف غـروال، پښـتو ټولنـه،

www.sikaraam.com

۱۳۶۰ل مريز، کابل.

۴.*زرينې څانگې*: د حبيب الله رفيع، زېرى جريده، ۱۳۶۰م لمريز، کابل

۵.*د پښتو شفاهي ادبيات شکل او مضمون*: د غوتۍ خاورې، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲ل مريز، کابل.

www.sikaraam.com

# ناري يا غړونه

ناري د پښتني ګړني ادب يوه ځانګړې برخه ده. دا ناري په بېلابېلو بڼو په بېلابېلو ځايونو کې د کارونې ځايونه لري. زموږ فوکلور ټولوونکيو دا ناري په بېلابېلو بڼو په سره جلا ژانرو نوښوولي. لکه تاريخي ناري، دهوتکو ناري، داتڼ ناري، سنځرخېلې ناري او نور. خو د ښاغلي هېوادمل دو پښ له مخې دا ټولې د نارو تريوه سرليک لاندې د مطالعې وړ دي. البته وروسته په موضوعي او شکلي لحاظ او يا هم د ويلو د ځايونو له مخې بايد سره وو پشل شي. په دې توګه د پښتو ادبياتو تاريخ د نارو برخه په درې ډولونو راپېژني:

«۱. داتڼ ناري

۲. تاريخي ناري

۳. د نکلونو ناري»

www.sikaraam.com

خو موږ به دا وېش په لږ تفصیل وښیو:

## ۱. داتڼ ناري:

پښتنانه اتڼ چیان داتڼ پروخت په زړه پورې ناري زمزمه کوي، خو داتڼ سروکي بېل او داناري بېلې دي. داناري نارینه او ښځینه اتڼ چیانو دواړو له خوا ویل شوي یا ویل کېدی شي.

*د نارینه اتڼ چیانو ناري:*

داتڼ ناري داتڼ دبڼې له مخې وېشل کېږي. لکه په ورو اتڼ کې، په یو بغله اتڼ کې، په دوه بغله اتڼ کې، په چپه او راسته اتڼ کې، په ملي اتڼ کې او په دغه ډول نورو اتڼونو کې. داهراتڼ دنارو لپاره خپل اوزان لري. هماغسې، چې په اتڼ کې دموسیقۍ الات په بېلابېلو بڼو غږوباسي، همدغسې داتڼ دنارو دوینګ بڼه هم توپیر لري. لکه دورو اتڼ دابېلګه:

کلاته چې په سر(وای)-کلاته چې په سر(های)سر دې پالیزونه

دنورو پالېزلابښ شو- دمستې پالېز اوس (های) اوس کوي

ګلونه- ګلونه

په پورته ناره کې د(وای) او (های) کلیمې دویلو دبڼې ځانګړی حالت رانښيي.

ورو اتڼ ته لږڅه ورته بله ناره:

مستانې لونګۍ غوټه-مستانې لونګۍ غو-غوټه پرسر کېږده-سر کېږده

راځه په اتڼ کېوزه- مستانې ددنیا(یا) کارونه پرېږده(هو)

پر برېږده

ددوه ارخه یا دوه بغله اتڼ پروخت پورتنۍ ناره بیا داسې هم ویل کیږي:

مستانې لونگۍ غوټه-مستانې لونگۍ غو-غوټه پرسر کېږده-هو مستې محبوبا- هو څلور دې خاله–هو مستې

راځه په اتڼ کېوزه- مستانې ددنیا (یا) کارونه پر برېږده- هو مستې مستې محبوبا-هو شاهي گل راوړه- هو مستې

*دښځینه اتڼ ځینې نارې:*

ښځینه هم داتڼ نارې لري. یو ډول یې په خاص ډول په همدوی پورې اړه لري، بل ډول یې هغه دی، چې نارینه او ښځینه دواړه یې وایي. په دې مانا، چې دداوړو لپاره دویلو وړ دي.

ښځینه هم په اتڼ نارو کې دنارو له ځانگړیو مسریو پرته دوزن جوړېدو لپاره ځینې ټکي ورزیاتوي: لکه

(الاوا) مستانې لونگۍ غوټه–مستانې لونگۍ غوټه پرسرکېږده-(الاوای)راځه په اتڼ کېوزه- مستانې ددنیا کارونه پر برېږده.

پروسږ کال لا ښه وو-لالیه تر شاتوت لاندې مېشته وو
دخدای فضل که نه وای- لالیه سږ به دواړه سره مړه وو
ترپاڼ لاندې مې سترگې تورولي- چې پاڼ راباندې راغی
مونگولې مې په یار ولگولې
تردې جلۍ مکاره بله نه شته–درود په هغه غاړه
لوستوني ښوروي لاس په کې نه شته

www.sikaraam.com

او دا هم يوه بله ناره، چې لنډۍ هم ورسره ګډې ويل کيږي او اصلاً د سروکي يو ډول دی، خو په اتڼ ورننوتی:

لونګينه !پرخنګ راواوړه چې دې شرنګ د بنګړو شينه

لونګينه !پرخنګ راواوړه-خال به د يار په وينو کېږدم-لونګينه پرخنګ - ځنګ راواوړه- چې شينکي باغ کې ګل ګلاب وشرموينه -لونګينه پرخنګ-ځنګ راواوړه -چې دې شرنګ دبنګړو شينه -لونګينه پرځنګ ځنګ راواوړه.

## ۲.تاريخي نارې:

دا هم د نارو يو ډول دی، چې په افغانستان کې د جګړو، سوبو اونورو ټولنيزو او سياسي پېښو پروخت ويل شوي. فکر کيږي، چې دا کثرو دغه ډول نارو جوړوونکي به ښځينه وي. له دغسې نارو نه د پښتنو د ټولنيز تاريخ د پېښو د کتنې په وخت هم ګټه اخيستل کېدی شي. ځينې نارې چې ترموږ رارسېدلي، په وروستيو دريو پېړيو پورې اړه لري، خو د دغه نارو سکښت او جوړښت ته په کتو ښايي، تردې به پخوا هم ګڼې نارې موجودې وې، خو د زمانې تېرېدو او ناانډوله ټولنيزو حالاتو له يادونو ايستلي.

زموږ ځينو فوکلور ټولوونکيو د هوتکو نارې په نامه پخوا يو ځانګړی ژانر راپېژندلی،خو څرنګه چې وروسته څرګنده شوه، دا ډول نارې د هوتکو له تاريخي دورې پرته په نورو دورو پورې هم اړه لري او له بلې خوا د پښتنو نورقومونه يې هم په جوړښت کې

ونډه لري، نو ځکه د تاريخي نارو په نامه پېژندل يې غوره ده. دانوم ښاغلي رفيع لومړی ځل په «زرينې څانګې» کې ياد کړی، وروسته ښاغلي هېوادمل (پښتو ولسي ادبيات) تاييد کړی دی.

*[زرينې څانګې (۳۳ م مخ) د زيري کالنی]*

*[پښتو ولسي ادبيات (۱۲۱ م مخ)]*

زموږ ځينو فوکلوريستانو داډول يو شمېر نارې چې ثبت کړې دادي:

که زمری دی شاه اشرف د جنګ زمری دی
شاه اشرف ته کام رانه غی - د نادر په اشرف خان ځکه بری دی

===

څوک خبر و، چې تقدير به کوي داسې
شاه حسين به نادر نيسي - بيابی لوري د ايران ته بندي باسي

====

که ولاړی شاه حسين ولاړ په ارمان کې
ده ويل کام به مې راسي - د نادر او ما به جنګ وي په ميدان کې

====

که سر دی اصفهان د ملکو سر دی
چې اصفهان نېږدې کوي - سيد ال ناصر دی

====

که څاڅي ترشنه زړه مې وينې څاڅي
اصفهان پرون زموږ و - نن نادر ته نراو ښځې په کې ناڅي

===

www.sikaraam.com

که ناورين دی په هوتکو بيا ناورين دی

ابراهيم خو اشرف وژني - ګرم سيل ته ورځي مختـه اس يې زين دی

په پښتنو کې داسې نورې ناري هم شته، چې يو څه برخه يې ښاغليو: حبيب الله رفيع، نېک محمد پکتياني، سيال کاکړ او مولوي محمد يعقوب ناصري راټولې کړي (د پښتو ادبيا تو تاريخ «ز.هـ» په حواله) او ډېرې يې يا هېرې شوي او يا ورته د ټولوونکو لاس لا نه دی وررسېدلی.

## ۳. د نکلونو ناري:

منثور نکلونه په پښتني فوکلور کې اوږده سابقه لري. تراوسه لا هم زموږ په ټولنه کې د دغه نکلونو يادونه پاتې دي. لکه د فتح خان او رابيا نکل. د شېرعلم او ميمونۍ نکل. د مومن خان او شېرنۍ نکل. د ادم خان او دورخانۍ او په لسګونو نور. دغه نکلونه چې کله ويل شوي، په منځ - منځ کې يې د سترېا دله منځه ورلو او يا په نظم کې د ځينو مفاهيمو د ښې تشريح او يا د پام اړونې لپاره ناري هم راغلي. دا ناري هم موږ د نارو په عمومي برخه کې باید یادې کړو. دد غه نارو جوړښت هم يو ډول نه دی، بلکې د فوکلور د ځينونورو ژانرونو په شان بېلابېل چوکاټونه او مسرۍ لري.

د فتح خان او رابيا له نکل نه:

که بېر دی د رابيا وربل بېر دی - فتح خان د مور او پلاره مرور دی

که نه اوړی کرمی له بدو ناوړي ــناوړي
چې چېرته غم وي، ته يې خوار پتې ته راوړې.
که اورګډ دی دبرېخو په سپين رېيرو- مروريې پوخلا نه کړل
کرميه په لم غوټه سپرو واوړې.
که ځوريږي، نن مېرمن رابيا ځوريږي
سرله سره پالنګه هسک کړه پوردل خانه !
کاروانونو لاس په تلو که روانيږي
کرميه چې دې پرې کړې بيا زما دزړګي ولې
ما په خدای سوګند درکړی کرميه
پتې خان جانان دې څه درته ويلي
که اورده،ده، مېړني لمن اورده
سره له سره پالنګه هسک کړه پوردل خانه
د پتې خان خوب پوره شولو وعده ده
نن زما په زړګي چو دغم کاروان دی
زما ګرانه خبر يې که خبر نه يې؟
پتې خان دهندوستان په لور روان دی

ꕥꕥꕥ

*دناروخبرنې او بېلګې په لاندې کتابونوکې ترنورو ډېرې دي:*

۱. *ولسي ادب*: دعلي محمد منګل، دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۴المريز، کابل.

www.sikaraam.com

۲.غرنۍ سندرې: د محمد عارف غروال، پښتو ټولنه، ۱۳۶۰المریز، کابل.

۳.د غرونو څوکې: د عبدالکریم پتنګ، کابل پوهنتون ۱۳۵۹میلادي، کابل.

۴.کرنۍ ادب: د عبدالکریم پتنګ، عرفان مجله، ۱۳۵۷المریز، کابل

۵.د هوتکو نارې: د حبیب الله رفیع، خپرندوی ټولنه ښیي، ۱۳۴۹المریز، کابل.

۶.په «پښتو ادب تاریخ» د سرمحقق هېواد مل تالیف، «د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون» د غوټۍ خاورې او ځینو نورو کې له لږ تفصیل سره.

www.sikaraam.com

# فالونه

فالونه هم د سوچه پښتني فوکلور یو سندریز ډول دی او ځکه په دې نامه یادې شوي، چې د برات(پنځلسي) (۱)پر شپه پرې ځینې

*۱ . د شعبان المعظم پینځلسمه د شاه برات مبارکه شپه ده، چې په اسلامي تاریخ کې زیات قدر لري ځرنګه چې پښتانه د اسلامي قوانیینو زیات پابند دي په دې سبب دې مبارکې شپې ته هم په درنه سترګه ګوري او د درنو مراسمو په ترڅ کې یې لمانځي.پښتنې ښځې دا شپه ترسهاره دفالونو دا چولو په کار رونوي[خوداد ود اوس یوازې په ځینو سیمو کې پاتې دی]. دې ته د شاه قدر یا شو قدر شپه هم وایي.*

*هغه وخت چې د دې شپې رونول پیلیږي، پښتنې پېغلې او مېرمنې سره راټولې شي. لومړی یوه نابالغه نجلۍ راولي ،ښځې ترې راټولې وي، وې لمبوي، نوي کالي - ورواغوندي، شال پرې وا چوي او لکه د ناوې په شان یې په یوه ځانګړي ځای کې په درنښت کېنوي.راټولې شوې ښځمنې سندرې ورته وایي او چمبې وهي.په یوه منګي کې پاکې او روانې اوبه راوړي او د نجلۍ په خوا کې دا منګی کېږدي، بیانو څوک یو شی، څوک بل شی د خپل کور د کوم چا په نامه ونوموي او منګي ته یې وراچوي. لکه: ګوتمۍ، چاکو، ږمنځ، میخکی او نور*

*وروسته فال ویونکي ښځې راټولې شي. یو-یو فال وایي. بیانو هماغه جینۍ په منګي کې لاس کوي او یو- یو شی ترې راباسي.نو هغه څیز چې د هرچا په نامه وي دا فال هم، ښه وي او که بد د هماغه په برخه رسیږي.*

www.sikaraam.com

پښــتنې مېرمنـــې او نجـــونې فالونـــه نیســـي. فالونه د پښـــتنو د ټولنيز ژوند یوه برخه ده. حتی تر اوسه هم پـه ځینو کورنیـو کې دود شته. نـه یـوازې پښـتنې مېرمنې او نجونې د فـالونو شـپه لمانځي،

---

*بیانو ښځې بل فال وايي یا په بله وینا فال نیسي او یاده نجلۍ بل شی له منګي نه راباسي. دامجلس د فالونو له ویلو سره سره په ټوکو او خنداګانو هم بدرګه کیږي او اکثره وخت ترسهار لمانځه مهاله روان وي.*

*په دې توګه دامبارکه شپه پښتنې ښځمنې لمانځي. پښتنې ښځې داشپه یوه مبارکه او سپېڅلې شپه ګڼي، پښتنې ښځې د یاد منګي او بو ته زیاته عقیده لري، د خپل زړوکي (لوپټې) یوه پیڅکه د دغه منګي په او بو لمدوي او بیا غوټه (ګنډه) وراچوي د دوی په اند داغوټه چې سبا ته خلاصه شي، خامخا به یوه وینښته په کې پیدا شوی وي، نو که داوینښته سپین و، مانا به یې دا وي، چې د دې ښځې ژوند به اوږد وي، چې کله یې وینښته سپین شي، بیا به مړه کیږي او که وینښته تور و، مانا یې داده، چې دا ښځه به په ځوانۍ کې مري. بل پلو د دغه شپې په ویاړ په ځینو کورونو کې فوق العاده خواړه هم پخیږي او عقیده داده، چې څومره خواړه ښه او پرېمانه وي، د بل کال د دغه شپې تررارسېدو به په دغه کاله کې هم دغه شان پرېماني وي. دغه شان په دغه شپه ماشومان په ځینو سیمو کې اورلوبې هم کوي (د خلکو سندرې د ۱۲۰ او ۱۲۱ مخونو لنډیز)*

*یو لنډ یادښت:*

*دغه دود اوس په ټولو پښتنو کې عام نه دی او د شبقدر شپه د روژې د مبارکې میاشتې، په وروستۍ لسیزه کې ګڼي. د دغې شپې په اړه د دوی عقیده داده، چې په اسمان کې ستورې جګړه کوي او بله وینا داده، چې د لیلا او مجنون په نامه ستورې په خپلو کې دیدن کوي او داوخت چې هرچا داحالت ولید او هرسوال یې وکړ، خدای تعالی به یې قبول کړي. رفیع صاحب یادې خبرې له نن نه پوره ۴۳ کاله مخکې -کړې ختیځ پښتانه د شعبان ۱۵ مې ته د پینځلسې (پینلسي) شپه وايي، او دغه دودونه ښایي پخواني وي او یا داچې په یوې سیمې پورې محدود وي او که دا نه وي نو بیا به اوس لږ پیکه شوي وي. دغه شپې ته د برات شپه هم وايي؟*


www.sikaraam.com

لاچې نارينه وو هم په بېلابېلو وختونو کې فالنيونې ته مخ اړولی. د پټې خزانې په روايت ميرويس نيکه، چې کله له ګورګين سره مقابلې ته ووت، نويې د رحمان بابا په ديوان دوه ځلې فال ونيو. *(د تفصيل لپاره د همدغه سرليک پای وګورئ)* پر دې سربېره په پښتو ادبياتو کې منظومې او منثورې فالنامې ليکل شوي، چې داپخپله په پښتنو کې د فال نيوي په دود ګواهي لې.

د فالونو په نامه منظومې ټوټې اکثره د برات (شبقدر) په شپه د پښتنو نجونو او ښځمنو له خوا ويل کيږي. د شوقدر په نامه شپه د اسلام د سپېڅلي دين د عقيدې له مخې درون ثواب لري او پښتانه په دې برخه کې ترهرچا وړومبی دي.

ښځې چې فالونه نيسي او کومې سندرې وايي ځينې يې دادي:

د مکې په سپين بامونه- پنې وکاږه رادرومه
د کندهار انار پاخه دي- ښاخونه يې په دې لورې کاږه دي.
اسمان شولو دوه توکه –ترې ولوېده د سروزرو متروکه
اس ولاړ-نس يې ولاړ
اسمان شو پړی، پړی –مېږه اورتې وخوړل په لړی
اسمان شو دړې وړې –ترې ولوېدې د سرو زرو لکړې
پيشو وخته په ونه –دغم چوکه يې وخوړه په....
که ګل دی د مخې –ماته راوړه ګل مېخې
که ګل دی د پېروتې –ماته راوړه د سرو ګوتې
که ګل دی د سنځلې- دی لايک د پېغلې نجلې
که ګل دی د منې –دی لايک دی د زړې.

www.sikaraam.com

که گل دی دگازر – دی ولاړ په یوه وزر
نه کرم نه رېبم – سپېرې ختې اړوم
دوره ترخټ ولاړ یې – ململ په گوتو نغاړې
دتا چینگې – چینگې داړې – مېږه غواړې
دزیږې غوا مېرمنې- اور دې راوړ ترلمنې
دسروزورو یې ستن- ورېښمینه یې بړستن
کور دې مخ په لمر دی- پیر دی زورور دی

[دخلکو سندرې۱۲۲ م مخ]

هڅه مې وکړه، په ختیزو پښتنو کې دفالونو سندرې یا منظومې مسرۍ وموم، خو لا مې نه دي موندي.

دفالونو دتفصیل لپاره وگورئ:

۱.دپښتو ادبیاتو تاریخ(لرغونې او منځنۍ دورې)، دانش خپرندویه ټولنه، دسرمحقق هېوادمل، ۱۳۷۹المریز، پېښور.

۲.دخلکو سندرې: دحبیب الله رفیع، افغانستان اکاډمي، ۱۳۴۹المریز، کابل.

۳.فرهنگ ادبیات پښتو: دسرمحقق زلمي هېوادمل،دچاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ۱۳۶۲المریز، کابل.

دهمدغه سرلیک د (۹۵)مخ تفصیل:

پټه خزانه دملي مشر میرویس هوتک له خوا درحمان بابا پردیوان فالنیونه داسې یادوي:

www.sikaraam.com

«په قندهار کې د رافضي ګورګين خان جور و ستم، ترحد تېرې وکا، او خلق د خدای هسې ځنې په عذاب سول، چې په مرګ خوښ شول نو دوی په کوکران کې مغفور رحماني، برګزيده صمداني، حاجي ميرخان هوتک ښالم خېل ته ولاړل او له هغه يې چاره د کار طلب کړل او تولو وويل، هر ډول چې دی وايي، هغسې کړي. هغه مغفور يوه ورځ ترما ښامه له نورو پښتنو خانانو او مشرانو سره مصلحت وکا او هسې يې تړون وکا، چې ظالمان مړه کړي او ځانونه له جور و ظلمه وژغوري. په پای کې حاجي ميرخان عليه الرحمه وويل: راسئ، چې عبدالرحمان بابا قدس سره هو وپوښتو، چې دده د ېوان يې خلاص کا، هسې شعرونه و: بيت

زه مکتوب غوندې په پټه خوله ګويا يم
خاموشي زما تېرې کا ترغوغا زما
کښت د عشق په توده زمکه ، امان چرې
سمندر بويه چې زيست کا په صحرا زما

چې د غه بيتونه يې ولوستل ، هغه مغفور حاجي ولس ته وويل، چې د ظالمانو کار تمام دی اما اوس دستي خاموشي بهتره ده. تول به پټه خوله داکو ښښ کړو، چې ظالمان ورک سي. چې مناسب وقت راسي، نو به زه پرتاسې ږغ وکړم. هغه وقت بايد تول تيار او ظالمان له وطنه وباسو.

نقل کا: چې يوه مياشت ورو سته ، جنت مکان حاجي ميرخان، د ولس ميران او خانان راوبلل او په مانجه يې جرګه وکړله ، او تولو په قرآن قسم وکا ، چې د ګرګين خان ظالم له جوره ځانونه خلاص کړي، پردې وقت بيا حاجي ميرخان مغفور له رحمان بابا څخه دا بيتونه ولوستل:

چې اسمان يې مخ پټ کړی په سحاب و
خدای و ماته ښکاره کړ ، هغه نمر بيا
چې رقيب راته تړلی په زنځير و
خپل حبيب راباندې پرانيست هغه ور بيا
په وصال يې منت بار او سه رحمانه

www.sikaraam.com

په صدف کې د خل نه شته د گوهر بيا

نقل کا: چې د خدای په قدرت، د غه ورځ پر اسمان وريځ هم وه، چې حاجي مرحوم دا بيت ولوست، هغه گړۍ لمر ښکاره شوا و وريځ يې له مخه هيسته سوه، خلکو همدغه يو الهي مدد وگانه او بيا نو جنت مکان حاجي ميرخان خلکو ته وويل، دا دی د خدای تعالی مهر او لطف هم زمونږ ملگری دی، او س نو وقت دی، چې توري له تيکيو و کاږو او ځانونه له د ښمنه وژغور. هغه چې په ۲۹ م د ذيقعدة الحرام سنه (۱۱۱۹) هجري، ولس ټول سول او د جنت مکان حاجي مير په مدد په قندهار ورننوتل، او د ښمنان يې ټول مړه کړل.»

پټه خزانه (د ۱۳۳۹ م لمريز کال چاپ) ۹۸-۹۲ مخونه

www.sikaraam.com

# انګۍ

دا سندرې هم د پښتني فوکلور يو ژانر ګڼل کيږي. کله چې ناوې ودېږي او دواړه دورا لپاره جوړه شوي وي، د پلار له کاله نه دروانېدو پروخت د بېلتانه نارې په سر واخلي او د خولې خبرې يې منظومې جملې شي. انګۍ په بېلابېلو سيمو کې سيمه ايز نومونه لري، چې يو يې د (هوی سندرې) دی. چغيان هم ورته وايي. سرمحقق زلمی هېوادمل ليکي: «چغيان د خپل جوړښت له پلوه دوه مسريزې، درې مسريزې او څلور مسريزې دي او حتی تردې زياتې مسرۍ هم لري.» *[د پښتو ادبياتو تاريخ ۱۳ م مخ]*

پروفيسور سيال کاکړ، د انګيو دويلو وختونه او حالتونه داسې بيان ليکلي:

«دواده په سهار پښتنه ناوې، په ښکلي پسول او رنګينو جامو پسوللي وي. دا ګل تيکری پرسر د خپلو همزولو په مابين کې کښېني، او په دې ډول دانګيو سندريزه دنيا اباده کړي. د بېلتانه په دې

www.sikaraam.com

سختو شپېو کې پښتنه ناوې نه يوازې په خپله ژاړي، بلکې د خپلو سوزناکو انګيو په وسيله، ټول چاپيريال په ژړا راولي. پښتنه ناوې خپلې دغه سندرې په ځانګړي وزن او اهنګ سره وايي. په دې سندرو کې د آها، هو، هی، آهې او د آبې احتجاجي کلمات د يوې پښتنې ناوې د خورا خوږمنو احساساتو ښکارندوی وي.» *[انګی (۵۷-۵۲) مخونه]*

د الاندې معلومات د ښاغلي سيال کاکړ له کتاب «انګی» نه رانقل کړای شول:

انګی په يوه ځانګړي اهنګ (signal) پيلېږي، دا له کوم سازو سرود پرته د ژړا د پيل مخصوص انداز دی، چې لږ وروسته وروسته وروسته وروسته وروسته وروسته وروسته وروسته وروسته وروسته

انګی لومړی ځل سونځر خېلو (د کاکړو يوه ښېبه) ښلولي او وروسته بيا، مندوخېلو، موسی خېلو، بابړو، خوستيانو، لوانيو او ځينو نورو هم ويلي.

د انګيو د ويلو او سني مهم ځايونه د کوټې اړونده «بوري» او «ژوب» دي.

په بوري کې د انګيو پانګه په چغې =چغيان، انګړی ungrey او متلونو په نومونو سره يادېږي، خو د ژوب (ږوب) په تاريخي سيمه کې په: انګی، ungey ځينې وخت بيا انګی angey او يا متلونه.

انګيو ته په کندهار کې انکي Inki او په وردګو کې اونکي unki کلمات اوربدلی شو.

سيال کاکړ انګې په اجتماعي، احتجاجي، اخلاقي، ارمانجنې، انتقادي، تاريخي، توصيفي، جوابي، ديني، دعاييه، دښپرو، دډاډ، طبقاتي، طنزيه، فراقي، فلسفي اوويرنو په موضوعاتو سره وېشلي، خو دده داوېش دولس له خوا نه دی او په خپله دانګيو ويونکي، دغه وېش ته نومونه نه لري.

داچې ځينې وايي، انګې دې هم د ښاديو په سندرو کې مطالعه شي، دانګيو په باب دشويو وروستيو دغو څرګندونو له مخې سمې نه برېښي.

دانګيو څپه ايز جوړښت:

نهه څپه ايزې انګې:

يوه څلورپاړکيزه انګې:

د سپينې خونې پر وره ورځي

ادې دې راسي، که ورا ځي

ګرانې ترلې يه راغلګي دي

ادې وه ډېره په باوري

جدول:

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د | سپې | نې | خو | نې | پر | وره | ور | ځي |
| ادې | دې | را | سي | که | ورا | ځي | | |
| ګرا | نې | تر | لې | يه | راغل | ګي | دي | |
| ا | دې | وه | ډې | ره | په | با | و | ري |

لس څپه ايزې انګې

www.sikaraam.com

يوه درې پاړکيزه انګۍ:
سپينه تېکريه، کېن مې ته سې
تنګه کميسه ازاد به نه سې
دبابا کوره پيدا به نه سې
بېلګې:
د سپينې خونې پر وره، دودونه
ولات اباد دئ، په سره ګلونه
پرما امبار دی دوير غمونه
نه سترګې تورې نه سره لاسونه
مرګې دې وخورې داسې توبرونه
په غوږو اوري مدام ګايونه
پر خپل بخت زاړې داخوارې نجونه
بله بېلګه:
دزنګيوالې پرسر ګلان
پرما تويېږي اوښکې باران
پيکی مه خور دی لوند مه ګرېوان
ز ه زخمي سوګی دزړه پرميان
که مې خبرشول په حال توبران
پر وبه زاړې شينکی اسمان
يادا چې:
د سپينې خونې پر وره غنم
زه برابره پر وره کېنم

سوال د مکې پر دربار کوم
داره پاتې اجيان ياتوم
زه دا يدرې له روانه سم
پردی نړاندې نه خپلوم

دا نګيو د تفصيل لپاره دا کتابونه کتلای شئ:

۱. ټکې: د سيال کاکړ، پښتو ادبي بورډ کوټه، ۱۹۸۷ميلادي، کوټه.

۲. چغيان: د سيال کاکړ، خپرندوی پخپله ليکوال، ۱۹۷۰ميلادي، کوټه.

۳. دغرونو څوکې: د عبدالکريم پتنګ، فلالوژۍ پوهنځي، ۱۳۵۹المريز، کابل.

۴. زرينې څانګې: د حبيب الله رفيع، د تاريخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹المريز، کابل.

۵. د پښتو شفاهي ادبيات شکل او مضمون: د غوټۍ خاورې، د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲المريز، کابل.

۶: د پښتو ادبياتو تاريخ: د سرمحقق هېوادمل، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۷۹، پېښور.

# د ښادۍ سندرې

د ښادۍ سندرې د پښتنو ښځمنو له خوا دواده په مراسمو کې ویل کیږي. نه یوازې په ځانګړې توګه دواده په مراسمو کې بلکې دواده په ټول بهیر کې یعنې د مرکې له پیله بیا د ناوې دراوستو ترورځو.

کله چې د نجلتوب (نامزادۍ) زېری راورسیږي، بیا کوژده کیږي، ورپسې ناري ګان ورړل کیږي، جوړې جامې ګنډل کیږي، پرېکون کیږي، دواده شپه جوړیږي او بیا ناوې کور ته راوستل کیږي، په دریمه، اوومه ورځ د ناوې د بېولو او په ځینو نورو ورته وختونو کې: د ښادۍ سندرې د ښځینه وو له خوا په دغو ټولو بېلابېلو مراسمو کې ویل کیږي. د پښتني فوکلور اکثره سندرې د خوښیو په بېلابېلو مراسمو کې د نارینه او ښځینه وو له خوا ویل کیږي، خو دا سندرې خاص د واده مراسمو ته ځانګړې دي. ببو لالې هم د همدغه سندرو یو ډول دی پخوا ببو لالې د یوه ځانګړي ژانر په


www.sikaaam.com

توګه مطرح وې خو سرمحقق هېوادمل لیکي، چې ببولالې او نورې ورته سندرې ټولې د ښادۍ سندرو په نامه نومول په کار دي.

څېړندوی رفیع بیا یوازې ببولالې د واده د سندرو په توګه ښوولي، خو له بېلابېلو ډولونو سره.

دی د ببولالو دویلو وختونه دا ښیي:

«د ستنې راوړل، د پوښ ورځ، د مال حلالو وخت، د سرخلاصولو وخت، د نکریزو شپه، د سرجوړولو سهار، د جامو بدلول، د وراییځي د راتګ وخت، په کجاوو کې د ناوې سورولو وخت، د ناوې د پلار له کوره د رایستلو وخت، او ځینې نور وختونه»

«د خلکو سندرې» د ببولالو د پورته ډولونو هره برخه تشریح کړې، او مثالونه یې هم راوړي، چې دلته به یې یوازې له ځینو برخو مثالونه ترې واخلو:

## د دستمال راوړلو په وخت:

راغی رومال راغی -رومال پټ دی په قبو کې

(پلانکي) په سر کې ایښی- سر یې لوړ دی په تربرو کې

رو ماله په جوپو ،جوپو دې ورمه

رو ماله دلوټو په زور دې وړمه

لمر راوخوت په څنار پورې

رومال مو راوړ – کلیه کې یې ګورې

## د پوښ ورځ:

شین باد رنګ اوبو راوړی – شین باد رنګ اوبو راوړی


www.sikaraam.com

موره دا سې پوښ راوړی – چاپې ګل، ګل نه دی لیدلی
د پاسه اوبه راغلې – په سر یې شنې اوبړی راوړې
(پلانکي) ته ویه (وایه)- رواووځه کلا ته شهزادګۍ راغلې

**د مال حلالو وخت:**

غویی چې للوی (حلالوې)- لکۍ یې پرېږدئ( دوه ځل )
لکۍ یې د (پلانکي) په نګښې کېږدئ(۱)

**د سرخلاصولو وخت:**

ناوې پرې کړه عباسیه (دوه ځل )
د پېکیو وار دې تېر شو- اوس دې واردې د نګښیه
داتور وربل دې دلوجرو ملې په دود ونغاړه(هوی)ونغاړه
چې (پلانکی) یې ورانوي، اوس په ناورين ژاړه (هوی)په ناورين ژاړه
داتور وربل دې چې اوبدو په خیال میینه وې (هوی)په خیال میینه وې
چې(پلانکی) خان یې ورانوې اوس ګیله منه یې(هوی) اوس ګیله منه یې
مه یې روانوئ دغوړیشو څنیو سرونه
که دا واري مو وران کړل بیا به یې نه کړئ ولونه–ولونه

---

۱ . نګښې د ښځو هغه اوبدلو ويښتانو ته وايي، چې ترتاوبدو وروسته يې جوړوي. ويښته په مساوي ډول وېشي، بيا هره برخه په مخصوص ډول اوبي. د مخ زياته برخه پرې پټوي او کنډ پرې وهي. (د خلکو سندرې)

www.sikaraam.com

تردې تور وربل دې جار شم، ته نو ولې ژاړې (ووئ) ته نو ولې ژاړې

چې پلانکی په دې دنيا وي ناز دې مه شه خاورې (ووی) مه شه خاورې

ناوې تور دې لونګين ژاړي، په څه باندې (هوی) ژاړي – په څه باندې

(پلانکی) تللی دسرو زرو په ويا له باندې
تاته به راوړي سور بخمل په زنګانه باندې

**د جامو بدلولو وخت:**

سپينې پايڅې مې ميلمنې دي
داسرې پايڅې مې ترقيامته زولنې دي
سپينې پايڅې کاږه دسرو دې وار دی – دسرو دې وار دی
داجلنۍ کميس دې کاږه دټټر وار دی. دټټر وار دی
ارمان دسپينو پايڅو خياله. راغلی نه وای زرورقې له کابله

**د نکريزو شپه:**

لاس يې سره کړئ، پښې يې ګلدارې
پرې بوره مه شې دناوې مورې. دناوې مورې
ناوې په ګلو پشم وربدلی دی
ناوې د (پلانکي خپلو) ميردې کړی دی
دناوې دزياتې ژړا په وخت بيا وايي:
ناوې هی کهٔ اسکليلوی که

www.sikaraam.com

همزولي درته نا ستې-د همزولوزړه نری که
ناوې ژاړه شرم نه شته
مورې واړه سره خپل يو-بېګا نه را سره نه شته
ژاړه-ژاړه وخت دژړا دی
ګه ته دژړا مړه شوې-پلار دې خونکار دی
په سر دې دخاصه وربښمنو پخه ده
ناويې شاهزادګانو ته دې مخه ده

**د سر جوړولو سهار:**

ګوتې وخورې سر اوبدنې
په لوی سهار دې مات کړه-د پيکې نري بندونه
ددې وخت د سندرې يوه بله بڼه:
سهار سبا دی سپيدې نار کيږي
ناوې غوتۍ ده اوس به ګل کيږي
رنګ رنګ دنۍ پرې کېږدئ چې ځليږي
(پلانکی) ورته ولاړ دی هوسيږي
ژر-ژر يې جوړويه ګرمي کيږي
(پلانکی)تر ګل نازک دی، خولې کيږي
د چندنولاريې جوړه تندي کړه
د(پلانکي)ناوې يې جوړه کاغذي کړه

**د ښځو ګډا:**

په غولي شګې خورې ورو ږده قدمونه


www.sikaraam.com

چې وادې نه وړي بخملي ګوتو سرونه
شابسې خورې، مخ په لمر غورځه چې مړه نه شې
ته چې ښه ګډ ېږې – د (پلانکي) د جيب ايينه به شې
واوړه !واوړه !څه عجب سيلونه دي
غاښ دې مرواري شونډې کولپونه دي
لمن به دې چکن کړم، په لستوڼيو ګلمېخې
(پلانکی) به درسره کړم، تورتوپک رنې ګولۍ
په سر دې زرغون شال دی، په لمن دې کښېده
که رښتيا د (پلانکی) خوروې، شاه وړه، وړه راځه

دښادۍ سندرو داډول چې ببولالې يې هم بولي، ترپورته ببلګو پرته په لاندې نورو حالتونو کې پسې دوام مومي، چې دلته يې دلنډون لپاره يو ازې دسندرې د سر يو بيت دوه ښيو:

دناوې کتل او خېښو کنځل
د دې کلي ملک نه معلوميږي
ناوې مو کمکلۍ راته ښکاريږي
دموږ دناوې دوې لوېشتې تندی دی
ارمان مې د (پلانکی) هاشين پتې دی

داوخت دناوې او خېښانو ښځينه په خپلو منځونو کې دسوال وځواب په بڼه داسې ببولالې هم وايي، چې په ستغه بڼه يو دبل ځواب ورکوي.

**د وراييځې د راتګ وخت**:

اوس به تور لونګ جوړه جوړه راشي

www.sikaraam.com

اوس به د (پلانکی) ټولی بسته راشي
دورا سر ترکلي وخوت
دورا سر ترکلي وخوت
دغه زما جانان دی
چې له زرو سره وخوت
*دناوې دراېستو پروخت:*
دمورې ناوې چې ځي، هلته سرداره شې
(پلانکی) د تا مزدور ته یې باداره شې
پخوا به ناوې په اس سورې وړل کېدې. لاندې ببولالـه دهمدغه وخت یاد رانیسي:
خورسیرلی په منا وخت
له خدایه، مورې راضي یو، چې له خېښه مو لاس وخوت...
*کله، چې کاله ته ورسي، خېښې بیا دا وایې:*
اسپه چې خوله ټیټه کړي لونګ اخلي
زمورې داسې ناوې ده دزړه زنګ اخلي
تربرو ونیسئ لونګیه
مورې داسې ناوې راوړه – مخ یې لمر څټ یې سپوږمیه
دښادۍ سندرو یوه بله بڼه:
ښه رورا ښادي دې وشه
شاه سلامتګي دې وشه
شین بادرنګ اوبو راوړې
داسې زوم مودروستلی

www.sikaraam.com

چا په خوب نه دی لیدلی
په ختيځ کې ځينې پښتنې ښځمنې دا سې سندرې هم بولي:
...الا وئ، وه بینجی ، الا مړه شوم ربه ....

ⷮⷮⷮ

*د نبادی سندرې په ځينو کتابونو کې د ببولالو او په ځينو نورو کې ببيا په ځانګړې بڼه يادې شوې:*

۱. *دخلکو سندرې*: د حبیب الله رفیع، د افغانستان د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹لمريز، کابل.

۲. *فرهنګ ادبيات پښتو (دريم ټوک)* ، د سرمحقق هېوادمل، دچاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ۱۳۶۲لمريز، کابل

www.sikaraam.com

# بلنډۍ

دا هم د پښتني فوکلوريو بل ډول دي، چې په دې وروستيو کې فوکلور څېړونکو ښوولی. دا سندرې کاکړ نرګاړي په ودونو کې وايي، جوړښت يې داسې ښکاري، چې بايد يو نوی شعر يې وبلو. په پښتني فوکلور کې لاهم ډېر داسې منظوم څه په مخه راځي، چې بايد وې څېړو او که له نورو ژانرونو سره سر ونه خوري، کېدی شي، چې د يوه نوي ژانر په توګه يې وپېژنو.

بېلګه:

امير پر کابل اوسي
پرنګي هم ځای نيولی دی پر کوټه
زه څمبه د نبازه يم
مړګيه تابه لاندې کم ترخته
پښتو ولسي ادبيات(د سر محقق هېواد مل) ۱۰۵مخ

www.sikaraam.com

د کسې دلمنې پښتانه ليکوال (سيال کاکړ) په حواله

د بلنديو د لړ څه تفصيل لپاره کتلای شئ:
پښتو ولسي ادبيات: د سرمحقق هېوادمل تاليف، د ساپي دموقوفاتو اداره، ۱۳۷۲لمريز، پېښور
د کسې دلمنې پښتانه ليکوال: د پروفيسور ولي محمد خان سيال کاکړ(تذکره) دويم ټوک، ۱۹۷۴ميلادي، کوټه

www.sikaraam.com

# سلسلې

سلسلې د فوکلوریکو ژانرونو یو ډول دی، چې په دې وروستیو کې په کاکړو پښتنو کې کتل شوی. عموما دا ډول د نارینه او ښځینه وو ترمنځ د سوال وځواب په بڼه وي.

په سلسلو کې بزم ورزم دواړه کتل کېدی شي او د ټوکو په بڼه مطالب هم په کې شته.

په سلسلو کې د پښتنو د تاریخي پېښو، اتلولیو، قومي کړکېچونو او ټولنیزو مناسباتو په اړه منظوم توکي شته.

څېړندوی رفیع په دې باب لیکي:

«سلسلې د جوړښت په لحاظ په دوه ډوله دي، چې یو یې اوږدې او بل یې لنډې سلسلې دي.لنډې سلسلې معمولاً درې مسره ایزي وي،خو داوږدو سلسلو د مسریو شمېر کله یو راز او کله بل راز وي»

*[زرینې ځانګې(۲۷-۲۲) مخونه]*

www.sikaraam.com

دکاکړي کړدود ځينې بيلګې:
راوتلې پرسنځريم-زه دښو نجونو اجل يم
په شان دسپينکي ماريم-دهرچاتراوده تريم

+++

وه مړه باغونه -زه وام وښئ غوړوته
که د واوريدل ټکونه-زما په لاس کې کټ خوټ دی
په مړو کې جوړوي بد پرهارونه
*[دپښتوشفاهي ادبيات شکل او مضمون ۳۱-۳۰ مخونه]*

## *دتفصيل لپاره وګورئ:*

۱. *زرينې ځانګې*: دحبيب الله رفيع، زيري جريده، ۱۳۶۰ لمريز، کابل.
۲. *پښتو شفاهي ادبيات شکل او مضمون*: دغوثې خاورې، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲ لمريز، کابل.

www.sikaraam.com

# برغازۍ

برغازۍ هم د کاکړو پښتنو د سندرو یو ډول دی، چې په دې وروستیو کې د فوکلورپوهانو له خوا راپېژندل شوی. تراوسه دا نه ده څرګنده، چې په ځینو نورو پښتني سیمو کې هم د برغازۍ سندرو په څېر منظوم جوړښتونه شته؟

څېړندوی رفیع په دې اړه لیکي:

برغازۍ هم په کاکړو پښتنو کې یو ډول ولسي سندرو ته وایي، چې دوه تنه یې وایي. ځینې خلک دې سندرو ته برغزو او ستوني هم وایي. «ستوني» یې ځکه بولي، چې دا سندرې په ستوني کې د دوه کسانو په وسیله ویلې کیږي. چې یو په کې ستونچي او بل نړچي یا ناړی بلل کیږي او هغه دا چې لومړی ستونچی، ستونی اخلي او بیا د هغه ملګری، نړچي، چې خپل نړ (دروي) کې هم هغه ستونی ورسره اړوي.

www.sikaraam.com

برغاږۍ زياتره درې مسريزې وي، خو کله – کله درې بيتيزې او تردې زياتې هم راځي.»

د پښتو شفاهي ادبياتو شکل او مضمون کتاب د ښاغلي سيال کاکړ په حواله يوځای ليکي:

«د ژوب تاريخي ناوه او د بوري جانانه سيمه، د دغو شعري فورمونو مرکزونه دي. دغه شعري فوکلوري شعرونه، د ځينو خلکو له خولې، د «ستونې» په نومونو سره پېژنو... زموږ دغه شعرونه په خپله مينه ناکه غېږ کې اکثرا عشقي مطالبو ته ځای ورکوي. زياتره برغاږۍ يونيم بيتيز وي، خو کله کله درې بيتيزه او ځينې وخت بيا تردې هم زيات راځي، خو په ټولو صورتونو کې دغه ولسي شعرونه سره هم قافيه او اکثرو ځايو کې همرديفه وي.»

بېلګې:

بازار ميان دی خولګۍ راوړه۔ چرګ اذان دی خولګۍ راوړه

لوړ سهار دی، خولګۍ راوړه ـ زما تلوار دی، خولګۍ راوړه

راځه وړې راځه چې ځو ۔ د ګل ګېډۍ راځه چې ځو

نن سبا راځه چې ځو

الکانو کور مو چيرې دی؟ دلا ټکر مه چېرې دی

د مستې غولې مه چېرې دی.

د پښتو شفاهي ادبيات شکل او مضمون: ۲۹م مخ

بله بېلګه:

شينخالۍ اوبو له لاړه

د ټاکۍ اوبو له لاړه

www.sikaraam.com

سرې کپۍ او بوله لاړه
سرتریاره راښکاره که
ژړه غاړه راښکاره که
لاس مې خواته رایله که

*[زرینې څانګې ۲۷ م مخ]*

دبرغازیو دتفصیل لپاره دا کتابونه کتلای شئ:

۱.*زرینې څانګې:* دحبیب الله رفیع، زېری جریده، ۱۳۶۰المریز، کابل.

۲.*پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون:* دغوټۍ خاورې، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۶المریز، کابل.

۳.فوکلوري سندرې: دپروفیسور سیال کاکړ، ۱۳۵۷المریز، کابل.

www.sikaraam.com

# منظوم متلونه

متلونه هغه لنډې ويناوې دي، چې د پېښو يا خبرو په وخت داستناد لپاره کارول کېږي. د يوې مخکينۍ ترسره شوې پېښې کيسه په يوه لنډه جمله يا لنډ ترکيب کې په ډېره لنډه بڼه وړاندې کېږي او د نورو قياس پرې کېږي.

متلونه د پښتني فوکلور او ژوند يو مهم ژانر دی، چې اکثره وخت د خبرو پروخت د ډاډ، باور او رښتياينې لپاره کارېږي. اکثره پښتانه په عامو خبرو کې هم متلونه کاروي. متلونه خبرې مستدللې کوي، خوند يې ډېروي او داورېدونکي يا لوستونکي ډاډ او باور ډېروي.

ښاغلی رفيع په دې اړه ليکي.

«متلونه د خلکو هغه سپېځلې، پاکې، مانادارې او لويې- لويې لنډې جملې دي، چې د ولس د ثقافت، فرهنګ، علم او پوهې، کړو وړو ژوندۍ نمونې او د ولسي پوهانو دلوړو افکارو نماينده ګان دي.»

له پورته پېژندګلوۍ دا نتيجه اخيستی شو، چې متلونه په

www.sikaraam.com

ولس کې باتجربه، پوهو، ځیرکو او پخو خلکو جوړ کړي، ځکه خو ځینې یې پخې خبرې ګڼي.

متلونه په دوه ډوله دي، یو یې منظوم او بل یې منثور، خو یو ډول یې بل هم شته، چې اهنګین ترکیبونه دي، نه پوره منظوم دي او نه پوره منثور. دا نظریه که څه هم د ځینو لپاره ښایي د کره کتنې وړ وي، خو ډېری داسې متلونه وینو، چې د نظم او نثر دواړه خواړه په کې ګډ دي. دلته به یې یوازې منظومې برخې و پېژنو او نثري او نیمه نثري متلونه به د نثر په برخه کې ترڅېړنې لاندې و نیسو.

څېړندوی حبیب الله رفیع په دې اړه یو اوږد او په زړه پورې بحث لري، ځینې برخې یې دلته لیکو:

«د متلونو پېژندنه دوې خواوې لري: یو دا چې دویلو اصلي ځای او پېښه یې سړي ته معلومه شي، او بله دا چې د استعمال ځای یې و پېژندل شي. لومړی مانا یې حقیقي او دویمه یې کنایي او مجازي ده. مثلاً د دې متل: «مات لاس غاړې ته لویږي» حقیقي مانا هم موجوده ده، ځکه چې د چا لاس خوږ او مات شي، نو رښتیا یې غاړې ته اچوي، او مجازا په داسې ځای کې ویل کیږي، چې یو عاجز او بېوزلی سړی د خپل ځان غم خوړل، په کوم مشر باندې اچول غواړي.

متلونه په پښتو کې په دوه ډوله دي، یو ډول یې منظوم او بله برخه یې منثور دي. ځینې متلونه په ډېره پخه فلسفه بنا وي او په یوې کیسې پورې تړلي وي.

مثلاً لکه دا متل «بې له ما دې شل نه کړه» دا متل که څه هم اوس

په داسې ځای کې استعمالیږي، چې یو تن بې د بل تن له کومک او مرستې څخه کار ونه کړی شي، نو هغه ورته وايي، «بې له ما دې شل نه کړه» خو د دې متل اصلي فلسفه داسې ده:

«وايي يو غريب سړی و، پوله او پټی يې نه درلودل، خپله خواري غريبي به يې کوله، دومره پيسې به يې دور ځې گټلې، چې ايله بيله به يې سبا او بيگا کېدلې، په دې صورت به يې خپل ځان چلاوه، او گوزاره به يې کوله يوه ورځ يې اراده وکړه، چې په خوارۍ مزدورۍ پسې بل وطن ته لاړ شي، په همدې نيت له کوره ووت، بل ځای ته لاړ. خواري او مزدوري به يې کوله، چې څه به يې خوړله او څه به يې سپموله او ساتله، څو ورځې چې تېرې شوې، نو ايله يې نولس نيمې روپۍ وگټلې او بيرته راروان شو، چې کور ته راغی، په اولاد يې اختر جوړ شو، او فکر يې کاوه، چې پلار به مو ډېرې پيسې او هرڅه راوړي وي، ده چې دمه جوړه کړه، نو بيا يې خپله گټه وټه راوايسته، څه روپۍ چې يې گټلې وې، هغه يې خپلې ښځې ته ورکړې، ښځې يې چې روپۍ وشمېرلې، نو ايله بيله «نولس نيمې روپۍ» شوې. دې خدايزده له کومې زمانې راهيسې له ځان سره يو غيران ساتلی و او په پلو پورې يې تړلی و، ژر يې غيران له پلوه راخلاص کړ او هغه غيران يې د مېړه له گټې سره يو ځای کړ او مېړه ته يې وويل:

«بې له ما دې شل نه کړه»...»

*[د خلکو سندرې ۱۳۰-۱۲۹ مخونه]*

په دې توگه هر متل يوه کيسه لري او ترشا يې د پند و عبرت

www.sikaraam.com

ډېرې خوندورې کيسې پرتې وي، چې کله خود متل کاروونکي پ
دې نه پوهيږي، چې اصلي کيسه يې څه ده، خو دا پېژني، چې دغ
ډول متل، چېرې او کله ووايي.

او اوس په خپله متلونه:

ارزان بې علته نه وي- ګران بې حکمته نه وي

اصيل ته اشارت- کم اصل ته کوتک

امير چې ظلم کار وي- اوربل، په ټول ديار وي

انسان- تابع د احسان دی

اوړه دې په وړ- منت دې په څه؟

اوړه د مېچنې- زوی د خچنې

اوګره چې سړېږي- بلا پرې لګېږي

اول اتام- پسې کلام

اول ځان- پسې جهان

اول زده کړه- بيا کوزده کړه

بل ته مسلې کوي- په خپله پرې حملې کوي

بد به دې په زړه لرم- سلام به دې په خوله لرم

په يوه سړي چې دوه شي- رڼا ورځ پرې توره شپه شي

پښه مې دې پاس وي- که په خره وي که په اس وي

پک نه په سر تار لري- نه په چا کار لري

پلار يې ګټي- زوی يې خټي

په ډېرو کې يې خوره- په لږو کې يې وېشه

په ژرنده کې دې شپه شه- د زوم کره دې مه شه

په صورت نرۍ دی – په کار ګړندی دی
په غم کې نارې وهي۔ په ښادۍ کې نغارې
په زمکه سیوری نه لري- په اسمان ستوری
ته له ما ځار- زه له تا ځار
څوک مه وهه په ګوته –تا به نه ولي په ګټه
څوک مه وهه په نوک۔تا به نه وهي په سوک
څه چې په کټوۍ کې وي –هغه په ځمڅۍ کې وي
ځواني يوه نښه ده –د سپې نه چې همېشه ده
چرګه مې ناجوړه ده۔بانه مې ورته جوړه ده
چرګ خو یو مرغه دی۔چې چا ونيو دهغه دی
چې اور يې بل شي- خدای يې مل شي
چې په ما شي دنيا تېره –خدای دې نه کړي دنيا ډېره
چې راځي دبل له کوره۔په تا به شي شپه تېره

*دمتلونو دبېلګه ییزاو څېړنيز تفصيل لپاره داکتابونه کتلی شئ:*

۱.*پښتو متلونه:* دتار برن، دشېرمحمد کريمي ژباړه او تدوين، پښتو ټولنه، ۱۳۶۰المريز، کابل.

۲.*پښتو متلونه:* دمحمد دين ژواک په زيار، پښتو ټولنه، ۱۳۴۴المريز، کابل.

www.sikaraam.com

۳.روهـي *متلونـه(بېلابېـل ټوکونـه)*: د پروفیسـور محمـد نواز طایر، پښتو اکاډمي – پېښور پوهنتون.
۴.د *متلونـــو* قیصـــې: دابوالخیر خلاند ،(خپرنـــدوی؟)، ۱۹۷۵میلادي، کوټه.
۵.د *متلونـــو* قیصـــې: د محمـــد موســـی خـــان شـــینواري، (خپرندوی؟)۱۹۹۹میلادي، پېښور.
۶.د *متلونو* قیصې: دولي محمد ولي، ۱۹۸۲میلادي، کوټه.
۷.*متلونه*: د محمد ګل نوري، پښتو ټولنه، ۱۳۲۷المریز، کابل.
۸.*ولسي ملغلرې*: د سید اګل غریبیار، ۱۳۸۵المریز، پېښور.
په دغو کتابونو کې منظوم او منثور متلونه دواړه ډولونه کتلی شئ.

# سانډې

ساندې د پښتني فوکلوريو منظوم ډول دی، چې په مړي ويل کيږي. د مړشوي کس ستاينه، د هغه اوصاف، د مړي مېړانه، يادګارونه، د هغه د بيلتانه ارمانونونه او بېلابېلې نورې خواوې يې بيانوي.

ساندو ته ځينې خلک چيغې، نارې، غړانګې، کړيکې او نور نومونه هم اخلي، خو دا زياتره سيمه ايزې بڼې لري. ساندې د ويلو خاص غمجن انداز لري، چې کله-کله له ژړا او فرياد سره يو ځای وي. د «های»، «هوی» غوندې نورې کليمې هم ورسره ګډې وي، چې مړي ته راټول خلک هم ژړولی شي.

ساندې د لنډيو په فورم کې هم ويل شوي، او ځينې يې بيا خاص جوړښت لري. د لنډيو په فورم کې معرفي شوي ساندې د لته تکرار ته اړتيا نه لري، خو خاص جوړښت يې په دوه ډوله کتل شوي:

www.sikaraam.com

١.د يوه بيت په بڼه لکه د پښتني فوکلورد بل جوړښت د نارو د ځينو برخو په څېر.
٢.درې مسريزې ساندې
ا.دوه مسريزې ساندې:
دا جوړښت لکه د يوه بيت په شان دی. خو لومړۍ مسره يې معمولا لنډه او لاندينۍ يې اوږده وي:
بېلګه:
ماويل کورمې اباديږي
خبره نه وم چې د کوټې تير به مې ماتيږي
پورته لومړۍ مسره لس او دويمه پينځلس څپيزه ده.
بله بېلګه:
(پلانکيه) مه شپې کړه مه کلونه
په تورپېکۍ ناوې دې واچوه شالونه
په دغه سانده کې که يو فرضي نوم ورواچول شي، نو لومړۍ مسره به يې لس وي او دويمه ديارلس ده.
په دې توګه د ساندو څپه ييزجوړښت د ځينو نورو ډولونو غوندې منظم او څرګند نه دی.
درې مسره ييزه ساندې:
(پلانکيه) مه شپې کړه مه کلونه
کور ته دې رادرومه
په خيالي جامو دې ولو بدل ګردونه
پورته سانده، لومړۍ مسره -که يو درې څپيز فرضي نوم ورته


www.sikaaam.com

وتاکو -لس څپې، دويمه مسره يې شپږ څپې او دريمه يې دوولس څپې ده. نو په دې توګه ويلی شو، چې ساندې د څپه ايزجوړښت تابع نه دي. تراوسه لا له پښتني سيمو نه ددغه ډول ډېر نور مثالونه راغونډ شوي نه دي او ښايي، چې نور ډولونه به يې هم وموندل شي.

ځينې نورې بېلګې:

که ګورې دلونګو ونې بورې
خدای دې نه کړي، په داهسې ځوانانو مېندې بورې
که درګه دغونډۍ لاره درګرې
(پلانکی) داسې په کې ورک شو، لکه لاړ دملغلرې
که ګل دی دسورساندې
زه خبره نه يم، (پلانکی) چاکا ترخاورو لاندې
که زوره دخدای زوره
که دخدای زور نه وای «پلانکی» به چا ايسته له کوره
«پلانکيه» راشه دګور دپاسه
داکمکی زوی دې دلاسه کړه دخپله لاسه

*ساندې په لنډه ډول په لاندې کتابونو کې کتلای شئ:*

۱.د*خلکو سندرې*: دحبيب الله رفيع، افغانستان اکاډمي، ۱۳۴۹المريز، کابل.

www.sikaraam.com

دریم خیرکی

# خاص فوکلوریک ژانرونه

www.sikaraam.com

## په دغه څپرکي کې به يې لولئ:

- چاربیتې
- دچاربیتو ببلا ببل ډولونه
- کسرونه
- بدلې
- لوبې
- بګټې
- مقام
- داستان

۲.*کرنی/ادب*. د عبدالکریم پتنګ، عرفان مجله، ۱۳۵۷المریز، کابل
۳.*د پښتو ادبیاتو تاریخ*. د سر محقق هېواد مل، ۱۳۷۹المریز، پېښور
په ځينو نورو کتابونو، مقالو او مجلو کې.

# خاص
# منظوم فوکلوریک ژانرونه

خاص فوکلوریک ژانرونه د پښتني منظوم فوکلور دویمه برخه ګڼل کیږي. دا برخه ځکه خاصه یا ځانګړې ګڼو، چې ویونکي یې معلوم اشخاص دي. دغو شاعرانو د بېلا بېلو فوکلوري ژانرونو په چوکاټ کې شاعري کړې ده.

د فوکلور په اړه عام نظر دا دی، چې فوکلوري مواد باید د نامعلومو ښځینه وو او نارینه وو له خوا ویل شوی وي، خو د لته ډېری وخت شاعران څرګند او معلوم خلک وي. د دوی د ژوند او کار په اړه معلومات وي، نو دا څنګه په فوکلور کې شاملېدی شي؟

د ځینو په اند د غه ډول سندرې د فوکلور نه ګڼل کیږي، خو ځینې نور بیا وایي، د خاصو سندرو یوازې شاعران او ناظمان معلوم وي، خو د دوی تولید کړي نظمونه په فوکلوري چوکاټ کې وي. خیال، فکر او احساسات یې ولسي وي. هماغسې چې د نا څرګندو وینا والو له خوا ویل شوي عام فوکلوریک ژانرونه

www.sikaraam.com

داصيل فوکلور په توګه ګڼو، دغسې خاص هم فوکلور ګڼلی شو، يوازې د شاعرانو په معلومېدو بايد خاص فوکلوريک ژانرونه دفوکلور له دايرې بهر ونه ويستل شي.

دفوکلور څېړونکو ترمنځ دادوه نظريات لا هم شته. هغه څوک چې خاص فوکلوريک ژانرونه فوکلور نه ګڼي، نو يې بيخي دفوکلور له دايرې بهر ويستی هم نه شي، ځکه، چې ددغه ډول شعرونو او نظمونو جوړښتي بڼه، ويل شوي اصطلاحات او وړاندې شوي خيالونه يې ولسي او فوکلوري رنګ لري.

بل پلو دځينو نيمه باسوادو او يا پوره باسواده خلکو له خوا دیادو ژانرونو په جوړښت کې نظمونه او يا شعرونو ويل شوي. ددغه څېړنو په وخت دايوه بله ستونزه ګڼلی شو. ځکه چې داسې څه که په ژانري بڼه فوکلور ګڼل کېدی شي، نو ويونکي يې سربېره پردې، چې معلوم خلک دي، باسواده هم دي.

يو شمېر ديني عالمانو، طالب العلمانو او ولسي باسوادانو هم په ولسي بڼه شاعري کړې، چې دخاصو ژانرونو دپېژندګلوۍ په وخت بايد داخبره هم ياده شي. تراوسه لاداخبره سپينه شوې نه ده، چې له دغه ډول نظمي توليداتو سره څه وړ چلن په کار دی. اکثره فوکلور ټولوونکي دمعلومو باسوادو خلکو له خوا په ولسي جوړښت کې شوي ايجادات فوکلور نه ګڼي. په دې اړه يو نظر داهم دی، چې که دديني طالب العلمانو او ولسي ډوله ملايانو او اخوندانو له خوا دفوکلوريکو ژانرونو په چوکاټ کې شاعري شوې وي، نو دادې هم ځکه، فوکلورو ګڼل شي، چې ددغه ډول


www.sikaraam.com

خلکو هم له ولس سره اړیکي ډېر وي او په خپله هم د ولس په منځ کې اوسیږي، خو ځیني نور بیا دا ډول نظرونه ردوي.

دا بحثونه به کېدای شي، وروسته هم دوام وکړي. خو موږ دلته دغه خاص ژانرونه د منظوم فوکلور د دویمې برخې په لړکې پېژنو او دبیلګو په راوړو کې یې دزده کړو او نازده کړو شاعرانو توپیر ډېر نه شو څرګندولی.

هیله ده، په دې اړه زموږ اکاډمیکي موسسې د سیمینارونو او سمپوزیمونو په جوړولو د ټولو د نظریاتو مجموعه تیاره کړي او راتلونکي وخت د دغه ډول نظریات په معقوله او منطقي بڼه کره کړي.

په خاصو فوکلوریکو ژانرونو کې چاربیته، بګتۍ، مقامونه، دمروتو کسرونه او داستانونه شامل دي، چې اړیو داهریو دلته وپېژنو.

په دغه برخه کې هم ځینو فوکلور څېړونکو چې پخوا یې دا ډول ژانرونه راپېژندلي، ځینې برخې یې تکراري کړي او یا یې داسې څه هم یو ځانګړی ژانر بللی، چې اصلاً ژانر نه دی. مثلاً رباعي او مقام دواړه یو ډول ژانر دی، خو ځینو بیا سره جلا کړي، البته د بڼې له مخې که یو سندرغاړی دیوه مقام څلور مسرۍ ووایي، د لفظي مانا له مخې دې ته څوک ناسم نه شي ویلی. دغسې کیسې او داستانونه هم سره بېل پېژندل شوي، چې باید نه وای.

د کیسو او داستانونو په برخه کې لا ځینې وروستي فوکلور څېړونکي دا وایي، چې اصلاً داستانونه هم یو ځانګړی ژانر نه

www.sikaraam.com

دی، ځکه، چې ډېری وخت دغه داستانونه د چاربيتو په کالب کې ويل شوي او په کار ده، چې د ځانګړي ژانر په بڼه يې ونه پېژنو.

څرنګه چې داستانونه اکثره وخت د پښتني ټنګ ټکور په مجلسونو کې په ځانګړې بڼه ويل کيږي او دويلو طرز يې جدا دی او بل پلو ځينې داستانونه بيا د چاربيتو بڼه نه لري او د عروضي نظم مثنوي ته ورته دي، نو ځکه يې دلته ديوه ځانګړي ژانر په ډول پېژنو.

دابحث به په ځانګړې توګه د دغه هريوه ډول ترسرليک لاندې نورهم کره کړای شي.

www.sikaraam.com

# چاربيته

چاربيته د پارسي د چار (ځلور) له کليمې اخيستل شوې بڼه ده، چې د «بيته =بيتې» کليمو په يوځای کېدو د ځلور بيتيزې مانا ښندي.

د چاربيتې لومړنی ډول همدغه دی، چې له کسر (پيل) پرته لاندينۍ مسرۍ يې ځلور وي.ترځلور کمو ته چاربيته نه شي ويل کېدی، خو د همدغه مسريو ډېرښت بيا د نومونې لپاره کوم عيب نه دی، يا عيب نه دی ګڼل شوی.

چاربتيې يو کسر لري، بيا ورپسې مسرۍ لومړنۍ درې په يوه قافيه او ځلورمه يا وروستۍ يې د کسر په قافيه راځي. کله چې د بندونو د مسريو شمېر ډېرېږي، نورې ټولې مسرۍ يې کله په يوه قافيه او کله هم د هربند هره دويمه مسره له نورو بيتونو او مسريو سره هم قافيه وي.د هربند وروستۍ مسرۍ يې د کسر په قافيه راځي.دا هغه قاعده ده، چې په ټولو چاربيتو يو ډول تطبيقېږي.

د چاربيتو په بندونو کې د مسريو شمېر ترځلورو لږ نه وي، خو

ډېرېدی شي، ترشلو مسريو دزياتو بندونو چاربيتې هم کتل شوي دي.

چاربيته بايد څلورو بيتونو ته وويشل شي، چې اته مسرۍ کيږي، خو چاربيته بيا څلور مسرۍ هم وي. دانومونه ورته دهغه برخې په اساس منل شوې، چې ترکسر وروسته راځي.

څرنګه، چې ددغه نومونې وخت په سمه توګه نه شي اټکلېدی، بل پلو د پښتو فوکلوريک جوړښتونه هسې هم دکومې قاعدې له مخې نه دي رامنځته شوي، بلکې څه ډول چې دولس خولې ته لوېدلي هماغه ډول دود شوي، ځکه نو په نومونه کې دغه ډول کره کتنې ته چا تراوسه ارزښت نه دی ورکړی.

چاربيتې پخوا د پښتني موسيقۍ روح و. پښتني هنرمندانو به شپې په چاربيتو رڼولې. چاربيتې کله-کله اورېدې وي، چې ځينو هنرمندانو به په يادو پرې دموسيقۍ محفلونه تودول. اوس هم يو نيم ځای په موسيقۍ کې اورېدل کيږي، خو نوې شاعرۍ دفوکلوريک ادب رنګ لږ تت کړی دی.

په چاربيتو کې لويې دينې، عشقي او نورې ټولنيزې مسلې کتی شو، چې کله يې رنګ دکيسې په بڼه هم وي، او کله بيا کيسه نه وي په ساده ژبه ژوندني کيفيتونه په منظومه بڼه رانښيي. له دې امله خو دځينو په وينا «کيسې» بايد بېل ژانر، ونه پېژنو. په چاربيتو کې هرډول لوی او واړه مضامين بيان شوي او بيانېدی شي.

د پښتو چاربيتو دپيليدا دقيق وخت نه دی څرګند، خو ترنورو

www.sikaraam.com

لرغونې بيلګه يې په پټه خزانه کې د تايمني ده، چې د ۵۸۰ قمري کال په شاوخوا کې ويل شوې ده. ترديو وروسته بيا د احمد شاه دوراني دجګړو او له انګليس سره د افغانانو د جګړې په باب ځينې چاربيتې شته، چې ځينې يې ډارمستير ختيز پوه راټولې کړي دي.

پښتو چاربيتې د مضمون له پلوه د عشقي او اجتماعي مسايلو په څوا کې تاريخي پېښې هم بيانوي، چې د پښتنو د مبارزو مېړانو او وطني حماسو يو ژوندی تاريخ راښيي. ځينې دا چاربيتې له شعريت او هنر پرته اوس هم ارزښتمنې ګڼل کيږي، ځکه، چې د افغانانو د ملي مبارزو په اړه ويل شوي او ديوه ماخذ په توګه د استناد وړ دي.

د چاربيتو د پوره پېژندو لپاره اړيو، چې د بڼې (فورم) له مخې يې لومړی ډلبندي کړو او بيا يې بيلګې هم وړينو.

دلته د چاربيتو په باب تفصيل ددې لپاره دی، چې د ولسي ادب اصلي روح وکيفيت وپېژندای شو.

چاربيتې په پيل کې په دوو ډولونو وېشل شوي: ساده چاربيتې او زنځيرې چاربيتې(۱)

**الف: ساده چاربيتې**

ساده چاربيتې هغه دي، چې پورتنی تعريف پرې تطبيق شي او پرته له دې چې عمومي پرله پسې والی (تسلسل) يې وشليږي، د مسريو په منځ کې اهنګوال لفظي تسلسل نه لري او يوازې په

---

۱. دا وېش ترديې مخکې ښېرندوی رفيع په «خلکو سندرې» کې ښوولی دی.

www.sikaraam.com

ساده بڼه مفاهيم مقفا (منظوم) شوي وي.

ساده چاربيتې هم د کسر او د بندونو د مسريو د شمېر د ډېروالي له امله په څو ډولونو وېشل شوي، څېړندوی حبيب الله رفيع په خپله څېړنه کې په دې اړه تفصيلي بحث کړی او يو وېش يې وړاندې کړی چې ځينې برخې يې د همده له کتابه او په ځينو کې ورسره نوې بېلګې او خبرې هم وړاندې کوو:

[د خلکو سندرې، ۲۴۳-۲۲۴ مخونه]

## [۱]

هغه ډول چاربيتې دي، چې: کسر يې دوه هم قافيه او همرديفه مسرۍ لري، يا په بله وينا د عروضي غزل په شان يو بيت دی، بيا ورپسې څلور مسرۍ لري، لومړنۍ درې يې په يوه وزن او يوه قافيه او وروستۍ يوه يې د تېرو دريو غوندې په هماغه وزن، خو د کسر په قافيه راځي.

کسر:

په سپينه خوله کې دې نښه رب د شرابو ايښې
اوبو له ځې په سر جوغه دې د نوابو ايښې

څپه ييزه تجزيه:

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په | سـ پيـ | نه | خو له | کـ ي | دي | نښـ | شه | ر ب | د | شـ | را | بو | ايـ | ښـ ي |
| او | بو | له | ځـ ي | په | سر | جو | غه | دي | د | نـ | وا | بو | ايـ | ښـ ي |

www.sikaraam.com

يو دوه بندونه:

په سپينه خوله کې دې نښه اينبې د بنګو ده
د الباسي خندا دې ټوله دبې ننګو ده
بل خوشبويي دې په سينه کې دلونګو ده
عاشقان وژنې، نن دې توره د قصابو اينبې
اوبو له ځې په سر جوغه دې د نوابو اينبې

بلې لمبې به د عاشق په زړګي پورې کړم
چې ناغه دارې سترګې زه په کجل تورې کړم
شينکي خالونه په جبين کې لکه ستورې کړم
په تور وربل کې مې ګلونه د ګلابو اينبې
اوبوله ځې په سر جوغه دې د نوابو اينبې

*[پښتني سندرې ۲۲م مخ]*

د همدې ډول يوه بله بيلګه د محمدين د چاربيتې يو کسر او يو بند:

د ښايست اواز دې لاړو په عالم کې لور په لور
زه دې سوی يم په اور – ټيک دې کوز کړه له جبينه
د ښايست اواز دې لاړو په کابل په هندوستان
ځکه ناست يمه حيران، رارسېږې يا نصيبه
عاشقي ده ډېره ګرانه ، ځې داوښکو مې باران
پرې مې لوند شولو ګرېوان پوهه نه شوم له ترتيبه
په هرچا باندې تېرېږي، د فاني دنيا دوران

www.sikaraam.com

څوک راځي، څوک ترې روان، کاندې یارو ته قریبه
بارې خپل دي، که پردي دي، راکوي راته پېغور
سترګې نه شمه نیولی - ګوره ډوب یم ستا په مینه

*[باغ وبهار (۹۸ یم) مخ]*

## [۲]

چې: د کسر دواړه مسرې یې په بېلو اوزانو وي، لومړنۍ مسره یې اوږده، دویمه یې لنډه او دواړه په یوه قافیه وي، لکه:

کسر:

محبوبا سرې سترګې خمارې په څو رنګ راځي
مسته په غورځنګ راځي
څپه ییز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| محـ | بو | با | سر<br>ې | سـ<br>تر | ګې | خـ | ما | رې | په | څو | رن<br>ګ | را | ځي |
| مسـ | ته | په | غو<br>ر | ځن<br>ګ | را | ځي | | | | | | | |

یو بند:

لیلا چې دواړه سترګې ډکې په خمار کاندې
بیا دزړونو ښکار کاندې
ترځنګ کاته، کله یمین کله یسار کاندې
ډېر عالم به خوار کاندې
وریځې لیندۍ، باڼه یې غشي دخدنګ راځي

www.sikeraam.com

مسته په غور ځنګ راځي.
د شاه په پوزه سور پېزوان هم يې چار ګل دواړه
زيات يو تربل دواړه
په تش ديدن يې سره ايل کړه هند - کابل دواړه
جنګوي تل دواړه
خال يې په تخت د جبين ناست لکه اورنګ راځي
مسته په غور ځنګ راځي.

*[باغ وبهار: ، (۱۷۳ يم مخ)]*

## [۳]

چې د کسر دواړه مسرۍ يې په بېلو قافيو او يوه وزن وي لکه د سيد کمال دا چاربيته:

کسر:

اهو چشمې ګل اندامې ماه جبينې
ولې - ولې زه دې وسوم څه د پاره؟
څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | هو | چشـ | مې | ګل | ان | دا | مې | ماه | جـ | بيـ | نې |
| و | لې | و | لې | زه | دې | و | سوم | څه | د | پا | ره |

بند:

وسوم - وسوم، څوک مې نه اخلي عرضونه

www.sikaraam.com

نه پوهېږم ربه دا څه رنګ تاثیر دی
لیلا تور وربل دې جال نیسي بازونه
باز د زړه نیسي بېشکه هوا ګیر دی
د هرچا له خولې نه خېژي داغرونه
شینکی خال دې غونډه زنه کې امیر دی.
پاچایي دې شوه په لاس پاچا د چینې
رسالې درپسې ځي شولې واکداره!

*[د خلکو سندرې ۲۲۷ م مخ]*

## [۴]

چې د کسر دواړه مسرۍ یې په یوه قافیه او بېلو وزنونو وي.
لکه:

کسر:

زنه دې سېب دی د کابل، خال درخشان لرې
ښه دورو دوران لرې

څپه ییز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ز | نه | دي | سـ<br>ېب | دی | د | کا | بل | خا<br>ل | د | رخ | شا<br>ن | لـ | رې |
| ښه | دو | رو | دو | ران | لـ | رې | | | | | | | |

یو بند:

شین خال دې ایښی نازنین دلبره
شمس و قمر دې دی جبین دلبره

درپسې مري شاهان د چين دلبره
ولې خواران او مسکينان غشي کمان لرې
ښه دورو دوران لرې...

*[پښتنې سندرې (دويمه برخه): ۵۸ م مخ]*

## [۵]

چې د کسر دواړه مسرۍ يې په يوه وزن وي او د قافيې له پلوه يې يوازې ورستۍ ټکې سره برابر وي. لکه د عبدالواحد ټپکه دار د اچاربيته:

کسر:

توري زلفې دې په مخ لکه د تال زانګي
خوشامندې کوم بوت له سادو رام - رام جي[۱]

څپه ييز جوړښت:

| تو | رې | زلـ | فې | دې | په | مخ | لـ | که | د | تال | زانـ | ګي |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خو | شا | منـ | دې | ک | وم | بو ت | له | سا | دو | رام | رام | جي |

يو بند:

توري زلفې دې په مخ لکه منګور ول په ول
يارسۍ دي د عاشق د پاره دار دار دی

*۱. يادښت: رام - رام جي د اهل هنودو او سېکانو عقيدتي اصطلاح ده، چې د عبادا تو پروخت يې کاروي، دلته شاعر خپل محبوب د اسې ګڼي، چې ګويا د صنم يا بوت په شان، چې د نورو اديانو پيروان يې درناوی کوي، دی هم د غومره ورته ګران دی.*

www.sikaraam.com

ښتو کی دې د جبين د پاسه تور ول په ول
د ځېلی د بنفشې په شانې تار تار دی
په رېمنځو دې قت کړی د لاهور ول په ول
بل په غاړه دې د سرو ګلونو هار هار دی
سرې دړی دې په بندر د شينکې خال زانګې
تورې زلفې دې په مخ لکه د تال زانګې
پيچو خم دې پرې وربل لکه د لام لام جې
خوشامندې کوم بوټ له سادو رام رام جې

*[چاربيتې د عبدالواحد تېکه دار (۲۵ م) مخ]*

## [۶]

چې دوه کسره ولري يا په بله وينا، کسر يې څلور مسرۍ ولري، لومړۍ يې اوږده او دويمه يې لنډه، خو په بېلابېلو قافيو. لاندې دوه مسرۍ د پورتنيو غوندې کټ مټ تکراريږي، لکه د کلاچی دا احمد دا چاربيته:

کسر:
بيا ښکلې محبوبا شوه اراسته، چشمانې تورې
راځي په سرو مونګلو
له خياله يې شانه کړې په مخ زلفې دورې دورې
که لښتې د سنبلو


www.sikaaam.com

څپه يي‌ز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بیا | ښ<br>ک | لې | محـ<br>- | بو | با | ښ<br>وه | ا | را<br>سـ | ته | چ<br>ښـ | ما | نې | تو | رې |
| را | ځ<br>ي | په | سر<br>و | مو<br>نـ | ګ | لو | | | | | | | | |
| له | خ<br>یا | له | يې | شا | نه | کړ<br>ي | په | مخ | زلـ | فې | دو | رې | دو | رې |
| که | ل<br>ښـ | تې | د | سـ<br>نـ | بـ | لو | | | | | | | | |

یو بند:
که ښه کوې محبوبې پلو واخله له رخساره
مشتاق دې د دیدن یم
د هجر په لمبو مې کړوې د څه د پاره
زه خود په زنکدن یم
پوهېږمه په ځان، چې روغ به نه شم له دې واره
دا هسې رنګ درد من یم
ترزړه مې ستا د مینې سیخ ختلی پورې اورې
حال نه دی د ویلو

[باغ و بهار: ۱۸۳ یم مخ]

# [۷]

چې کسر يې پنځه مسری وي او پنځه واړه يو له بل سره هم قافيه نه وي او ځينې يې په وزنونو کې هم يو له بل سره تو پير

www.sikaraam.com

ولري، لکه د سنګینې د طالب جان دا یوه:
کسر:
جګړه شوه په مخ باندې. د تیک او د پېزوان
تیک وویلې پېزوانه - ستا ښایست زما نه کم دی
منکر لره قسم دی
څپه ییز جوړښت:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جګـ | ړه | شوه | په | مخ | باند | دې | |
| د | تیک | او | د | پېز | وان | | |
| تیک | و | ویـ | لې | پېز | وا | نه | |
| ستا | ښا | یست | ز | ما | نه | کم | دی |
| منـ | کر | لـ | ره | قـ | سم | دی | |

ځینې بندونه:
تیک وویل پېزوان ته - ته ګوره زما شان ته
نجلۍ چې شي بالغه اول ډول په ما کاندې
جګړه شوه په مخ باندې
نجلۍ چې ځان سنبال کا. وربل په ورځو جال کا
د پاسه یې ما سور کاندې په مثل د سلطان
د تیک او د پېزوان
پیکي کې د خالدارې. روپۍ سپینې کتارې
ازل کې یې نصیب دا ستوګنې دا حرم دی
منکر لره قسم دی.

www.sikaraam.com

وربل لرمه تخت – وينې شوی مې دی بخت
پېزوانه بې فايدې لاپې وهې دادې لوی غم دی
منکر لره قسم دی
پېزوان وی !ټيکه نر يم – د بره په ښه دفتر يم
ته پروت يې په ځنګله کې نه شرمېږې، چې لا خاندې
جګړه شوه په مخ باندې
ځنګل شو ستا په برخه – داستا دکمی نښه
بندي يې همېشه سيل دې ونه کړ دميدان
دټيک او د پېزوان
بل مړ شولې دولږې - چيچې دې وررېږې سپږې
زه پروت يم په حرم کې ښه خوراک مقام مې فم دی
منکر لره قسم دی
ټيک وی مه وايه سپکې – يوتن يې څه به وکې
چارګل مې کېنولی په بندر کې درنه وړاندې
جګړه شوه په مخ باندې
صفت دهر کالي دی- اشنا زما خيالی دی
چور چور په زړه رنځور - مينې ديار که طالب جان
دټيک او د پېزوان
مسکن مې سنګينه شوه – غلبېل زما سينه شوه
ديار مې اند ېښنه شوه، زړه زما پسې قلم دی
منکرلره قسم دی.

*[افغانستان: اريانا دايرة المعارف، ۲۲۹ م مخ]*

www.sikaraam.com

# [۸]

چې دوه کسره ولري، د دواړو کسرونو لومړنی مسرې يې په وزن کې لويې او ورپسې يې لږې څپې ولري. لکه د علي شاه په نامه ديوه شاعر دا يوه:

څلور په څلور لارې ځي، څلور ديوه په لور ځي
يو بيا مونده څلور
پينځم په کې مدغم شه ، په رڼو سترګو شمکور ځي
ولاړ په مخکې تورځي
څپه ييز جوړښت

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| څ | لو ر | په | څ | لو ر | لا | رې | ځ ي | څ | لو ر | د | يو ه | په | لو ر | ځ ي |
| يو | بيا | مو | ند ه | څ | لو ر | | | | | | | | | |
| پيـ نـ | ځم | په | ک ې | مد | غم | شه | په | ر | ڼو | سـ تر | ګو | شمـ - | کو ر | ځ ي |
| و | لاړ | په | مـ خـ | ک ې | تو ر | ځ ي | | | | | | | | |

يو بند:

روان په يو پسې شه ، دويم کړه د ځان ملګری
محکم دی لري ځری
وړومبی ترينه وروستی کړه ، وروستی کړه دوړومبي لاندې
چې چاته نه شي لاندې
بلبل مې د چمن په ګلو څرنګه په شور ځي

www.sikaraam.com

جنت له روژه خور ځي
*(دا چاربيته په هغو کې هم کټل کېدی شي، چې د کيسيو په بڼه پوښتنې په کې وړاندې کيږي)*

*[باغ وبهار: ۱۵۲-۲۵۱ مخونه]*

## [۹]

چې کسر يې څلور مسرۍ وي، په وزن کې څلور واړه سره برابرې وي، خو په قافيه کې د عروضي نظم د قطعې غوندې لومړۍ او درېيمه او دويمه او څلورمه په خپلو کې سرخوري. لکه دا خون ميرحسن خويشکي دا چاربيته:

کسر:

دواړه لب دې مجرب دي نازنينې
نازنينې تا پسې کوم فرياد
دا اثر نظر په ما وکړه شېرينې
شېرينۍ ستا په سر مړ شولو فرهاد

څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دوا | ړه | لب | دې | مـ | جـ | رب | دي | نا | ز | نيـ | نې |
| نا | ز | نيـ. | نې | تا | پـ | سې | ک | وم | فر | يا | د . |
| د | ا | ثر | نـ | ظر | په | ما | وکـ | ړه | شېـ | ريـ | نې |
| شېـ | ريـ | نۍ | سـ تا | په | سر | مړ | شو | لو | فر | ها | د |

يو بند يا کړۍ:

د هلال مثال جمال لرې په تن کې
تن زما درپسې ځکه شو کباب

www.sikaraam.com

دزينت صفت دې کيږي هر وطن کې
په وطن کې په ما راغلو انقلاب
تاج دراج لرې محبوبه په ختن کې
دختن نه واپس نه راځي جواب
په ژړا مې تاپسې شوې سترګې سپينې
سپين بشر چې دې کوم وختې کړم راياد

*[چاربيتې داخون ميرحسن بابا، (۱۲۱م مخ)]*

## [۱۰]

چې کسر يې دڅلورو مسريو په شان ويل کيږي، خو په اصل کې درې مسرۍ دي، لومړۍ مسره يې دوه ټوټې وي، دواړه ټوټې په خپلو کې هم وزنه وي، خو هم قافيه نه دي، دويمه مسرۍ يې اوږده وي او ورپسې يوه لنډه ضميمه ولري. لکه:

د سپين جبين د پاسه - برېښنا کړي ټيک د زرو
خواره په هر طرف لکه د شپې ورته زلفان دي
ميين لره توپان دي

څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د | سـ<br>پيـ<br>ن | جـ | بيـ<br>ن | د | پا | سه | بر<br>ﯦ<br>ښـ | نا | کړ<br>ي | ټيـ<br>ک | د | ز | رو | |
| خو<br>ا | ره | په | هر | ط | ر<br>ف | لـ | که | د | شـ<br>پې | ور | ته | زل | فا<br>ن | دي |
| مـ | ييـ<br>ن | لـ | ره | تو | پا<br>ن | دي | | | | | | | | |

www.sikaraam.com

يو بند:

دورځو په پيوند – شين خال يې کوي خوند
مورچل يې دی نيولی په کې ناست دی بې وسواسه
دسپين جبين دپاسه
له تور پيکي نه لاندې.دادواړه لاندې باندې
يو ستوری دسبا بلـه سپوږمۍ دهنرورو .بربښنا کړي تيـک دزرو
سپين مخ لکه اسمان دی – بدن کې دجانان دی
داشپه ستوري سپوږمۍ په کنارو کې دااسمان دي
ميين لره توپان دي

*[ولسي سندرې (۹۳ يم مخ)]*

## [۱۱]

چې دکسر دواړه مسرې په يوه قافيـه او يـوه وزن وي او ورپسـې يـوه ووړه بلـه مسـرۍ هـم دضـميمې پـه بڼـه ولـري، لکـه دنورشـالي داچاربيته:

مازيگر راشه په تلوار که زما يارېې
برگودر له ځونه چې ملگري شو دلارې
مازيگر راشه

ځپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ما | زيـ | گر | را | شه | په | تل | وار | که | ز | ما | يار | يې | |
| بر | گو | در | له | ځو | نه | چې | مل | گ | ري | شو | د | لا | رې |
| ما | زيـ | گر | را | شه | | | | | | | | | |

www.sikaraam.com

يو بند:

ما زيګر راشه په تلواريمه بلبله
د جينکو نه پاتې شوم ستا له کبله
تاچې خبره د کوکۍ راته کوله
راځه چې درکړم سپينه خوله زلفې تارتارې
ما زيګر راشه

*[د خلکو سندرې (۲۲۹ م مخ)]*

## [۱۲]

چې دوه کسره ولري، د لومړي کسر لومړۍ دوه مسرۍ يې په وزن او قافيه کې يو ډول او د دويم کسر دواړه مسرۍ يې له لومړي کسر سره توپير ولري، خو دواړې په خپلو کې په وزن او قافيه کې يو ډول وي. لکه د ملا احمد جان دا چاربيته:

کسر:

زما(۱) په تا پسې طاعون دی صنم
حال مې په مثل د مجنون دی صنم
شوم لېونی د بيابان درپسې
ځکه له خولې مې ځي سوران درپسې
ځپه ييز جوړښت:

---

۱. دلته [زما] تکی په دوه ځپو لوستل کيږي. د پښتو په ځينو لهجو کې دا تکی په يوه او په ځينو نورو کې بيا په دوه ځپو ويل کيږي.

www.sikaraam.com

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ز | ما | په | تا | پـ | سې | طا | عون | دی | صـ | نم |
| حال | مې | په | مـ | ثل | د | مجـ | نون | دی | صـ | نم |
| شوم | لېـ | و | نی | د | بـ | یا | بان | در | پـ | سې |
| ځـ | که | له | خول ي | مې | ځي | سو | ران | در | پـ | سې |

یو بند:

ځکه له درده په چغار یمه زه
دننه زړه باندې پرهار یمه زه
لکه فرهاد وطن مې غرشونا
واړه عالم په ما خبر شونا
ته شیرینۍ که راشې ماله یو ځل
په وصالت مې کړې خوشاله یو ځل
سر مې نسکور پروت په زنګون دی صنم
حال مې په مثل د مجنون دی صنم

*[باغ و بهار: ۱۸۲ یم مخ]*

## [۱۳]

چې دوه کسره ولري، دلومړي کسر دواړه مسرې یې په یوه قافیه او ځانګړي وزن وي او دویم کسر یې لومړني هغه ته کټ مټ ورته وي.لکه دملي شاعر ملنګ جان لاندې چاربیته - چې د پنجاب د استعماري حکومت او دیوه محکوم پښتون ترمنځ د سوال و ځواب په بڼه ویل شوې ده:

کسر:

www.sikaraam.com

س- د بزرګۍ نښې راکې دي، فيض رسان يمه زه
بلند نښان يمه زه
ج-د مکر ګوډيه زه دې پېژنم انسان يمه زه
کله نادان يمه زه
څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د | ب | زر | ګ ی | ن | ښ ې | را | ک ې | دي | فيـ ض | ر | سا ن | يـ | مه | زه |
| ب | لنـ د | نـ | ښا ن | يـ | مه | زه | | | | | | | | |
| د | مـ | کر | ګو | ډيـ ه | زه | دې | پېـ | ژ | نم | انـ | سا ن | يـ | مه | زه |
| ک | له | نا | دا ن | يـ | مه | زه | | | | | | | | |

نور بندونه:
س- د بزرګۍ نښې راکې دي، خدمتګار يمه زه
ستاسو غمخوار يمه زه
راځئ -راځئ په سر راځئ ستاسو بادار يمه زه
د قام سردار يمه زه
تاسو ته سمه لاره ښييم ذمه وار يمه ره
تجربه کاريمه زه
زما په نام اوسئ- تل به ارام اوسئ
خوښ به مدام اوسئ
زه مسلمان يم طرفدار د مسلمان يمه زه

www.sikaraam.com

بلند نښان يمه زه
ج- ته چې وی، زه يمه مسلم، ستا اسلاميت څنګه دی؟
ستا ديانت څنګه دی؟
د خدای رسول په لاره سم ستا عدالت څنګه دی؟
ستا شريعت څنګه دی؟
په مسلمان باندې ستا مهر و شفقت څنګه دی؟
ستا حقيقت څنګه دی؟
د چارسدې ماشومان ، هغه تورسري خواران ، چې شهيدل په ميدان
دغه د چا دلاسه مړه شول و حيران يمه زه
کله نادان يمه زه

*[د وطن د مينې کچکول ۴۵۸ م مخ]*

*د همدغه شاعر يوه بله چاربېته هم په دغه وزن کې ډېره نامتو ده:*

پښتون زوی د بابا يمه ولاړ يم په ميدان – مزبوت يم ملا تړلی
په لار د قوميت کې به خپل ځان کړمه قربان – ما سر په لاس نيولی
په لار د قوميت کې يمه تېر ترسرو مال - دا رسم د پښتون دی
په دغه لار که مړ شم دغه مرګ ګڼم بهتر۔ ازاد زمونږ ژوندون دی
تمام پښتانه يو دي، که په سمه دي په غر۔ پخوانه دا تړون دی
وطن زمونږ ناموس دی ، په ناموس وژنو خپل ځان
ماځان په مرګ شمېرلی

# [۱۴]

چې دوه کسره یا څلور مسرۍ ولري، ټولې دا مسرۍ په یوه وزن او یو ډول قافیه وي. لکه د زرجان شاعر دا یوه:

کسر:

لیلا سپین مخ دې ګلاب، سترګې لالونه
د جبین په منځ دې ایښي شنه خالونه
باښه غشي تورې زلفې دې مارونه
کړې وروځې دې لیندۍ غو څوي زړونه

څپه ییز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لیـ | لا | سـ<br>پین | مخ | دې | ګـ | لا<br>ب | سـ<br>تر | ګې | لا | لو | نه |
| د | جـ | بین | په | منځ | دې | ایـ | ښي | شنه | خا | لو | نه |
| با | ښه | غـ | شي | تو | رې | زلـ | فې | دې | ما | رو | نه |
| کـ | ړې | ور<br>و | څې | دې | لینـ | دۍ | غو | څـ | وي | زړو | نه |

بند:

لیلا سپین مخ دې ګلاب، بدن دې باغ دی
تورې زلفې دې کړې غوړې په پلبلو
مازیګر ایښی زما په زړګي داغ دی
خوشبویي درڅخه خپرې درامبېلو

سور پېزوان دې اتشي، ځلاند څراغ دی
عاشقان دې بې ګنا وسول په تېلو
خوارو زار درته ولاړيم په دربار کې
خدای د پاره شاه قبول مې کړه سوالونه

# [۱۵]

چې دوه کسره ولري، دلومړي کسر لومړی دوه مسرې په قافيه او وزن دواړو کې سره بېلا بېلې وي، ددويم کسر لومړۍ مسره لويه او دويمه دلومړي کسر دلومړۍ مسرې په بڼه وي، خو قافيه يې بل ډول وي. لکه د صاحبزاده غلام قادر داچاربيته:

کسر:
مرمه بې له تانه
ګډ دځان په وير
يه محبوبې ستا په يارانه کې مې طاعون شو
حال مې د مجنون شو
څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مر | مه | بې | له | تا | نه | | | | | | | | |
| ګ<br>ډ | د | ځا<br>ن | په | و<br>ير | | | | | | | | | |
| يه | محـ<br>- | بو | بې | ستـ<br>تا | په | يا | را | نه | کې | مې | طا | عو<br>ن | شو |
| حا<br>ل | مې | د | مجـ<br>- | نو<br>ن | شو | | | | | | | | |

www.sikaraam.com

يو بند:

مرم ستا په يارۍ کې- پروت يم په خوارۍ کې
ساه مې ده مرۍ کې
اوس د ژوندانه تمه مې قطعه شوه له ځانه
مرمه بې له تانه
اوس مې زنکندن دی - روح مې په رفتن دی
پاتې دا وطن دی
ستا د ښو غشي مې ښخ شوی په ضمير
ګډ د ځان په وير

*[باغ وبهار ۳۵-۳۴ مخونه]*

## [۱۶]

چې کسر يې څلور مسرۍ ولري، او لومړنۍ دوه يې په خپلو کې هم وزنه او هم قافيه او په ورپسې دوو کې يې لومړنۍ اوږده او دويمه لنډه او له لومړنيو دوو مسريو سره په يوه قافيه نه وي لکه د باجوړ د ګوجر شاعر دا يوه:

کسر:

مينې دې ستي کړمه
ژوبل دې دستي کړمه
مادرته نيولې په اميد هيله لمن ده
مه کړه ناپسنده

www.sikaraam.com

څپه یيز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| میـ | نې | دې | ســ | تي | کړ | مه | | | | | | | |
| ژو | بل | دې | د ســ | تي | کړ | مه | | | | | | | |
| ما | در | ته | نیـ | و | لې | په | ا | مېـ د | هیـ | له | لـ | من | ده |
| مه | کړه | نا | پـ | سنـ | ده | | | | | | | | |

بند:

مینه دې دریاب وینم. ځان په کې غرقاب وینم
درله دې راغلی یم، چې ونه وایې سپورې جنۍ
بد-بد راته ګورې جنۍ
ګورم درته بد هلکه. تابه کړمه رد هلکه
مه راځه پالنګ له زما، بل وارې به شور وکم
خبر به مې په مور وکم

*[د چاربیتي شاعران: کال (دویم ټوک)، ۱۴۳ م مخ]*

## زنځیري چاربیتي:

زنځیري چاربیتي د چاربیتو یو ځانګړی ډول دی، چې د موضوع او مضمون د تسلسل په خواکې همغږي لفظونه هم لري. د دغه چاربیتي د هر بند الفاظ داسې برابر شوي وي، چې سره هم قافیه وي او یو ځانګړی موسیقیت رابښيي.

د همغږو لفظونو ترتیب په کې له پیل (کسر) نه شروع کیږي او

www.sikaraam.com

دټولو بندونو په هره مسره کې ليدل کيږي. عموماً دبندونو د مسريو پيل په ساده لفظونو وي، خو تردرې، يا څلورو څپو وروستو همغږي لفظونو پيليږي، چې بيا د مسرۍ ترپايه تکراريږي.

د پښتو په ولسي او عروضي دواړه ډوله شاعرۍ کې تراوسه ددغه ډول شعرونو بيلګې نه دي کتل شوي او په يو ځل اوريدو سره يې دقوت، روانۍ، دموضوع دانتخاب او دلفظونو دلوړ اغېز اندازه لګېدی شي.

دا ډول چاربيتې پياوړيو ولسي شاعرانو ويلي، په دې مانا، چې هر ولسي شاعر دغومره خواري، فکر او ذوق نه شي توليدولی، چې دلوستونکو زړونه پرې خپل کړي.

زنځيرۍ چاربيتې زياتره نيمه باسوادو ولسي شاعرانو ويلي، ځيني يې ديني ملايان او اخوندان دي، چې په پښتو او عربي ژبو دواړو کې لږو ډېره مطالعه لري، ځکه نو دوی دخپلې دغه مطالعې په برکت دهمغږو الفاظو دموندو استعداد موندلی، خو ددوی دفکر بنه، طرز، دشعر چوکاټ او شعري چاپېريال ولسي دی. بل پلو ددوی شعري محتويات هم ولسي دي او له ولسي پېښو نه رنګ اخلي.

دزنځيرۍ چاربيتو په کتود پښتو ولسي ادب اصلي روح وکيفيت ته ننوزو او وينو، چې پښتون چاپيريال او فکر څه ډول خپل وطني ارزښتونه په نويو فکرونو او کالبونو کې ځاييولی شي. دچاربيتو دغه جوړښت ترنورو ګران دی او داسې ښکاري، چې دهر ولسي شاعر کار نه دی.

www.sikaraam.com

داچاربيتې نيمه باسوادو او له سواد نه بيخي محرومو ولسي شاعرانو دواړو ډلو ويلي. داچاربيتې هم دکسرونو دتنوع، دبندونو دډېروالي او دالفاظو دتاکنې له مخې په بېلابېلو بڼو وېشلی شو، خو دلنډون په مخه ترې تېرېږو او دلته يې يوازې څو رنګارنګ بيلګې خوندي کوو. په پيل کې دغزنې دملا زاهد دانامتو يوه:

کله به راوړې دواړه لبې دې رنګين شېرين
سپين دې جبين، زرين، مخ دې ځليږي
کله به راوړې دواړه لب، شات وملهم، صنم
مه کړه ستم، هردم، په غضب ښورې
سرې دې مونګولې، همېش وړې زړونه قلم، قلم
اخلې قدم، په چم، سترګې دې تورې
په در دې پروت يم، همېش غواړم، ستا کرم، محکم
لرې کړه غم، الم، که رب ته ګورې
نن دې په غاړه باندې زانګي لونګين، رنګين
سپين دې جبين، زرين- مخ دې ځليږي
کله به راوړې، غونډۍ زنه، لکه قند، که خوند
ستا په کمند، شوم بند، يمه اسير
بانه دې غشي، دليندۍ کوي، خدنګ، غورځنګ
راشه په څنګ، يو درنګ، زه يم دلګير
نن دې په غاړه باندې زانګي، تورلونګ، قشنګ
زه شوم ملنګ، پتنګ، صورت زهير

www.sikaraam.com

شینکی دې خال دی، پاس پرتخت، پاچا د چین ماچین
سپین دې جبین، زرین، مخ دې ځلیږي
دلګیره مه شه، خوله مې شه، ترتا قربان، جانان
د اسره لبان، په شان د قند لرمه
حسن دې ډېر دی، هنګامه یې په جهان، عیان
ابرو کمان، زلفان، کمند لرمه
ښه راته وګوره، چې څه ښه مې دی شان، دوران
در مې دندان، مرجان دهند لرمه
دښکلو نجونو شنه خالونه په جبین، سنګین
سپین دې جبین، زرین، مخ دې ځلیږي
کله به راوړې، سپینه خوله دې شکراب، ګلاب
مزه دناب، شراب په شان کوینه
زلفې دې زانګي، په سینه دې پېچ و تاب، تناب
ساز درباب، دولاب، اواز کوینه
ژیړ دې پېزوان دی، دزاهد غریب قصاب، جلات
ستا دنقاب، دباب، بیان کوینه
په درد دې پروت یم، همېشه یمه خواشین، غمګین
سپین دې جبین، زرین، مخ دې ځلیږي

*[پښتني سندرې ۷۶-۷۵ مخونه]*

د محمدین تیلي د نوښار یوه زنځیری چاربیته، چې د ملا زاهد چاربیتې ته ورته ده:

کله به راشې په پوښتنه د ملنګ - کړې څنګ

www.sikaraam.com

لرې کړه زنګ - شوم رنګ- ستا په تومت کې
کله به راشې - چې دې وکړمه ديدار- سهار
زړه مې پرهار - ديار، له لاسه دې پر دی
شومه په غم کې ستا دمينې ګرفتار په جار
وسوم په نار- انګار، رانه چاپېر دی
اخر به تېر شي، دنيمګړې دنيا وار، په خوار
ماخله ازار - بيمار، په زلفو ګېر دی
مخ دې چراغ دی پرې راځم لکه پتنګ په شرنګ
لرې کړه زنګ شوم رنګ - ستا په تومت کې
زه درنه غواړمه دسرولبو انعام - مدام
کوم سلام - غلام ، يمه ديار
په مخ دې ايښی دی دتورو زلفو دام - مقام
ستا په ظلام - مانبام -شومه ايسار
چيرې دې ونه لېږه، مالره پيغام - کلام
دلبو جام ګلفام - يمه بيمار
راځه چې خملو محبوبې، په سره پالنګ، يو درنګ
لرې کړه زنګ ،شوم رنګ، ستا په تومت کې
دازه «تيلي» کوم صفت دشيخ کبير- فقير
لوی يې تاثير - نظير، لرې هرچاته
مادې نيولی دکاکا صاحب جاګير- کبير
شو هواګير - ضمير، مې دده خواته
زه محمدين يمه مريد ددستګير - امير

www.sikaraam.com

کامل مې پير – قجير، تښته کم ذاته
په زړه مې وخوړ، تېره غشی دخدنګ – دورنګ
لرې کړه زنګ – شوم رنګ، ستا په تومت کې
*[باغ وبهار (۱۰۲-۱۰۱ مخونه)]*

د سپين په نامه ديوه شاعر دچاربيتې ځينې برخې:
کله به راوړې زيړه زنه سمرقند، کا خوند
ستا په کمند، شوم بند، دتوروزلفو
کله به راوړې، زه شوم ستا په غم زهير- دلګير
زخمي په تير- حقير، ګرځم پرکاله
دستا دحسن صفتونه کا صغير کبير- پلار دې امير، کشمير
خورې په اقباله
ستا بانه غشي مې ختلي ترضمير تاوګير
لتوم پير فقير، کوم ترې سواله
مولا دې راکه، بې له تا مې نه دی ژوند، پسند
ستا په کمند، شو م بند، دتورو زلفو
رب دې رامه کړه، ياره نه لرې، دولت، قوت
په هر ساعت، صفت- مه کړه دځانه
پوره به نه شي زما ستا دمحبت، وصلت
پربړده حجت، صفت، پاځه جانانه
سخته به ووينې هرګوره دقيامت، فرقت
پربږده صحبت، وصلت، دروم فی الحاله
ستا صفتونه کوي درست خلک مومند، هرچند

www.sikaraam.com

ستا په کمند شوم بند، د تورو زلفو

*[ولسي سندرې (دويم ټوک): ۱۸۳ يم مخ]*

د ملازاهد يوه زنځيرۍ چاربيته، چې موضوع يې ديني مسايل او د اسلام د ستر پېغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د فضليت بيان دي:

نن شپه مې بيا په خوب ليدلی د دلبر، بشر
لولاک په سر د لمر په شان ځلېږي
د استا له رويه خدای پيدا کړه دادنيا، سما، مخ يې رڼا، برېښنا
دور يې دندانه
دی په باطن کې اولين دی، ترهرچا پيدا، نه وو بابا، حوا
بې له سبحانه
عمل مې نه شته، همېشه يم، پرحذر خطر
لولاک په سر د لمر په شان ځلېږي
قول يې خوند داسې کړي زېب لکه، حليب
زه عندليب، غريب، شومه بېماره
زه خوار په تمه که مې ځانته کړې قريب، حبيب
هم دی خطيب، مطيب، د کردګاره
هم خوارو زار يم، چې په مخ کې مې سفر، محشر
لولاک په سر د لمر په شان ځلېږي
«زاهده» راشه توبه ګار شه، په اخلاص، ته خاص
دورکړه وسواس، خناس له خپل وجوده
دامجازي مينه دې ټوله ده لباس، قياس

www.sikaraam.com

وکړه هراس، په تاس له خپل معبوده
له ډېره عشقه مې کړ جوړ د عشق دفتر، بهتر
لولاک په سر دلمر په شان ځلېږي.(۱)

*[(افغانستان: اريانا دايرة المعارف: ۲۳۳ مخ)]*

د محمد جان په نامه ديوه ولسي شاعر زنځيري چاربيته

په تور وربل دې کتار کړي، سره ګلان، دي ګران
نه دي ارزان، قربان، ستاله جماله
په خمارو سترګو دې پورې کړو کجل، اول
لکه بلبل، په ګل، چې کړم راياد
په تور وربل دې کتار کړي الول، په چل
زه دې کړم، دل يو ځل، کوم فرياد
زه دې جدا کړم، په ژړا لکه ايوان، په ځان
نه دي ارزان، قربان، ستا له جماله
نامردې ولې دې له ځانه کړم جدا، ګدا
مل مې سودا، همدا اخلې ازار
يو وارې راکه د سورکو شونډو مزه، خوږه
نه يم مرده، زنده، په زړه بيمار
سوال مې منظور که، راکوه سورکي لبان، پنهان

۱. ملا عبدالزاهد په ملا زاهد مشهور و، په کام ابراهيمزی اندړ او اصلا د زرملې دخلي او سپدونکی دی، په طالب العلمی کې داکرام خان توغچي په لور (بي بي حوا) مين شو، عشق يې رښتينی و، خو نهيلي شو او بې بي حوا په کاله زړه شوه، ملا زاهد شعرونو ته مخه کړه او د چاربيتو يې جوړې شاعر شو....

www.sikaraam.com

نه دي ارزان، قربان، ستا له جماله
يو وارې راکه اثري زنه نباب، احتياط
نه به يې کم مات، په ذات، دامې سوګند دی
په يارانه کې دې په ما کړی پسات، لږ زيات
راکړه برات، ميرات، خراب مې ژوند دی
لکه مجنون درپسې شوم، خيرې ګرېوان، خزان
نه دي ارزان، قربان، ستا له جماله
لکه مجنون درپسې تل کومه شور، سرتور
نه شته پېغور داور، واوره دلبرې
غمازان وايي، په ما داسې تومت تور، لانور
ډيلی لاهور مې کور، واوره خبرې
اخر به لاړ شي، دې دنيا نه «محمد جان» ارمان
نه دي ارزان، قربان، ستا له جماله

*[پښتني سندرې (دويم ټوک) ۱۲-۱۵ مخونه]*

دعبدالواحد ټېکه دار يوه زنځيری چاربيته، چې له پورتنيو لونو يو څه ځانګړې ښکارې:

کسر:

وګوره دبدب، زما – سل مې په اردل کې ځي
سل مې غلامان دي، سل اسونه، په سل لارې ځي
سل په کې ريبارې ځي

بندونه:

سل مې محلونه دي- سل مې بورجلونه دي

www.sikaraam.com

سل په کې ډالونه دي
سل پرې اوبزاندې کتارې دي د غضب زما
وګوره دبدب زما
سل دې جلاتيان په کې – سل دې درانچيان په کې
سل دي نوکران په کې
سل مې لګېدلي خنجرونه په وربل کې ځي
سل مې په اردل کې ځي
سل دې سويلۍ زما - سل ګډې چيلۍ زما
سل پړي سيلۍ زما
سل مې کجاوې- د سلو سترګو راته دارې ځي
سل په کې ريبارې ځي
سل مې صفتونه دي - سل مې نوبتونه دي
سل مې جوماتونه دي
سل مې شجرې دي - سل کتابه د نسب زما
وګوره دبدب زما
سل مې سفيرۍ کوي- سل مې ناظرۍ کوي
سل زميندارۍ کوي
سل مې په قولبو پسې جامبړې په غوبل کې ځي
سل مې په اردل کې ځي
سل مې ماشومانې دي - سل په کې ځوانانې دي
سل مې بوډاګانې دي
سل مې مخکې روستو - سل کم عقلې، سل هوښيارې ځي

www.sikaraam.com

سل په کې ريبارې ځي
سل مې دې ښکاريان په کې - سل مې دي تازيان په کې
سل مې دې هاتيان په کې
سل په زنځيرونو - سل تړلي په جلب زما
وګوره دبدب زما
سل دي حساب ګر زما - سل دې شهنازګر زما
سل دي جادوګر زما
سل دبڼو غشي - سل اورنګه ترې زلزل کې ځي
سل مې په اردل کې ځي
سل په کې په وخت وځي - سل سره دتخت وځي
سل په زړګي سخت وځي
سل په کې نېزې - سل ايرانۍ تورې ابدارې ځي
سل په کې ريبارې ځي
سل دشرافت په کې – سل دشرارت په کې
سل دحفاظت په کې
سل په کې دروم دي – سل دترکو، سل عرب زما
وګوره دبدب زما
سل دې دورانۍ په کې – سل دې جرمنۍ په کې
سل کوي خانۍ په کې
سل - سل اشرفۍ ترېنه جلبۍ له يو غزل کې ځي
سل مې په اردل کې ځي
سل دباغيچو سره - سل مې دمورچو سره

www.sikaraam.com

سل د تمانچو سره
سل دې تېکداره په جازونو کې بمبارې ځي
سل په کې ريبارې ځي

*[چاربيتې؛ د عبدالواحد تېکه دار، ۲۴م مخ]*

د ملا عبدالحنان داعي د چاربيتې يو بند:

نوره توبه شه د خوبانو له ياري، زاري، کوم خواري واري
د يار په در کې
نوره توبه شه، زياتې نه ورمه ستم، د غم
زړه مې قلم شو، دم – ترېنه بهېږي
داستا په مينه کې خبر تمام، عالم، امم
عرب، عجم، ملهم – پرما لګېږي
درب د پاره نظر وکوه صنم، يو دم
کېږده قدم په چم - زړه مې رپېږي
که راته پورته کړې داسترګې اثري، زاري
کوم خواري واري، د يار په در کې
ترپايه

*[ولسي سندرې (لومړی ټوک): ۱۲۴ م مخ]*

## د پښتو چاربيتو ځينې نور ډولونه:

د ساده او زنځيريو چاربيتو ترمنځ يو بل ډول چاربيتې هم ښکارې، چې پښتو فوکلور پېژندونکو پرې لا نوم نه دی ايښی.

د چاربيتو دا ډول نه ساده دي او نه د پورتنيو زنځيريو چاربيتو غوندې پوره زنځيري بڼه لري. بلکې د يادو دواړو ډولونو ترمنځ –


www.sikaraam.com

منځ يو ډول حالت يې ګڼلی شو. د پښتو فوکلور په ځينو کتابونو کې دغه ډولونه هم زنځيري بلل شوي، خو ځينو بيا په سادو کې ګڼلي. موږ به يې دلته يو ازې ځينې بېلګې وليکو.

*د ملا عبدالقادر يوه مشهوره چاربيته:*

تور لونګين دې د سينې سره په جنګ و، دانه لاچي لونګ و
ګونګورو دې کاوه شور
تور لونګين دې د سينې سره مدام
زنه دې سېب، لب دې حرير واوره ګلفام
ودې ويشتم، چې راښکاره شولې په بام
د خدای د پاره رحم وکه په ملنګو
دانه لاچي لونګ و، ګونګورو دې کاوه شور
نامردې زړه دې رانه يوړو په مونګل کې
تا رنګارنګ ګلونه ايښي په وربل کې
ودې ويشتم، چې راښکاره شوې په محل کې
شوم لېونی، ځکه پيالې ځکمه د بنګو
دانه لاچي لونګ و- ګونګرو دې کاوه شور
اينه کې ګوري هغه مسته ګل خوبانه
نرۍ نرۍ شغلې يې خېژي له پېزوانه
محبوبا مرم- تمه مې نه شته دی له ځانه
چې اوربدلی مې داستا دباوو شرنګ و
دانه لاچي لونګ و- ګونګرو دې کاوه شور
د مازيګر اوبو له ځي، ايينه کې ګوري

www.sikaraam.com

دا شنه خالونه دې جبين کې لکه ستوري
د چندړ لښته د سهار په شمال ښوري
ګودر له ورشه که کوې سيل د خوش رنګو
دانه لاچي لونګ و- ګونګرو دې کاوه شور
زه يم طالب ملا قادر دامې ګفتار
ځای مې ګوشته، که څوک لري راته اختيار
پير مې کامل ناپوه شاعر به کړم ايسار
ماچې لاس ايښی دا شنا په زلفو چنګو
دانه لاچي لونګ و- ګونګرو دې کاوه شور

*[دا روانښاد منور له يوه نوارنه استخراج شوه.]*

*دا چاربيته د (بيدياني ګلونه) نومې تذکرې په ۱۴۲-۱۴۱ مخونو کې هم په لږ څه بدله بڼه ثبت ده.*

که څه هم د حميد ګل په نامه د يوه ولسي شاعر لاندينۍ چاربيته د فورم له مخې ساده بڼه لري، خو د الفاظو د هماهنګۍ له امله د اد پښتني چاربيتو يو ځانګړی ډول ګڼلی شو:

يا ټيک ستا په جبين دی - يا سترګه د سبا ده
يا جام د چين ماچين دی - يا سپينه خوله زيبا ده
يا ستا د خولې خبرې - يا جام د سمرقند دی
يا ستا شونډې نادرې - يا خوږ د خورما خوند دی
يا تورې ملغلرې - يا ستا دوربل بند دی
يا ستا کميس رنګين دی - ياخو د شاه قبا ده
يا ټيک ستا په جبين دی - يا سترګه د سبا ده
يا عطر د ګلابو - يا ستا د مخ خولې دي

www.sikaraam.com

پیاله ده د شرابو - یا سترګې دلیلې دي
یا خوند دی د کبابو - یا بنګ د بنګالې دي
یا هجر سخت ترین دی - یا تبه یا وبا ده
یا ټیک ستا په جبین دی - یا سترګه د سبا ده
یا ستا سترګې رڼې دي - یا ستوري د اسمانه
یا ښې سرکۍ منې دي - یا ستا سپین زنخدانه
یا د تاووس بڼې دي - یا زلفې دې شان شانه
یا خوند د انګبین دی - یا ستا خوله مربا ده
یا ټیک ستا په جبین دی - یا سترګه د سبا ده
یا باغ د زیړو ګلو - یا ستا ښکلې کاکل دی
یا غږ دی د بلبلو - یا زړه د حمید ګل دی
یا تېغ د غوڅولو - یا ستا خونې چارګل دی
یا دا مرغه زرین دی - یا هغه محبوبا ده
یا ټیک ستا په جبین دی - یا سترګه د سبا ده

*[پښتني سندرې ۱۱۴-۱۳۳ م مخونه] / [تذکرة الشعرا: ۲۵-۲۴ مخونه]*

د عبدالواحد ټېکه دار(۱)، ځینې نورې چاربیتې:
کله وي تیاره، کله رڼا، کله سیلۍ په کې
کله وي ږلۍ په کې، کله وي باران
کله وي وریځ، کله په ګلو کې غونچې وینم - کله بیم باجې وینم
کله وي ځنګل، کله غنم، کله تیلۍ په کې

۱. *عبدالواحد ټېکه دار د پښتونخوا د سوابۍ استوګن، چې د «بابای چاربیته» په بلنامه ویاړل شوی دی.*

www.sikaraam.com

کله وي دلې په کې، کله وي باران (۱)

[چاربیتې د عبدالواحد ټېکه دار، ۲۹ م مخ]

او یا لکه د تاج محمد مومند دا چاربیته:

ته چې ځې اخر به ځې وايې هردم دم دم
ما ته ځله هرساعت وايې، چې ځم ځم ځم
ته چې ځې اخر به ځې له مانه یار یار یار
یمه زه به درپسې پرېشانه یار یار یار
زړه به صبر شي زما له تانه یار یار یار
څه موده به تېروم په زړګي غم غم غم
ما ته ځله هرساعت وايې، چې ځم ځم ځم

[د چاربیتې شاعران ۱۴۳ م مخ]

---

۱. یادښت: پښتو ادبي بورډ، دارواښاد عبدالواحد ټېکه دار د چاربیتو په ټول کړي کتاب کې ځینو چاربیتو ته ځانګړي نوم ونه ایښي، لکه: نیمکۍ چاربیته، کړه بند چاربیته، فني چاربیته، جنګي چاربیته، زمینداره چاربیته، غبرګه زنځیرۍ چاربیته، اپوټه چاربیته، روانه چاربیته، اواره چاربیته، مرثیه چاربیته، برغه (غبرګه) چاربیته، سهره چاربیته، جوابي چاربیته او نورې. دا نومونې یوازې موضوعي بڼه لري یعنې اړونده موضوع د شعر منځپانګه جوړوي، خو کله د شعر د شکل له مخې هم ورته وضعه شوي، ځینې دا ډول نومونې تر بحث لاندې راتلې شي، خو ځینې یې بیا نه ځکه، چې له موضوعي پلوه د چاربیتو وېش جلا موضوع ده او د ژانري نوښتونو له پلوه وېشل بیا بله مسله.

په اوسني افغانستان کې هم د «سورې» seware چاربیتې نومونه له ولسي موسیقۍ نه راوتلې، چې مانا یې د لفظ او منځپانګې دواړو له مخې د غښتلیو الفاظو او مفاهیمو داسې بیان دی، چې په لوستونکي رسا او نغده ولګي او هم داسې اهنګ او جوړښت ولري چې په چټکه (چوسته) بڼه، موسیقي پرمخ بوتلای شي. دا ډول چاربیتې کله د مقابلې په بڼه هم تعبیرشوي، ډېری وخت د سوال و ځواب بڼه راښیې.

www.sikaraam.com

د چاربیتو د دغه لنډې پېژندنې په پای کې دا خبره په کار ده چې: څېړندوی حبیب الله رفیع د ساده چاربیتو په کتار کې ځینې نور ډولونه هم راپېژندلي، چې یوازې په کسر کې لږ و ډېر توپیر لري، کېدای شي، چې هغه د نورو ځانګړیو ډولونو په نامه وپېژنو، خو څرنګه، چې خبره اوږدېږي، دلته ترې تېرېږو.

## د چاربیتو د لا تفصیل لپاره وګورئ:

۱. *د خلکو سندرې*: د څېړندوی حبیب الله رفیع، د افغانستان اکاډمي د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹ لمریز، کابل

۲. *د پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون*: د غوتۍ خاورې، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲ لمریز، کابل

۳. *د چاربیتو شاعران (دوه ټوکه)*: د همېش خلیل، پېښور پوهنتون - پښتو اکاډمي، ۲۰۰۷-۲۰۰۸ میلادي، پېښور

۴. *ولسي سندرې (درې بېلابېل ټوکونه)*: د سرمحقق زلمي هېوادمل تدوین او راټولونه، ۱۳۷۰-۱۳۶۲- ۱۳۶۱ لمریز، کلونه، د افغانستان د علومو اکاډمي، کابل

۵. *باغ و بهار*: د عبدالحلیم اثر افغاني، پېښور پوهنتون - پښتو اکاډمي، ۲۰۰۶ میلادي، پېښور

۶. *پښتنې سندرې (دویم ټوک)*: پښتو ټولنه، ۱۳۳۵ لمریز، کابل

۷. *د اخوند میرحسن بابا چاربیتې*: د اخون میرحسن، پښتو ادبي

www.sikaraam.com

ټولنه خويشکي نوښار، ۲۰۱۲ميلادي، پېښور

۸. *توربرېښ*: د سرمحقق عبدالله بختاني خدمتګار،

۹. *چاربيتې*: د عبدالواحد ټېکه دار، پښتو ادبي بورډ، ۱۹۹۹ميلادي، پېښور

۱۰. *د پښتونخوا د شعرهار وبهار (دريم چاپ)*: د جيمز ډار مستتر، پښتو ټولنه، ۱۳۵۲لمريز، کابل

۱۱. *د خيبر ادب*: د مراد شينواري، (چاپځي: منظورعام پرېس) ۱۹۵۸، پېښور (د دېواني او ولسي شاعرانو ګډه تذکره)

دغسې په ګڼو نورو کتابونو، ګډو او ځانګړيو شعري ټولګو کې د چاربيتو بېلابېلې بېلګې کتی شو.

# کسرونه(۱)

کسر د پښتني فوکلور یو بل ډول دی، چې یو وخت د مروتو کسرونو په نامه پېژندل شوي وو، خو څرنګه چې دا کسرونه یوازې په مروتو نه بلکې په ځینو نورو پښتني قبایلو پورې هم تړاو لري، نو ښه ده، چې یوازې کسرونه یې وبلو.

د کسر مانا ماتېدنه، ماتوالی، ماتونګ، عیب، نقص، کمی، کمښت، د شعر مطلع...ښودل شوې ده.

*[(پښتو- پښتو تشریحي قاموس) څلورم ټوک، (۳۵۸۳یم) مخ]*

میرشرف خان وزیر لیکي:

«په اصل کې کسر د عربي لفظ دی، چې مانا یې ماتېدنه، حصه، ټوکړه،... خو د مروتو په اصطلاح کې کسر منظوم کلام ته

---

*۱. د ځینو کسرونو شاعران څرګند نه دي، خو زموږ مخکنیو فوکلور ټولوونکو کسرونه په خاصو ژانرونو کې ګڼلي، ما هم د هماغو په پیروۍ په خاصو سندرو کې راوستل.*

www.sikaraam.com

ويلی شي، چې شاعر په کې د دوو يا ، دوو نه زياتو قبيلو يا خېلونو په منځ کې د جنګ حالات يا د يوې قبيلې د سردار د مرګ واقعات په يوه خاص طرز کې بيا ن کړي وي...»

*[د مروتو کسرونه:(د عبدالرحيم مجذوب په زيار) ، (يا) مخ]*

ښاغلی هېواد مل په دې اړه ليکي:

«کله چې زه پېښور ته راغلم، نو دلته د داسې کسرونو د مطالعې زمينه مساعده شوه، چې يې په خروټو، ستراڼيو، ګنډه پورو او سليمانخېلو پورې يې اړه درلوده او له دې نويو کسرونو راته معلومه شوه، چې دا کسرونه يوازې په مروتو پورې نه، بلکې په ځينو غلجيو قبايلو پورې اړه لري....»

بل ځای دی زياتوي:

«کسرونه يوازې د مروتو قبيلې ته منسوبول او د اسندرې د مروتو کسرونو په نامه پېژندل، علمي مصلحت نه ښکاري، بهتره به وي، چې موږ په خپلو اينده تصنيفونو کې د «کسر» په نامه، يوه شعري ډول ته ځای ورکړو.»

*[پښتو ولسي ادبيات ۱۱۷ - ۱۱۸ م مخونه]*

د پېښور پوهنتون پښتو اکاډمۍ لومړني مشر مولانا عبدالقادر، چې د مروتو کسرونو په مجموعه يې پېژند ګلو ليکلې، هم هغه وخت(۱۹۵۸؟) لا ليکلي چې:

«په دې تحقيق کې ماته دا معلومه شوه، چې د کسرونو دارواج، يوازې مروتو کې نه ولې ځينې نورو پښتنو قبيلو، شينوارو، بنوڅو، وزيرو، محسودو وغيره وغيره کې هم موجود دی.»

لوړې خبرې مو رړ ته رابښيي، چې پښتني فوکلور لاهم په يوه منظمه او سيستماتيکه بڼه ترڅېړنې لاندې نه دی راغلی او لاهم د ژانر پېژندنې په برخه کې فوکلور يوه پاخه او منظم کار ته اړ دی.

کسرونه د ځينو نورو فوکلوريکو ژانرونو غوندې يوه بڼه نه لري، کله يې د پيل دوه مسرۍ په خپلو کې څپه ييزبرابروالی لري او کله يې يوه تربلې ډېره وي. ځينې کسرونه دوولس څپه ييز، ځينې ديارلس او ځينې يې څوارلس او يا تردې هم لا زيات وي. په منځ کې يې هم د بيتونو د څپو شمېر هر کله يو ډول نه وي.

د پښتو شفاهي ادبياتو شکل او مضمون کتاب-که څه هم، کسرونه يوازې د مروتو کسرونو په نامه راپېژني- د کسرونو د جوړښت او بڼې په اړه يوځای داسې ليکي:

«د کسرونو عروضي ترتيب داسې وي، چې مسرې يې سره بې ترتيبه وي، ځينې وخت د کسر مطلع بيت وي، او نورې مسرې يې لنډې او اوږدې، هم قافيه او بې قافيې وي او په هر کسر کې يې لوی مطلب نغښتی دی...»

*[د پښتو شفاهي ادبياتو شکل او مضمون(۸۲يم مخ)]*

دلته به د سور کمند او ميداد خېلو (غزني خېلو) د مړينو په اړه دا يو کسر ووينو:

غوژ کېږو يارانو په فرمان د خدای تعالی
توری خرپ دی وکه غزني خېل چې ارسلا
واړه ميداد خېلو مرکه دې وه بللې
په قران دې وبسه وکړه بيادې شي قيصې کولې

دروی دې ورته خوشه کړه، برامو په سلا
نورو که چا وزله، چابه ورته مړی پوروه
ارسلا په دغه ګرم و، چې نیولی یې په کور و
جان یې په ورګډ که په هډو سلا بلا
وریې وسته کورته په پوزې یې کړله پینډه
داوویل سورکمنده ارسلا کړه درچړګنده
ګورئ ارسلا مې توره نه کاږې له چنګه
په خولې درته ژغیږي، پته زړه چې یې ده غلا
سور کمند ویل، چې وروره های بنیا به نه سي نوره
موږ پورې ناموس ده، موږ د اریږو له پېغوره
هیچېرې دشمن ته کړې نه ده ماسله

............

*[د مروتو کسرونه ۲۰-۱۹ مخونه]*

یوبل کسر
چرنګه حیران یم، دچیشتن الله په کړه
ویلو ته مې پام سه اوس مې نه دریږي زړه
زړکای چې مې شیارخه، شیارتوب یې ما وپارخه
چې وزرلاسته بېخول دی، کسب نه سي یې لوړه
لومه نه وه نقصان و، ګلرنګ کړی په ځان و،
دشمنو، به چې مړ که ده لا کوټ په چې تاړه
ګلرنګ یې مرګی پسه میداد خېلو کډې لاړې
وطن ورته سور اورسه اوس یې ولیده چاړه

www.sikaraam.com

چلور کاله چې تېر شو ، د چيشتن حکمونه ګوره
يو تولی ميدا د خېل ورته راغلي وو ، له کوره
د رب که پهلوان وه خبروه له دغه پوره
....

*[د مروتو کسرونه ۲۵ م مخ]*

### د کسرونو د تفصيل لپاره وګورئ:

1. *د خلکو سندرې*: د حبيب الله رفيع ، افغانستان اکاډمي ، ۱۳۴۹ لمريز ، کابل
2. *زرينې څانګې*: د حيب الله رفيع ، زېرى جريده ، ۱۳۶۰ لمريز ، کابل
3. *فرهنګ ادبيات پښتو (دريم ټوک)*: د سرمحقق هېوادمل ، د چاپ او خپرونو دولتي کومېټه ، ۱۳۶۲ لمريز ، کابل
4. *د مروتو کسرونه*: د عبدالرحيم مجذوب په زيار ، پېښور پوهنتون پښتو اکاډمي (چاپکال نه لري).

www.sikaraam.com

# مقام

مقام ته ځيني پښتانه رباعي هم وايي، د پکتيا په ځينو سيمو کې يې پام بولي. دا د پښتني فوکلوريو ځېل دی، چې په هنري مجلسونو کې ترچاربيتې، بګتۍ، داستان او نورو سندرو له مخه ويل کيږي، د ويلو بڼه يې سره وي او اکثره وخت نصيحتي ډول لري.

د مقام جوړښت کټ مټ د عروضي نظم غزل ته ورته دی. په دې توګه چې د کسر لومړنۍ دوه مسرۍ يې په خپلو کې هم قافيه او هم رديفه وي او وزن يا څپه يې هم جوړښت يې له پيله تر پايه په ټولو مسريو کې په يوه اندازه وي. د مقام د بيتونو اندازه څرګنده نه ده، کله ډېر وي او کله لږ، په تېره د ويلو په وخت. دا په ويونکو پورې اړه لري، چې څومره يې وايي.

کله داسې وي، چې يو مقام د شاعر له خوا اوږد ويل شوی وي،

www.sikaraam.com

خو د ټنګ ټکور په وخت، ویونکي یوازې دوه بیته او یا تر دې زیات ټاکي. په دې توګه دا نه شي څرګندېدی، چې مقام دې ګڼې هم د غزل په شان له پینځو تر پینځلسو بیتونو وګڼل شي.

ځینې څېړونکي مقام دیوه ژانر په بڼه نه مني، ځکه وایي داغزل دی. خو کله چې پښتو فوکلوریک ژانرونه ښییو، باید یادونه یې وکړو، ځکه، چې که شکل یا بڼه یې غزل ته ورته ده، نو فکر، احساسات، انځورنه او خیالونه یې ولسي رنګ لري، چې له دېواني او عروضي شاعرۍ نه یې بېلوي.

پخوا به د مقام په جوړښت کې یوازې نصیحتي مسایل کتل کېدل، خو په دې ورستیو کې په کې عشقي او نور ټولنیز مسایل هم کتلی شو.

بله د یادونې وړ خبره داده، چې اوس-اوس هنرمندان نه یوازې د ولسي شاعرانو بلکې د دیواني او عروضي شاعرانو غزلونه هم د مقام په بڼه وایي. ګویا، چې که د شعر مانا او مفاهیم په نظر کې ونه نیسو نو په پښتو موسیقۍ کې دواړه یو ډول دریځ لري. البته هرغزل مقام نه شي کېدی، مانا داچې که د عروضي غزل د څپو جوړښت او وزن او دویلو خاصه بڼه د فوکلوریک مقام په شان نه وي، نو بیا یې ویونکي نه وایي، یا یې نه شي ویلی او غزلې معمولا د سندرو په بڼه ویل کیږي. ځکه نو وایو، چې مقام که غزل ته ورته دی، نو دویلو خاص اهنګ، بڼه، وزن او انداز لري او داهغه څه دي، چې له غزل نه یې بېلوي.

مقامونه هم بې سواده ولسي شاعرانو ویلي او هم باسواده

www.sikaraam.com

شاعرانو.

دلته به د ملي شاعر ملنګ جان دوه مقامونه په بیلګو کې ولولو:

ځانته و دروه پښتو، پښتونه وروره
هرګز مه غواړه پولاو د بل د کوره
ترهزار نعمته دا انسان ته بس دي
سوړ جواری، چې د چاوي د خپل د شکوره
زیږ پښتون سره زیږه شړې جوړیږي
پروا نه لري، که وي په سر سرتوره
زار قربان شم، د وطن د توت سونځلې
ام، کیلې ته زړه ښه نه کړې دلاهوره
خپل خمتا باندې کړه فخر ملنګ جانه!
د پردي پشمینه ډک وي د پیغوره(۱)

*[داروانباد منور له یوه ثبت کړي نوار نه]*

---

*۱. اوس-اوس د نړۍ د ببلا ببلو ژبو په شاعرۍ کې قافیه او ردیف د شعر اساسي توکی نه ګڼل کیږي. له ازادو شعرونو پرته په قافیه واله شاعرۍ کې هم د قافیې پرځای، خیال، فکر، انځورګري، پیغام او نورو ته ډېر ارزښت ورکړل شوی. په قافیه والو شعرونو کې هم که کله قافیوي او ترديفي عیبونه وینو، نو لومړۍ درجه ارزښت نه دی ورکړل شوی.*

*کله، چې په دیواني او عروضي شاعرۍ کې دا حال وي، نو په پښتو ولسي شاعرۍ کې خو دا مسله باید لا ډېره مطرح کړو. د ملنګ جان د دغه مقام د قافیې ځینې توري د «ه» یو اضافه توری لري، چې په وینګ کې نه ښکاري او په لیکلو کې څرګند بداې شي....*

www.sikaraam.com

د ملنګ جان يو بل مقام هم د ېر نامتو دی:

ځوانې ښځې ته چې ونه وايې ترور
هغه دم به دې برباد کړي پلار او مور
هرسبا به دروازه کې درته ناست وي
چې وانه خلې نادیده سړي نه پور
بې ګناه وهل به خوري ازار به يې ستا وي
که دې ورکړه په بدل کې لور او خور
کېناستی دهغو وکړه ملنګ جانه !
چې دې سم وي په کنډه ورسره زور

*[دولسي سندرغاړي سيد محمد له يوه نوار نه استخراج شوه]*

د مقام د نومونې په باب په دقيقه توګه نه پوهېږو، ځينې وايي، له دې امله، چې مقام په پښتو کې د «ځای» په مانا دی او پښتو مقامونه ولسي هنرمندان ترلوبو، چاربيتو، بدلو، بګټيو او غزلو مخکې وايي او ځای يې څرګند دی، نو ځکه يې مقام بولي. ځينې بيا وايي، څرنګه، چې مقام اکثرا د پند او نصيحت خبرې وي او که چا پرې عمل وکړ، نو ديوه لوړ اخلاقي مقام خاوند به شي، ځکه نو مقام ورته وايي. دا چې رباعي ورته ولې وايي، دا هم څرګنده نه ده، ځکه، چې رباعي بيا په عروضي او ديواني شاعرۍ کې څلوريزې ته وايي، کېدای شي، دا د هنرمن له خوا د څلورو مسريو د ټاکنې او يا هم دولسي خلکو په خولو کې دلوېدو له امله وي.

www.sikaraam.com

**د دغه برخې د تفصيل لپاره وګورئ:**

١.د خلکو سندرې: د حبيب الله رفيع، د افغانستان اکاډمي، ١٣۴٩ المريز، کابل

٢.د پښتو د شفاهي ادبياتو شکل او مضمون د غوتي خاورې، د افغانستان د علومو اکاډمي، ١٣٦٦ المريز، کابل

٣.د پښتو ادبياتو تاريخ (لرغونې او منځنۍ دوره)، د سرمحقق هېواد مل، دانش خپرندويه ټولنه، ١٣٧٩ المريز، کابل

۴.د وطن د مينې کچکول: د ملنګ جان، د سيد اګل غريبيار په زيار، ١٣٨۵ المريز، پېښور

www.sikaraam.com

# بدلې

بدلې د خاصو سندرو يوه بڼه ده، چې کله دوه، کله درې او کله هم څلور اوږدې او لنډې مسرې لرلی شي. د بدلو سکښت او ږږبڼت په يوه بڼه نه دي، د بڼې له مخې سره تو پير لري، چې ځينو څېړونکو په بېلا بېلو ډولونو وېشلي دي.

په ځينو سيمو کې بدلې د سندرو په عامه مانا ګڼل کيږي. خو د فوکلور څېړونکو له خوا د يوه خاص ژانر په بڼه هم را پېژندل شوي. ډېری وخت د بدلو شاعران معلوم وي، خو ځينې داسې بدلې هم کتل شوي، چې شاعر يې معلوم نه وي، يا به دويلو په وخت له خولو لو بدلی وي، خو داسې بدلې ډېری کتی شو، چې شاعران يې معلوم خلک دي، ځکه نو دا په خاصو فوکلوريکو ژانرونو کې، يو ګڼو.

د بدلو د پيل وخت لکه د نورو فوکلوريکو ژانرونو په شان

www.sikaraam.com

معلوم نه دی او داسې ښکاري، چې دا هم يو لرغونی او زوړ شعري کالب دی.

ځينو څېړونکو بدلې دغزلو يا مقام په شان يو چوکاټ بللی، خو دا به معقوله نه وي، چې يوازې دوينګ دبڼې له مخې موږ، ورته ژانرونه په بېلابېلو نومونو وپېژنو، که دمقام او عروضي غزل کالب ته ورته شعرونه بدلې ونه بلو، سمه به وي. ځکه موږ دبدلو داسې ډولونه هم لرو، چې دبڼې له پلوه له غزلو او مقامونو سره توپير لري.

بدلې ځينو په دوو برخو وېشلي:

۱.ساده بدلې ۲.سپرې بدلې

دانومونې دويلو دبڼې له مخې ورکړل شوي، ساده بدلې په سست او ورو حالت کې او سپرې په لږڅه توندو او چټکه ژبه او وينا ويل کيږي. څنګه چې دوينا په انداز کې يې توپير ښکاري، ځينې وخت په الفاظو کې هم توپيرونه ښيي.

دخلکو سندرې کتاب ليکوال څېړندوی حبيب الله رفيع دبدلو څه ناڅه پينځلس ډوله راپېژندلي، چې ځينې يې ترډېره چاربيتو ته ورته دي.

په پښتو کې لومړنۍ ترلاسه شوې بدله دشيخ بستان بړېڅ ده، چې دلسمې پېړۍ په وروستيو لسيزو کې تر زرم هجري کال وړاندې ويل شوې:

اوښکې مې څاڅي پرګرېوان يو وار نظر که پرما
راشه ګوزر که پرما

www.sikaraam.com

## د بدلو ځينې عام ډولونه:

### [۱]

چې د هر بند لومړنۍ مسره يې لنډه او بله اوږده وي، وروستۍ برخه يې د يوې اضافه ضميمې په بڼه لوستل کېږي. لکه د محمد دين دا بدله:(۱)

کسر:

ګل دې په زلفو باندې کتار دي

دواړه چشمان دې محبوبا ګل دانار دي توبه-توبه

څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ګ<br>ل | د<br>ې | په | ز<br>ل | ف<br>و | با<br>ن | د<br>ې | ک | تا<br>ر | د<br>ي | | | | | | | |
| د<br>وا | ړه | چ<br>ش | ما<br>ن | د<br>ې | م<br>ح | بو | با | ګ<br>ل | د | ا | نا<br>ر | د<br>ي | ت<br>و | به | ت<br>و | به |

۱. حبيب الله رفيع (اوس څېړندوی) د بدلو په راپېژندو کې لومړنی ډول د عروضي غزلو او يا د ولسي شاعرۍ د مقام په کالب کې راپېژني.

[د خلکو سندرې، ۲۴۴م مخ]

د بدلو په ژانر کې د دغه کالب ورګډول نباييي نوروکتنو او څېړنو ته هم اړتيا ولري، ځکه، چې يوازې د ويلو په بڼې غزل وزمه او مقام وزمه شعرونه بايد د بدلو په کتار کې ونه شمېرو، د دې پرځای که دلوبو راپېژندل شوي ډولونه په بدلو ورګډ کړو، نبايي يوه لار ولري.

www.sikaraam.com

بندونه:

تاچې اېينه مخ ته نيولې
شينکي خالونه دې په مخ وهلي چار دي توبه–توبه
چمن يې جوړ کړ ګل د پاره
په کې بلبلې، شنه توتيان ګډ په چغار دي توبه- توبه
رب چې پيدا کړې زمونږ رسوله
ښايسته نبي –مخ ګلابي، ياران دې چار دي توبه-توبه
ته فضل وکړې په محمدينه
څومره غمونه په تيلي غريب امبار دي توبه-توبه

## [۲]

چې کسر يې څلور مسرۍ لري، اودويمه او وروستۍ مسره يې هم قافيه وي او لومړۍ او دريمه، دوه يې خپلواکې وي لکه د «خسرو» دا يوه:

کسر:

مجنون په شانته ګرځم- د ليلا پسې دېوانه
ځنګل په ځنګل سر شوم –هيڅ اګا نه شوم له ځانه

څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مجـ | نون | په | شانـ | ته | ګر | ځم | |
| د | ليـ | لا | پـ | سې | دېـ | وا | نه |
| ځنـ | ګل | په | ځنـ | ګل | سر | شوم | |
| هيڅ | ا | ګا | نه | شوم | له | ځا | نه |

www.sikaraam.com

بندونه:

زه سوخته سينه کباب يم – تش ګوګل لکه رباب يم
زه په لاس کې د قصاب يم- اى صنم شه مهربانه
د مجنون په شان فرياد کړم- ستا څېره چې را په ياد کړم
زه ستا مينې نامراد کړم – شوم ستي لکه پروانه

**[۳]**

چې کسر يې دوه مسرۍ لري، لومړۍ مسره يې اوږده او دويمه لنډه. بندونه يې هم داسې جوړښت لري، چې لومړۍ دوه مسرۍ هم وزنه او هم قافيه وينو، وروسته يوه لنډه ضميمه غوندې مسره او بيا د کسر د لومړۍ مسرۍ برابره مسره راځي، لکه د عبدالسلام شاعر دا بدله:

کسر:

په دواړو لاسو مې نيولې ستا لمن محبوبا
په دواړو لاسو محبوبا

څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په | دو ا | ړو | لا | سـ و | مـ ې | نيـ | ولـ ې | سـ تا | لـ | من | محـ - | بو | با |
| په | دو ا | ړو | لا | سـ و | محـ - | بو | با | | | | | | |

www.sikaraam.com

يو بند:

مونګل به ستا په لمن کېږدم- وطن به واړه تا ته پرېږدم
که مې روزي شوه
هغه وعده، چې کړې تا دانجمن محبوبا
په دواړو لاسو محبوبا

## [۴]

زنځيري چاربيتو ته ورته همغږي الفاظ په کې د بر وي لومړی لويه مسره او بيا وروسته او همداوزن او قافيه په نورو الفاظو وړاندې کول په دويم کسر کې لکه د دمحمد دين دابدله:

کسر:

په موسم راغله سورايي غاړه غندل
ليلا کړي قتلول
ته کړې قتلول، صنمې ته کړې قتلول
ليلا کړي قتلول

څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په | مو | سم | راغ | له | سو | را | يي | غا | ړه | غن | دل | |
| لي | لا | کړ ي | قت | ل | ول | | | | | | | |
| ته | کړ ې | قت | ل | ول | صـ | ن | مې | ته | کړ ې | قت | ل | ول |
| لي | لا | کړ ي | قت | ل | ول | | | | | | | |

www.sikaraam.com

يو بند:
زلفې دې دام په خپل مقام، وايه سلام زما په قام
خاورې ايرې ذرې ذرې ستا په بورجل
ليلا کړې قتلول

**[۵]**

چې کسر يې دوه او بندونه يې څلور مسرۍ ولري، لکه د «ګلستان» دا:

کسر:
ستا عشق کړمه سودايي
ځکه ګرځمه هوايي
څپه يې يز جوړښت:

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ستا | عشق | کړ | مه | سو | دا | يي |
| ځ | که | ګر | ځ | مه | هـ | وا | يي |

ځينې بندونه:
راشه - راشه که حال زما ګورې
په بدن مې دې سرې لمبې پورې
تاله دومره ستم نه ښايي
ستا عشق کړمه سودايي
شېرين تن مې په غم کې کړېږي
عندليب مې د زړه تل ژړېږي

www.sikaraam.com

چې هلاک کړمه ستا جدايي
ستا عشق کړمه سودايي
نه پوهېږم، چې ورشمه چاله
چې دلبر مې خبر شي د حاله
په نصيب شوه، زما رسوايي
ستا عشق کړمه سودايي
عجيبه د خوبانو قانون دی
ګلستانه په عشق کې کړون دی
کړه مشکل مې اسان الهي
ستا عشق کړمه سودايي

*[د ګلستان سندره: (۴۱ م مخ)]*

## [۶]

چې د کسر او بندونو دوارو مسرې يې اوږدې وي او زنځيري بڼه لري، لکه د بهايي جان دا بدله:

کسر:

خوند کوي يار ته کتل تل تل
زلفې لرې الو ول ول ول
څپه ييز جوړښت:

| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خوند | ک | وي | يار | ته | ک | تل | تل | تل |
| زل | فې | لـ | رې | ا | لو | ول | ول | ول |


www.sikaraam.com

بندونه:

خوند کړي بوسه په پياله د شراب
سازوي اواز وي کباب وي رباب
ورشه پالنګ ته په چل چل چل
زلفې لرې الول ول ول
خوند کوي چين په جبين د نګار
سوال ته ځواب وي نه دارو مدار
وران به کړي واړه په جل جل جل

## [۷]

هغه دي، چې د مخکنيو ځينو يادو شويو ډولونو غوندې يې کسر لومړی اوږده او بيا لنډه مسره ولري، په بندونو کې يې هم د څپو د جوړښت له پلوه لومړی اوږده او دويمه لنډه وي او په دريمه اوږده مسره کې کسر ته ورته يو ډول ځنځيري اهنګوالې کليمې يو نوی سروتال ښيي په دې وجه ورته سپرې بدلې يا د ختيزوالو په ژبه «سوزې بدلې» هم وايي. لکه د احمد ګل دا يوه:

کسر:

محبوبا په وربل، نن کرلي سنبل
عاشقان ځوروي

www.sikaraam.com

ځپه يي ز جوړښت:

| | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| محـ | بو | با | په | ور | بل | نن | ک | ر | لي | سنـ | بل |
| عا | شـ | قان | خو | ر | وی | | | | | | |

تا داغ دجدايي ايښی زما دزړه دپاسه
همدا به دې له لاسه
کېدل، زه بېدل، ستا خندل، مې په دل
کې نېران لګوي
جامې مې په تومت کې شولې رنګې ددلبر
زخمي دزړه په سر
ښه غندل، په ګوګل، مخ دې ګل، دکابل
ښنه توتيان بندوي
دبدب دې دخوبانو محبوبا دزړه ملهمه
سپين مخ دې لکه شمه
دی سنبل، که کاکل، کړي سېزل، کړي داغل
کل جهان ورانوي
احمد ګل دې په وصلت کې شراب ځکلي دلبانو
مکېز دمعشوقانو
سنګ دل، کوې تل، تېز کتل، په بورجل
سور پېزوان زنګوي
دبدلو دپورته ډولونو اکثره بيلګې «دخلکو سندرې» مجموعې


www.sikaraam.com

نه اخيستل شوي، په دغه کتاب کې پنځلس ډوله بدلې ښوول شوي، خو ځينې يې چاربيتو ته ورته دي او پوره څېړنه په کار ده، چې د دغه بدلو نورې بېلګې هم ومومو. کله کله نور فوکلوريک فورمونه کېدی شي، چې د ټنګ ټکور پروخت او رېدونکي ته بدلې ښکاره شي، خو په دې برخه کې يوه دقيقه څېړنه به د استونزې کمې کړي.

دبدلو په پای کې د ملنګ جان د شعرونو ځينې شعري بېلګې راخلو، چې بدلو ته ورته دي، خو دده په کتاب کې د لوبو په برخه کې راغلي دي:

ځه ملا وتړه ماله دباغ نه ګلان راوړه، زرزري شالونه، دازادۍ
ماته په هر ساعت کې ناست يې په کومو سترګو
زما د سپينې خولې په خواست يې په کومو سترګو
ځه ملا وتړه وطن ازاد کړه، بيا کوه زما دخولې سوالونه
په ځوانمردۍ

......

هلته به ته دښکلو يار شې، چې ملک وګټې
ويښو ځوانانو کې به شمار شې چې ملک وګټې
ځه ملا وتړه، دملنګ جان په نارو ولې کڼوې غوږونه، په بيدارۍ

**بله بدله:**
قومي تړون دی زلمي ځان سنبالوينه
د وطن خدمت ته ځينه

www.sikaraam.com

وينم هر خوا مظاهرې دي، دازادۍ نارې سورې دي
ځوانان ټولېږي
لکه پتنګ په سرو لمبو غوټې وهينه
دوطن خدمت ته ځينه
دغره مومند بيا پارېدلي- ديراو چترال هم خوځېدلي
ټولنې کېږي
دباجوړ نه دمامندو کام راځينه
دوطن خدمت ته ځينه

*دېدلو دنور تفصيل لپاره داکتابونه کتلای شئ:*

۱.*دخلکو سندرې:* دحبيب الله رفيع، دافغانستان اکاډمي، دتاريخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹المريز، کابل.

۲.*دپښتو شفاهي ادبيات، شکل او مضمون:* دغوټۍ خاورې، دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۶المريز، کابل

۳.*خوږې نغمې:* دملنګ جان کليات، چې لومړی ځل په ۱۳۳۸المريزپه کابل، دويم ځل په ۱۳۴۸المريز، دريم ځل په ۱۳۷۰ لمريز په کابل، څلورم ځل په۱۳۷۸المريزپه پېښور، پېنځم ځل په ۱۳۸۵المريزپه پېښور اوپه امريکا کې دوطن دمينې کچکول په

www.sikaraam.com

نامه داروښاد سید اکل غریبیار په همت خپور شوی. دا کتاب ځینې نور چاپونه او غور چاڼونه هم لري.

۳. د بېلابېلو شاعرانو په شعري ټولګو، کلیاتو، دېوانونو او د شخصیتي تذکرو په پاڼو کې ځینې بیلګې.

www.sikaraam.com

# لوبې

لوبه د پښتو فوکلوریو ځانګړی ډول دی، چې له بدلو سره لږ توپیر لري. لوبې بېلا بېل فورمونه لري، کسر یې عموما دوه هم قافیه مسرۍ وي او بندونه یې دوه او درې مسرۍ، ځینې یې څلور مسرۍ وي. د بندونو لومړنۍ دوه مسرۍ یې په خپلو کې یو ډول څپه بیز او قافیوي جوړښت ښیي او وروستۍ دوه مسرۍ یې بیا د کسر له قافیې سره برابرېږي. لوبه عموما څلور، پنځه بندونه وي ډېر لږ یې تر دې زیات بندونه کتل شوي دي.

په لوبو کې بېلا بېل موضوعات راتلی شي. په عامه توګه ټولنیز او عشقي موضوعات را چاپېروي.

په بېلګه کې یې د ملنګ جان دا یوه لولو:

غافله څه له مست یې په دې دوه ورځې دوران

اخربه شې روان
شيطان نفس دې تېرباسي + په غم کې دې کېباسي
عبث کارونه پرېږده مخکې مه کره ځوزان
اخر به شې روان
که دې عمر شي زرکاله + اخر مرګ به درشي تاله
خلاصی دې ورنه نه شته، که پاچا شې دجهان
اخر به شې روان
پاک رسول غوندې سرور + دنيا نه تللی په سفر
افسوس دی، صد افسوس دی، خلک ټول دي ورروان
اخر به شې روان
يوه ورځ به داسې راشي+ عالم کې به غوغا شي
چې کوچ وکړو دنيا نه دبهسودو ملنګ جان
اخر به شې روان

لوبې او بدلې تردننني جوړښت پرته، دټنګ ټکور پروخت توپير ښيي. لوبې په چټکه او بدلې په لږ څه نرمه بڼه ويل کيږي. په دې برخه کې نورې څېړنې به ددواړو بيلتون ښه راوښودی شي.

ددغه «ډول» دکتنې لپاره داکتابونه کتلی شئ:

۱.دخلکو سندرې، دحبيب الله رفيع، دتاريخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹ المريز، کابل.

www.sikaraam.com

۲.*زرينې څانګې*: د حبيب الله رفيع، زېرى جريده، ۱۳۶۰المريز، کابل.

۳.*فرهنګ ادبيات پښتو (دريم ټوک)*: د سرمحقق هېوادمل، دچاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ۱۳۶۲المريز، کابل.

۴.*دګلستان سندره*: دولسي شاعر ګلستان (د محمد فياض شاداب په زيار)، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۹۹۹ميلادي، پېښور.

۵.*دوطن دمينې کچکول*: د ملنګ جان، ۱۳۸۲المريز، پېښور.

۶.*په پېښور او کوټه کې دولسي سندرو دبازاري چاپ کتابونو بېلا بېلې نسخې*: دا نسخې بيخي ډېرې دي او په بازاري ډول په کې د نورو ولسي ځېلونو، لکه داستانونو، چاربيتو او لنډيو ترڅنګ، لوبې هم ثبت دي. په دغه ډول ټولګو کې د معيار او څېړنې اصول نه ښکاري او يوازې سوداګريزه بڼه لري.

«سوزخواني» يا «نوحه سرايي» چې د کربلا د پېښې د غندنې پروخت او کله هم د نامتو او مېړنيو په مړينه د پښتنو په ځينو سيمو کې د نارينه او ښځينه وو له خوا ويل کېږي، ځينو فوکلور ټولوونکو ځانګړى ژانر بللى. دلته يې ځکه ځانګړى نه شو بللى، چې اکثره دا د پښتو فوکلور په نورو ژانرونو لکه: چاربيتې، مقام او بدلو په ځېلونو کې ويل شوي او کله چې فوکلور له موضوعي پلوه څېړو بايد يادونه يې وشي.

# بګټۍ

بګټۍ هم د خاصو ولسي سندرو په لړکې یو مهم ډول دی، چې ډېر وخت د پښتني سندرغاړو له خولې اورېدل کیږي.
بګټۍ د ساده چاربیتو د لومړني ډول په شان یو دوه مسریز کسر لري، خو هلته د کسر دواړه مسرۍ برابرې وي او دلته یې لومړۍ اوږده او بله لنډه. او بیا ورپسې درې مسرۍ په یوه وزن او قافیه او څلورمه یې د کسر په وزن او قافیه راځي. که څه هم چې دا بڼه چاربیتو ته ورته ده، خو د بګټیو د بندونو د مسریو وزن کم وي او دویلو خاص انداز لري، چې له چاربیتو، لوبو، بدلو او داستانونونو نه یې بېلوي. په چاربیتو کې معمولاً لوړ غږ کارول کیږي، خو په بګټیو کې بیا د غږ بڼه یو ډول وي او د چاربیتو په کچه لوړ نه وي. بل پلو بګټۍ پښتني سندرغاړي د هنري مجلسونو په

www.sikaraam.com

وخت د چاربیتو، بدلو او داستانونو په منځ - منځ کې وایي.
بګتۍ د ویلو څېکه ښه راښیي او کله چې اورېدونکي او کتونکي له ځینو نورو سندرو ستړي شي، پښتني سندرغاړي بګتۍ راخلي، چې د مجلس ښه او تود ښت لاپسې زیاتوي او پاملرنه ډېروي.
د بګتیو د ښو په اړه، بېلابېلې خبرې شوې، ځینو څېړونکو، د بدلو او لوبو ځینې ډولونه هم په بګتیو کې راوستي، چې په پوره توګه یې لاملونه نه شي څرګندېدی، خو دا به هم ناسمه وي، که ووایو بګتۍ یوازې یو ډول او ښه لري. بلکې ښایي ووایو، چې د پښتني فوکلور د ځینو نورو ډولونو غوندې بګتۍ هم ډولونه لري، خو ترنورو نامتو یې د غه ډول دی، چې پورته مو وښود.
بګتۍ څرګندو او ناڅرګندو شاعرانو ویلې، خو د ځینو نورو فوکلور ټولوونکو په څېر موږ هم دا په خاصو سندرو کې ګڼو، ځکه، چې ډېری وخت یې شاعران معلوم خلک دي.
د بګتیو د ویلو ښه او انداز کله سروکیو ته ورته وي.خو سروکي پوره سندره نه وي او بګتۍ په منځ کې لنډیو اچولو ته اړې نه دي.
د سروکو په باب هم ویل شوي، چې دا ښایي پخوا پوره شعرونه وو، خو د زماني په تېرېدو یې سرونه پاتې شوي او نورې هېرې شوې په دې برخه کې که نورې څېړنې ترسره شي، ښایي، ځینې داسې سروکي هم ومومو، چې د بګتیو د کسرونو برخه وي.
اوس به د پاچا ګل په نامه د یوه شاعر بګتۍ په بېلګه کې ولولو:


www.sikandaam.com

د مازيگر اوبو له مسته په نخرو راځي
شورېږي د گونگرو راځي
د مازيگر اوبو ته لاړه
ښه سورا يي غندل يې غاړه
مېينه امن د سر غواړه
د سوېلو ورپسې ډله د سورو راځي
شورېږي د گونگرو راځي
د سوېلو پسې لښکر دی
مخ يې ښايسته شمس وقمر دی
ډېرېې په سترگو کې اثر دی
زما گومان ورباندې خاص د ښاپېرو راځي
شور يې د گونگرو راځي
زما گومان و، پرې دوخته
داد اصيل چندښو لښته
بل لو بيده د چا له بخته
شاپه ټوپونو کې په مثل د ښارو راځي
شورېږي د گونگرو راځي
شاپه ټوپونو ځي په دانگه
داد لاچي لونگو ځانگه
ورته د فکر په ټال زانگه
داتورې زلفې د سينې په انارو راځي
شورېږي د گونگرو راځي

www.sikaraam.com

دا توري زلفې يې سمسورې
ښه ګلابي عطر وريپورې
هم په کجلو سترګې تورې
بل د سرو ټيک يې دوربل په کنارو راځي
شوريې د ګونګرو راځي
زلفې سنبل سينه دې باغ دی
بلبل دې خپل دښمن دې زاغ دی
په زړه يې تل د مينې داغ دی
سمسور ګلونو ته توتي د سردرو راځي
شوريې د ګونګرو راځي
زه خو توتي ستا د جمال يم
ډېر دې ديدن پسې لېوال يم
په عشق کې تېر له سرو مال يم
د «پاچا ګل» بګټۍ چوستې په مسرو راځي
شوريې د ګونګرو راځي

*[د خلکو سندرې ۲۵۷-۲۵۸ م مخونه]*

*د بګتيو د تفصيل لپاره وګورئ:*

د خلکو سندرې: د حبيب الله رفيع، د افغانستان اکاډمي- د تاريخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹ لمريز، کابل

ولسي سندرې (درې ټوکه): د سرمحقق زلمي هېوادمل، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۷۰-۱۳۶۲—۳۶۱ لمريز، کابل


www.sikaraam.com

# داستان

داستان کیسې، افسانې، حکایت او سرګذشت ته وايي. دیوې ښې یا بدې پېښې په باب کیسه. په پښتني فوکلور کې «داستان» منظومې کیسې ته ویل کیږي، خو په نثر کې بیا «نکل» بلل کیږي. له دې امله ځینې، هر هغه شعري کالب داستان بولي، چې دیوې پېښې کیسه وړاندې کوي. د پښتو فوکلور ځینې کتابونو چاربیتې هم په داستانونو کې ګڼلې. ځکه، چې یوه کیسه وړاندې کوي.خو داستان او چاربیته باید ځکه سره بېل کړو، چې اکثره پښتو چاربیتې کیسه ایزه بڼه لري او که مونږ دادواړه سره جلانه کړو ،نو کوم علمي اساس به ونه لري.

ځینې پښتو څېړونکي، خو داستان او کیسه (په نظم کې) دواړه د جلا ژانرونو په بڼه پېژني. یعنې داستان بېل ګڼي او کیسه بېله. ځینې بیا هرهغه شعري فورم، چې د سندرغاړو له خولې

www.sikaraam.com

دکیسې په دود وویل شي، داستان بولي. (وګورئ دخلکو سندرې)

که څه هم د سندرغاړو له خوا د داستان په نوم ویل شوي، نور شعري فورمونه عام خلک داستان بولي، خو د پښتو فوکلور په ژانري وېش کې داستان یوازې داکېدی شي، چې د مثنوي غوندې شکلي جوړښت ولري.

په دې ډول چې د هربیت لومړۍ مسره به له دویمې هغې سره په څپه ییز جوړښت او قافیه کې یو برابر راځي.

د ټنګ ټکور پروخت د داستان په منځ کې یو ځل، یادوه او درې ځل پښتو لنډۍ هم ویل کېږي، چې ځینې لنډۍ یې خاصې د داستان په موضوع راټولې وي. د افغانستان په ختیځ کې ځینې سندرغاړي د داستان په منځ-منځ کې یو شمېر مخصوصې نارې هم وایي، چې اصلاً د نورو منثورو داستانونو برخه وي او دلته دوزن د جوړښت او داورېدونکو د علاقمندۍ د پرولو لپاره ویل کېږي.

د داستان د بیتونو د شمېرپه باب ویل شوي، چې له شلو تر پنځه شپېتو پورې بیتونه لري.

*[فرهنګ ادبیات پښتو-(دریم ټوک) ۹۷ یم مخ]*

داستان د شعر د خیال، فکر، تصویرونو، دوړاندې کېدا دبڼې، اصطلاحاتو او ترکیبونو، احساساتو، چاپېریال او نورو ځانګړتیاوو له مخې له دېواني او عروضي مثنوي سره توپیر لري. مثنوي هروخت کیسه نه وړاندې کوي. کله په کې د پند او نصیحت خبرې وي او کله نور موضوعات، خو داستان باید یو


www.sikandam.com

نکل ته ورته وي او ارومرو دیوې کیسې حکایت یا په بله وینا سرگذشت وړاندې کړي.

څېړندوی رفیع په دې اړه یو ځای لیکي:«داستانونه، معمولاً په ظاهري بڼه کې مثنوي او کله-کله پرله پسې قصیدو ته ورته وي، خو دد ېواني پاړکو له مثنوي او قصیدو سره دولسي داستان لوی توپیر دا دی، چې ددې داستانونو د زنځیر دسر کړی له لرغوني اریایي سرودونو سره نښلي او دعربي مثنوي او قصیدې په پیروۍ نه دي ویل شوي...»

*(زرینې ځانگې ۴۵ م مخ)*

دا هم باید وښیو، چې د پښتو دولسي او د ېواني شاعرۍ په ځینو چاپي ټولگو کې هم، ځینو نورو شعري فورمونو ته دداستان نوم ورکړل شوی، چې سمه نه ده. دغه ډول نومونې د موضوعي وېش له مخې ورکړای شوي، پښتو شعري فورمونه د موضوعي وېش له مخې نه بلکې دبڼې له مخې په جلا بڼه د مطالعې ځای لري.

په پښتو داستانونو کې ځینې داسې هم شته، چې له نوروژبو، عربي، پاړسي، انگلیسي، ترکي، هندي او نورو گاونډیو ژبو راژباړل شوي. دژباړې دابڼه هم په نثر کې شته او هم په نظم کې، خو داژباړې دژباړو په شان نه ښکاري او د پښتني چاپیریال عناصر ورسره گډ شوي دي. په دغو کې د زرغونې کاکړ له خوا دسعدي شیرازي دبوستان پښتو منظومه ژباړه. دیوولسمې هجري پېړۍ یوه بل شاعراخوند احمد بیا ځینې دیني کیسې په نظم اړولې لکه: دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم او ابوجهل

www.sikaraam.com

داستان، د حضرت داود کيسه، د ابراهيم خليل الله کيسه، د حضرت يوسف او زليخا کيسه او نورې. ارزاني هم د حضرت پيغمبر صلی الله عليه وسلم يو داستان په پښتو رباعياتو اړولی. د سکندر خان خټک (۱۱۱۲-۱۰۲۸هـ) د ليلا او مجنون کيسه. د حميد مومند نيرنګ عشق او د شاه وګدا کيسه هند ته د چاپ دوسايلو په راتګ ځينې منظومې کيسې خپرې شوې، چې ډېرې يې د ملا نعمت الله او ملا احمد جان له خوا نظم شوې. د ملا نعمت الله نامتو کيسې دادي:

۱.الف ليلی ۲.باغ وبهار افغاني ۳.جنګنامه حسن ۴.جنګنامه حضرت علي ۵.جنګنامه رستم و سراب ۶.چهار درويش ۷.شهنامه ۸.د اختر منير کيسه ۹.د اکبر باچا او بيربل کيسه ۱۰.د پيشو او مږې کيسه ۱۱.د شهزاده منير او شهزاده ماهرو کيسه ۱۲.د شهزاده رعنا او زيبا کيسه ۱۳.د شېرين او فرهاد کيسه ۱۴.د موسی خان او ګلمکۍ کيسه ۱۵.د مهتاب جان او بيګم جان کيسه ۱۶.د نيمبولا کيسه ۱۷.د ليلا او مجنون کيسه او نورې.

د ملا احمد جان کيسې دادي:

۱.د چنې کيسه ۲.د شهزاده بلند اقبال کيسه ۳.د شهزاده جهاندار کيسه ۴.د شهزاده شيرويه او ملکې سمين عزار کيسه ۵.د شهزاده فلک ناز کيسه ۶.د قمرزمان کيسه او نورې.

*[د ادب د تيورۍ اساسونه: د سرمحقق دوست شينواري ۱۸۴-۱۸۳مخونه]*

د نولسمې پېړۍ له نيمايي بيا د شلمې پېړۍ تر ورستيو پورې بېلابېلو پښتنو ولسي او نيمه ولسي شاعرانو ګڼې کيسې نظم

www.sikaraam.com

کړي، چې ځينې يې منظومې ژباړې او ځينې يې يوازې د پښتني چاپيريال کيسې دي.دا کيسې زياتره په ناوېشلي هند او پښتونخوا- پېښور کې خپرې شوي او ځينې خو يې تراوسه خپرې شوې چې لوستونکي او علاقمندان لري.دا داستانونه که له يوې خوا موږ د فوکلور برخه ګڼو، نو بلې خواته ځينې ليکل شوې او ژباړل شوې کيسې له دې امله چې باسوادو شاعرانو ليکلي په عروضي مثنوي کې د مطالعې ځای لري، نه په فوکلوريکو داستانونو کې، خو د دغه وېش او بېلتون په اړه لا تراوسه منظم کار نه دی ترسره شوی.کومې کيسې، چې باسوادو شاعرانو دولسي شاعرۍ په فورم کې ليکلي، هغه موږ يوازې د شکل له مخې يا د شعري فورم له مخې فوکلور بللی شو، ځکه چې دغه دول شاعران دولسي ادبياتو اصلي روح و کيفيت نه ځرګندوي.

د پښتو منظومو کيسو په باب ښاغلي عبدالکريم پتنګ د «پښتو منظومې قيصې» په نوم ځانګړی کتاب ليکلی.په دغه کتاب کې هغه کيسې، چې منظومې دي او منظم شکل لري، راټولې کړي.خو د کيسې د جوړښت په باب يې بيا څه نه دي ويلي.نوموړي د پټې خزانې په استناد د عبداللطيف خان اڅکزي دا کيسه هم راوړې ده:

غوږ ونيسئ يارانو داونښ او سوی قيصه شوه
خورا ډېره خوږه شوه
يو سوی داونښ اشنا شو
بې حده يې همراه شو

www.sikaraam.com

یاري به یې کوله، یو له بله یې یارانه شو
خورا خوږه قیصه شوه

*[پښتو منظومې قصې، (۱۹/۲۴۱) مخونه]*

که دا پورته کیسه موږ داستان گڼو، نو ویلی شو، چې داستان یوازې د مثنوي په بڼه نه، بلکې د پښتو لوبې او بدلو په شان هم راتلی شي. په دې برخه کې پښتني فوکلور نورو څېړنو ته هم اړ دی.

*کوم منظوم داستانونه، چې په دغه کتاب کې راغلي دا دي:*

۱.ادم خان او دورخانۍ ۲.ارایش محفل یا قصه د حاتم طایي ۳.اله دین چراغ ۴.اوبښ او سوی ۵.الف لیلا ۶.باغ و بهار یا چار درویش ۷.پیشو او مږه ۸.ترانه محفل ۹.جهاندار ۱۰.چمنی خان ۱۱.چنۍ ۱۲.حسن و دل ۱۳.ددوو دوستانو قصه ۱۴.دراز بخت ۱۵.ددلۍ او شهۍ قصه ۱۶.رابعه او بکتاش ۱۷.رت و پدم ۱۸.رامداد خان ۱۹.سخي سلطان ۲۰.سلیم جواهري ۲۱.سوهني مهینوال ۲۲. سیف الملوک او بدري جماله ۲۳.د ماه جبین او گلفامې قصه ۲۴.شاه و گدا ۲۵.شها او گلان ۲۶.اختر منیر او ماهرو ۲۷.شهزاده استنبول او شهزداگۍ فارس ۲۸.اقبال او قمر جبینه ۲۹.بهرام او گل اندامه ۳۰.بهرام گور او پري حسن بانو ۳۱.جهانگیر ۳۲.دل افروز ۳۳.دلخرم ۳۴.رعنا او زیبا ۳۵.شیرویه ۳۶.فلک ناز او خورشېد افرین ۳۷.گلشن او بی بی هارون ۳۸.گنبد شام ۳۹.ماه منیر و بې نظیر ۴۰.ممتاز ۴۱.شېخ چلي ۴۲.شېرعالم او مامونۍ ۴۳.شېرین او فرهاد ۴۴.توتي نامه ۴۵.عجایب الحکایات ۴۶.فتح خان ۴۷.افسانه عجایب یا قصه

www.sikaraam.com

جان عالم ۴۸.افسانه غم امود ۴۹.فقیر بغداد ۵۰.کلیله و دمنه ۵۱.کوتوال ۵۲.ګل بکاولی ۵۳.ګلدسته دلبري ۵۴.ګل و صنوبر ۵۵.لیلی او مجنون ۵۶. محبوبه او جلات ۵۷.محبوبه شام ۵۸.مرغۍ او میرویس ۵۹.مکرزنان ۶۰.ملک محمد ګیتی افروز ۶۱.موسی خان او ګلمکۍ ۶۲.مومن خان او شېرینۍ ۶۳.نیرنګ عشق ۶۴.نیمبولا ۶۵.وامق او عذرا ۶۶.ورقه او ګلشاه ۶۷.هشت بهشت ۶۸.یوسف خان او شېربانو ۶۹.یوسف او زلیخا.

پورته یاد داستانونه، ځیني یې د پښتني فوکلور خپل هغه دي او ځیني یې ژباړل شوي دي. په دغه دواړو ډولونو کې بیا ځیني داستانونه، چې باسوادو شاعرانو نظم کړي، یوازې د موضوع او فورم له پلوه ولسي دي، نه د منځپانګې او محتوا له مخې.

*دلته به اوس د «نورصاحب» په نامه شاعر یو داستان ولیکو:*

نن مې ولید عجیبه نوی داستان
طلسمات به درته واړه کړم بیان
دیمن یو شهزاده و، زما یاره
یوه ورځې ښکار ته ووته له ښاره
ښکار ته لاړو په ځنګل او بیابان
یو غرڅه یې په نظر شو ناګهان
بې ملګرو یک تنها پسې روان شو
په خپل سر لاړ په ځنګل او بیابان
ناګهانه ها هوسۍ شوه ترې غایبه
شهزاده ته شوه وریېښه عجایبه

www.sikaraam.com

هغه ځای کې ګرد چاپېر عجايبات وو
لاندې باندې ښکته پورته طلسمات وو
چې نظر يې کړ، کوهی يې ولیدنه
د کوهي په غاړه راغی ودرېدنه
د غه څوک يې چې مو ولې راته وايه
نريې ښځه، ښځه نرشې سرترپايه
شهزاده چې ځانته وليدل يارانو
يوه مسته پېغله شوله هوښيارانو
سره لاسونه، سرې جامې، سره يې لبان
تورې سترګې، تور بانه، توريې چشمان
ناګهان د بل وطن يو شهزاده و
په قوت او په ښايست کې ازموده و
دا جلۍ غريبه يې ونيوه دلاسه
په خپل ځان پسې يې سپره کړه اس د پاسه
کورته يې بوتله شهزاده و، ډېر خوشاله
په نکاح يې وساتله دوولس کاله
پس له دوولس کاله يې ووی خپل مېړه ته
ای ناترسه ته مې نه ګورې دې زړه ته
دوولس کاله پردېسي شوم مساپره
مورو پلار پسې خپه يم د زړه سره
شهزاده وی، څه چې بودې ځمه پلارته
ديدن وکړه بيا به راشو دې خپل ښارته

شهزاده او جلۍ دواړه شو روان
دکوهي په غاړه بيا پېښ شو ځوانان
دواړو تيرې ها کوهي ته واچولې
دکوهي نه يې داخبرې واورېدلې
دغه څوک يې چې مې ولې ای نادانه
نريې ښځه، ښځه نرشې دغه آنه
ديمن شهزاده بېرته نارينه شو
دغه بل شهزاده ښځه رنګينه شو
ديمن شهزاده لاس کړو ترې چاپېره
په خپل ځان پسې يې سوره کړله برسېره
هغه دم يې کورته بوتله زما ګله
په نکاح يې دوولس کاله وساتله
دوولس کاله وروسته شهزاده ووی نجلۍ
خپل قصور مې درنه واخيست وربلۍ
څه چې بودې ځم، چې خلاصه شې له بنده
خدای دې وساتي بل څوک له داسې ژونده
شهزاده جلۍ يې بوتله، زما ګله
دکوهي په غاړه ودرېده په خپله
يوه تيره يې کوهي ته کړه ورښکته
داهم نرشو راروان شو بې مهلته
هيڅ سړی دې پس له دې مغروره نه شي
دهيچا به چاته پاتې قصور نه شي

هغه خپل کاله ته لاړو او دی خپل ته
هغه هلته وخوشاله اودی دلته
چې «نورصيب» ډوب شي دفکر په درياب
راوباسي ملغلرې په شتاب

*[پښتني سندرې، (دويم ټوک)، (۲۲۲-۲۲۵) مخونه]*

د داستانونو د تفصيل لپاره دالاندې اثار کتلی شئ:

*الف: په ځبېړنيزه برخه:*

۱. *دخلکو سندرې*: د حبيب الله رفيع، دافغانستان دتاريخ ټولنه، ۱۳۴۹ المريز، کابل.

۲. *فرهنگ ادبيات پښتو (دريم ټوک)*: د سرمحقق زلمي هېوادمل، دچاپ اوخپرونو دولتي کومېټه، ۱۳۶۲ المريز، کابل.

۳. *مختصر تاريخ زبان وادب پشتو*: د حنيف خليل، مقتدره قومي زبان اداره، ۲۰۰۹ ميلادي، اسلام اباد.

۴. *د ادب دتيورۍ اساسونه*: د سرمحقق دوست شينواري، دچاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ۱۳۶۵ المريز، کابل.

۵. *د پښتو شفاهي ادبياتو شکل او مضمون*: د غوټۍ خاورې، دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۲ المريز، کابل.

۶. *تاريخچه شعر پښتو*: د علامه عبدالحی حبيبي، علامه رشاد خپرندويه ټولنه، ۱۳۹۰ المريز، کندهار.


www.sikaaam.com

۷.*فضليات*: د فضل مير خټک، حيات بک ډيپو کرک، ۱۹۹۹ ميلادي، پېښور.

۸.*پښتو ولسي ادبيات*: د سر محقق زلمي هېوادمل، د ساپي د موقوفاتو اداره، ۱۳۷۲ لمريز، پېښور.

۹.*پښتو منظومې قصې*: د عبدالکريم پتنګ، زېرې جريده، ۱۳۵۷ لمريز، کابل.

*ب: بيلګه ييزې ټولونې:*

۱۰.د پښتو ټولنې *پښتني سندرې*: د ډارمستېټر د *پښتونخوا د شعرهار وبهار*، د سر محقق هېوادمل *بيدياني ګلونه* تذکره او د پښتو ټولنې *پښتانه شعرا* شپږ ټوکه او ځينې نورې داډول تذکرې، د خېرندوی بختاني *توربرېښ*، د عبدالحليم اثر افغاني *باغ وبهار*، د همېش خليل *د چاربيتو شاعران*، د عبدالواحد ټېکه دار *چاربيتې*، د پښتو د بېلابېلو ولسي شاعرانو شعري ټولګې او ګڼ نور کتابونه شته، چې د پښتو منظومو داستانونو بېلګې لري. ځينې دا يې د داستان په بڼه دي او ځينې يې د «چاربيتو» يا «بدلو» په بڼه داستاني توکي لري. د دغو ټولو کتل او لوستل زده کوونکو ته ګټور دي.

*د دغه ژانر ځينې يادښتونه:*

*۱. په پورته ياد وکتابونوکې د منظومو داستانونو په باب خبرې او څېړنې راغلي، خو د پښتو فوکلوريک داستان په باب د دغو کتابونو ځينې نظريات داستان او کيسې بيلې ګڼي او کله يې په*


www.sikandam.com

ـورو ژانرونـو هـم ورګـډه وي. زده کـوونکـي يـې يـوازې پـه اړه زيـات معلومات لوستی شي، نه کره او پوره معلومات.

۲. د لته هغه بيلګې باید وښيو، چې د جوړښت له مخې چاربيتې دي او د موضوع له مخې داستان:

نمرود په زمانه کې –راغلي په کيسه کې
پيدا شو ابراهيم خليل الله دوست داکبر و
بېشکه پيغمبرو
نمرود نومي کافر- ده جوړ کړو داهنر
راغونډ يې نجوميان کړه ، زما مرګ به وي د څه نه ؟
ترې ويې کړه پوښتنه
نجوم ووايه حال-ښکاره يې کړو فی الحال
پيدا به يو هلک په دغه ښار کې شي دننه
ستا مرګ به وي هغه نه

[د خلکو سندرې ۲۷۴-۲۷۳ مخونه]

بله بيلګه د عبدالواحد تېکه دار له چاربيتو:

بالا په اولياوو کې حضرت پيران پيردی
برپورې خزانې د کرامت لري، سمبال
غوړ کېږده زما وروره په قلم کې دی څه رنګ
درخواست نوی او باسمه د شعر له دفتره
يوزوی دباچاو ، ځان يې کړو د پير ملنګ
ميين د شاه په لور و ، غوړېږې کېږده برادره
روضه کې د کامل پيران پير مني قلنګ


www.sikaraam.com

لمبې د عاشقۍ به يې ختلې له ځيګره
روضې ته شو درون ، شولو ګويا زړه مې زهير دی
بالا په اولياوو کې حضرت پيران پير دی
يې شاه اوليا وکړه ، نظر زما په حال
برپورې خزانې د کرامت لري سمبال
وی سر به شکرانه درکړمه، زه کوم اقرار
واده که راته لور شي د پاچا عبد الرحمان
د ېره و ، په حرم کې د ولس کاله شو ايسار
په خوب کې راحضور شو ، دې ملنګ ته پهلوان
وی ځه ورشه پاچا ته ، په دارنګ وکړه ګفتار
راغلی زه جرګه د دستګير يمه په ځان
وی رادې کړه دختر په روز و شب مې پسې وير دی
بالا په اولياوو کې حضرت پيران پير دی
ګويا ورته پاچا په داسې رنګ شولو في الحال
برپورې خزانې د کرامت لري، سمبال
د دغه داستانيزې چاربيتې د پوره کتو لپاره وګورئ:

*[چاربيتې د عبد الواحد ټپکه دار ۴۱ م مخ]*

*۳. ټپيزه يو نوی ادبي ډول دی، چې په ورستيو شلو کلونو کې د پښتو دځوانو باسوادو شاعرانو له خوا رامنځته شوی.*

*ټپيزه دوه برخې لري:*

*لومړی د رې مسرۍ او بيا ورپسې يوه ټپه. يادې درې مسرۍ کله اته او کله نهه سيلابه ، کله تردې هم زياتې وي بيا ورپسې لنډۍ يا ټپه هماغسې وي، لکه په عادي ډول يې چې څنګه وينئ.خو د ټپې ورومبۍ مسره چې نهه څپې*


www.sikaram.com

وي، دلومړنيو دريو مسريو سره په وزن او قافيه برابره وي
ځينو ټپيزو ته په خپله شاعرانو ټپې جوړې کړې وي، چې دغه ډول ټپې ولسي ارزښت نه لري او له پورتنيو دريو مسريو سره د يوځای والي په وجه يې ارزښت کټل کېدی شي.
څرنګه چې ټپيزه د باسواده ذهنيتونو انځور وړاندې کوي، ځکه نو زموږ په فوکلوريک ادب کې د مطالعې ځای نه لري او هغه خو يې بېخي بيا نه لري، چې شاعر يې په وياړ، ټپه هم خپله ګڼي.
ټکوريزه
دا ډول هم ټپيزې ته ورته دی، خو توپير يې دا دی، چې په دغه ډول کې تر ټپې پاس څلور مسرې وي او د ټپه ييز جوړښت له مخې تر ټپيزې لږې لنډې وي که ټپه ترې ووځي، کله داسې هم ښکاري، لکه د عروضي نظم قطعه.
دا دواړه ژانرونه نوي دي او د نومونو په وضعه کې يې هم ځينې وخت د نظر يو والی نه ښکاري ځينو لا ټپيزه او ټکوريزه دواړه يو ژانر بللی او د دوی ترمنځ خپلمنځي بېلتون يې بيا د دغه ژانر د جلا ډولونو په توګه ښوولی. څرنګه، چې دا نبه هم لکه ټپيزې ته ورته ده او باسواده شاعران يې وايي، نو په ولسي ادب کې د مطالعې ځای نه لري د ټپو برخه يې، چې په ولس پورې اړه لري، دلنډيو په برخه کې کتلی شي.

## د ټپيزو او ټکوريزو بېلګې:

۱. توره دننګ وهه راخېژه
غرا وګړنګ وهه راخېژه
لاچي لونګ وهه راخېژه
سپوږمیه کړنګ وهه راخېژه
يارمې دګلولو کوي، ګوتې رېبينه
۲. ستا غم مې مل دی

ځکه مې خپل دی
خوږ پېښور دی
شېرين کابل دی
وطن دې بيل وطن مې بيل دی
دعا سلام دې رالېږه، چې څوک راځينه

[زيږ مازيګرى په پېښور کې دی ۱۷۰-۱۷۵ مخونه]


www.sikaraam.com

ښلونکي څپرکی

# ولسي نثرونه

www.sikaraam.com

## په دغه څپرکي کې يې لولئ:

- نکلونه
- وړې کيسې
- ټوکې
- متلونه
- کيسې يا اړونه
- اصطلاحات او محاورې
- تشبيهات او استعارې
- تکيه کلامونه
- دعاوې او ښېراوې
- سترې مه شې او مخه ښه
- القاب او صفات
- نومونه
- روايات
- او ورستي ټوکې برخې

www.sikaraam.com

# ولسي نثرونه

پښتون ولس د ژوند انه په بېلا بېلو پړاوونو کې له ښو - بدو سره مخ شوی، پر دوی بهرني یرغلونه هم شوي او په کورنیو جګړو کې هم راښکېل شوی. کله یې بریاوې ترلاسه کړي او کله تاوانونه. کله یې په اجتماعي لحاظ د ژوند انه له عامو پېښو سره مبارزې کړي او کله یې د تفریح او ساعت تېرۍ لپاره خپل احساسات په نظم او نثر کې وړاندې کړي دي.

د پښتو تر منظوم فوکلور وروسته منثور فوکلور هم د یادونې ځای لري. په منثور فوکلور کې بېلا بېلې برخې شاملولی شو. لکه: پښتو نکلونه یا منثورې کیسې، چې په اوږده بڼه کله په کې اضافي خرافاتي مسلې هم کتی شو. وړې کیسې، چې اکثرا د پېښو پروخت پېښې شوي او یا په بېلا بېلو ټولنیزو مناسبتونو جوړې شوي. د غه راز ټوکې، تکیه کلامونه، اصطلاحات او محاورې او د ځینو خاصو ورځو او مراسمو په باب خبرې اترې، دودونه، رمزونه، کنایې، دعاوې- ښېراوې، لوړې او نورې ډېرې بڼې، چې د فوکلور په پېژندنه کې ارزښت لري. د پښتنو په بېلا بېلو سیمو کې په یادو مناسبتونو نثرونه تولید شوي، چې ځینې یې

www.sikaraam.com

د کیسو او ځینې یې د تشو خبرو په بڼه دي. د پښتو فوکلور پېژندو په وخت باید دا هېر نه شي.

یوه یادونه باید هېره نه کړو، چې دا یاد شوي ټول ژانرونه ادبیات نه شو بللی. ځکه، په ادبیاتو کې تخییل او هنریت او ښکلا لومړی درجه ارزښت لري، خو په دغو ټولو کې داتوکي نه شو موندی. نو کولی شو، ووایو پښتو نکلونه او وړې کیسې د ادبیاتو په لړ کې مطالعه کوو، هغه هم په دې توګه چې ټول نکلونه او کیسې به ادبي ارزښت ونه لري، بلکې ځینې دابه یې لري، خو دلته یې ځکه پېژنو، چې د ادبیاتو پوهنځي زده کوونکي د فوکلور ټولوونې لارې او ځېلونه وپېژني.

دا مسله چې په پښتو منثور فوکلور کې کومې برخې ادبیات ګڼلی شو او کومې یې نه، یوه اوږده او پراخه څېړنه غواړي. ځکه کله په ټوکو او اصطلاحاتو کې هم له ځینو داسې ترکیبونو سره مخ کېدی شو، چې هنري تومنه دې ولري. خو څرنګه، چې په ټولیزه توګه د ایوازې ولسي ارزښت لري، د ادبیاتو په کتار کې یې له څېړنې پرته درولای نه شو.

په لاندې برخه کې موږ دغه ولسي نثرونه په لنډه توګه له بیلګو سره یو ځای ښییو. او اوږدې څېړنې راتلونکي ته پرېږدو.

www.sikaraam.com

# نکل

نکل، چې ځینې پښتانه یې اوږدې کیسې یا یوازې کیسې، قیصې او داستان هم بللي دمنثورفوکلور یو ډول دی. (۱)
نکلونه اکثره وخت اوږده وي او د پخوانیو عقیدې، فکرونه، لاسته راوړنې، دژوند بڼه او د پېښو په وړاندې غبرګونونه رابښيي. دولسونو کولتوري اغېزې او هیلې، عادتونه، تمایلات او راکړې ورکړې، ډار، خوښي او ګڼ نوراړخونه رابښيي. په دې توګه دا خبره ناسمه نه ده، چې نکلونه دبشري نړۍ دداستاني ادب لومړني.

---

۱. داستان یوازې منظومه بڼه لري، چې زیاتره دتنګ تکور پروخت کارېږي، خو ځینې ولسي خلک له دې توپیر پرته، چې منظوم او منثور څه توپیرونه لري؟ منثورو کیسو او نکلونو ته هم داستان وایي. دولس ددغه نومونو مخه څوک نه شي نیوی، خو منثورو کیسو ته «داستان» ویل له معمول سره، سم نه برېښي. زموږ ځینو څېړونکو هم داستان منثورو نکلونو ته کارولی لکه کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم عطایي.

www.sikaraam.com

عناصر هم دا لري.

په نکلونو کې کله خرافاتي او اضافي مسايل هم کتلی شو، لکه داسې کارونه ترسره کېدل، چې عقل يې نه مني يا يې نه شي درک کولی. دا ښايي له خپل وخت سره سم د ساعت تېرۍ او تفريح لپاره او کله د ډارولو او برياوو د موندلو او دژوند په باب د فکرونو دبدلون لپاره ويل شوي، چې ويونکي يې نه دي معلوم او خوله په خوله يا سينه په سينه له يوه نه بل نسل ته راپاتې دي.

نکلونه زياتره يوه پېښه راښيي. کله دا پېښه عشقي وي او کله هم ټولنيزه، کله د يوه شخص د مېړانې او اعجاز بيانولو ته وقف وي، کله بيا د يوه پاچا د عقل او فکر او قوت څرګندوی وي او کله هم د يوه ملنګ يا نوکر، يا جنګيالي مېړانه او توره بيانوي. په نکلونو کې کله داسې هم وي، چې د يوه کرکټر په مېړانه يا بدۍ کې له اندازې وتلې او له عقل نه لرې خبرې وينو، چې د منلو نه وي. خو څرنګه، چې زموږ د ولس د فکر طرز راښيي، فوکلور ټولوونکي اړ دي، چې د ولس له ژبې سره سم يې، په هماغه بڼه او ژبه وړاندې کړي. ځينې دا به ښايي دومره لرغوني وي، چې د تېرو وختونو د فکر بڼه راوښيي، ځکه ترېر مختګ وروسته کله فکرونه بدلېږي هم او ډېر هغه څه، چې يو وخت د نه منلو وي، وروسته رښتيا کېدی شي.

د پښتنو په هره سيمه کې د غه ډول نکلونه شته، چې کله په ډېره لوړه او کله هم په ډېره ټيټه بڼه پېښې بيانوي. ځينې نکلونه اصلاً يو وي، خو په بېلا بېلو سيمو کې د شهرت له امله د خلکو په خوله

کې يې مانا ګانې، اصطلاحات، مفاهيم او ناري يا غرونه بدل شوي وي، چې ښايي ځينې فکر وکړي، دا او هغه سره بېل موضوعات دي.

د نکلونو تاريخچه د بشريت او په تېره د پښتنو د زېږېدو او خپرېدو وختونو ته رسېدی شي. په دې هکله بيا هم غوځې خبرې نه شي کېدی، ځکه، چې دا څوک نه شي څرګندوی، چې لومړنی نکل، چا؟ چېرې؟او ولې؟ ووايه.

ځينې نکلونه له نورو تاريخي پېښو سره په تړاو- او ليکلي تاريخ ته په کتو دقيق کېدای شي، خو ګڼ نور بيا د څېړنې او وخت ټاکنې لپاره هيڅ ډول اسناد او شواهد نه لري. د لرغونيو اريايانو د ځينو فکرونو او عقيدو او ويناوو څېړنې ښوولې، چې لا هغه وخت هم ځينې دا ډول نکلونه موجود وو، چې له ميلاد نه وړاندې کلونو ته رسيږي، خو دا هم په غوڅه توګه نه شو تاييدولی يا ردولی.

بل پلو ځينې داسې نکلونه هم شته، چې له نورو ګاونډيو ژبو نه پښتو ته راغلي، مثلاً له هندي، اردو، ترکي، عربي، پارسي او نورو نه، چې د خلکو په خولو کې عام شوي او اصلي سرچينه يې نه شو ټاکلی، خو دا وړ نکلونه هم د خلکو په خولو کې دومره سوليدلي، چې د ژباړې او نقل حکم پرې نه شي کېدی. داسې ځينې نکلونه په پښتو نظم کې هم پېيل شوي او ځينې به ښايي داسې هم وي، چې ترنظم وروسته د خلکو خولو ته لوېدلي او بيا په ولسي نثر او ښتي دي.

www.sikaraam.com

په منثورو نکلونو کې يو نيم ځای په نظمي بڼه ناري يا غږونه هم اوربدل شوي، چې په ځينو ځانګړيو حالتونو کې د عاشق او معشوقې ترمنځ د مور او اولاد ترمنځ او ياد ماندينې او مېړه ترمنځ د سوال وځواب يا د پندونو او نصيحتونو په بڼه راغلي، چې ځينې دا وړ ناري لا هم په پښتني ټنګ ټکور کې د استعمال ځايونه لري، لکه د فتح خان او کرمي په کيسه کې يا د ادم خان او دورخانۍ په کيسه کې.

داسې نظريات هم شته، چې د اوسني منثور هنري ادب نامتو ځېلونه لکه لنډه کيسه، ناول او رومان چې نړۍ وال ارزښت لري. د پخوانيو فوکلوريکو نکلونو پر مختللې بڼه ده، سره له دې چې اوسني دا هنري ژانرونه له اروپا او لوديزې نړۍ هندي، اردو، پارسي او بيا پښتو ته رانوتي. دا ځکه، چې په لويديزو ټولنو کې هم پخوانيو خپل فوکلوريک اثار لرل او ځينې نکلونه يې لا د ترجمو په بڼه هم ترموږ رارسېدلي دي.

کانديد اکاډميسين محمد ابراهيم عطايي د پښتو شفاهي داستان په باب پوره کتاب ليکلی. د دغه کتاب په پيل کې د نکلونو د ايجاد او ارزښت په باب په زړه پورې خبرې لري او د ملي هنر مهمه برخه يې بولي. په نورو سربېره ،دا لاندې برخه يې د پوهنتون زده کوونکو ته ګټوره ده:

«هر ولس او ټولنه د خپلو طبيعي او کولتوري شرايطو مطابق، يو شمېر کيسې لري، چې د دوی د ټولنې خلک ورسره اشنا دي. د ولس او ټولنې د طبيعي او کولتوري شرايطو مطابق ، نو

www.sikaraam.com

داماناچې دادبیاتو په تخلیق کې محیطي شرایط زیاته اغېزه لري.
دمثال په ډول هغه ټولنې چې خلک یې د سمندرونو پرغاړه اوسي،
ددوی کیسې هم د سمندرونو، توپانونو او ماهوګانو دقهرمانۍ په
ماجراګانو خوندورې شوې وي، خو هغه خلک، چې دجګو غرونو
په منځ کې اوسي نو ددوی دکیسو قهرمانان بالعموم داسې
انسانان وي، چې لوی پاڼونه او کنډوونه ترپښو لاندې رعیتوي.
همدا ډول بید یاوو او ځنګلونو ته نژدې خلک بیا په خپلو
کیسو کې پرهغه سختیو او تنګسو خپل قهرمانان بریالي کوي،
چې ددوی له طبیعي شرایطو سره برابر وي. دبید یاوو تندې،
ګرمي، باران دکیسو له قهرمانانو سره غاړه غړۍ وي...».

*[دپښتو پرشفاهي داستان یوه تحلیلي څېړنه ۱۰-۹ مخونه]*

دنکلونو په باب چې هرڅومره اوږدې خبرې وشي، بیابه هم
کمې وي، ځکه، چې دپښتنو نکلونه دومره زیات دي، چې نه پوره
راټول شوي او نه ټولو ته معلوم دي. دلته به اوس دیوه اوږده نکل
دسر او پای ځینې برخې زده کوونکو ته دبیلګې په دود وړاندې
کړو:

**د ادم خان او دورخانۍ له نکل نه:**

*دنکل پیل:*

«نقل دی له میرونه، چې دادم خان ډېر اشنا او خاص ملګری و،
چې په کوزه بازدره کې دیوسفزیو یو سردار و، چې ډېر دولت یې
لاره او نوم یې تاووس خان و. او دهغه سردار یوه لور وه، چې دهغې
نامه دورخانۍ یادېدله. ولې په ښایست کې په هسې شان وه، چې

www.sikaraam.com

بله سیاله یې په هغه زمانه کې چرته نه وه. ټول عمر په ستر او پرده کې لوېده له.

یوه ورځ یې پلار ته عرض وکړ، چې زما سبق ویلو ته ډېره مینه کیږي، ځکه چې ټولې همزولې مې لوستن کوي او زه بې علمه پاتې شوم، پلار یې د علم له قدره خبر نه و.....»

*[قیصه دادم خان او دورخانۍ ۱ مخ]*

*د ننګي د مولوي احمد په قلم لیکل شوی دا نکل لومړی ځل په ۱۸۷۲ میلادي کال د پادري هیوز له خوا دلاهور په سرکاري مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی.*

همدا نکل په ننګرهار نکلونه نومې کتاب کې بیا داسې پیلیږي:

«وایي، چې په سوات کې یو خان وسېده، چې تاووس خان نومېده، د تاووس خان په کاله کې یوه لوروه، چې دورخانۍ نومېده او له ډېر نازولتوبه به یې دورخو بلله، دورخو به لا دنهو لسو کلونو وه، چې چابه په کې سترګې وټومبلې بیا به یې په توپونو هم ترې نه شوای ایسته کولی، هرې ښځې او نارینه چې به یو ځل ولیده، بیا به یې دستي پرې جرګه کړې وه، دورخانۍ لا پیغلو کې شوې نه وه، چې مورو پلار یې له ډېرو جرګو مرکو سترې شو.خپله لوریې، د جومات سبق نه هم منع کړه.....»

*[د ننګرهار نکلونه ۲۹ م مخ]*

*دادم خان او دورخانۍ د نکل پای:*

«...پس له هغه دادم خان د ښخولو سمبالی هورې کېدو او د دورخانۍ تیاری دلې کېدو او دستور د دوی داو، چې په کال کې

www.sikaraam.com

شپږ میاشتې به دوی د سین په غاړه وسېدل او شپږ میاشتې به په غره کې وسېدل او دغه موده کې دوی مړه کېدل، کډې یې د سین په غاړه وې. نو قبرونه یې وله دزړې مینې دلاندې او د مسري باندې د پاسه او د میرې په کناره د سین په غاړه وکندل، دواړه یې ښخ کړل....»

*[قیصه دادم خان او دورخانی ۲۱م مخ]*

د همدې نکل پای په ننګرهار نکلونه نومې کتاب کې داسې وینو:

«مجلوم چې دا غږ واورېد، نو ښه مست وشنېده او خوشاله شو، وایې، چې دورخو او توتیا په یوه کور کې لکه ددوو خویندو داسې شپې تېرولې او ښه خوږ ژوند یې و، په ادم خان یوه هم تیری نه وه او یوه ورته له بلې نه ګرانه وه، دوی دې خپل ژوند تېروو او موږ به ترې راشو!

کیسه لاړو بکروته
زه لاړم شکرو ته»

*[د ننګرهار نکلونه ۵۴م مخ]*

نکلونه لنډ هم وي او اوږده هم، ځینې نکلونه ډېر اوږده دي، لکه پورته بیلګه، دادم خان او دورخانۍ نکل، د سیف الملوک او بدري جمالې، د فتح خان او رابیا او نور. ځینې نکلونه لنډ وي. ځینې نکلونه د موضوع او منځپانګې له پلوه غني وي او ځینې تشې تو کې، تفریح او ساعت تېرې لاندې به د کلیوالو وړو نکلونو یوه بیلګه ولیکو، چې د پښتنو په بېلابېلو سیمو کې بېلابېلې بڼې

www.sikaraam.com

لري، چندانې پيغام هم نه لري، خو لږترلږه د ټکي او برګي د بدو نتيجو په اړه لږڅه رانښوولی شي.

# ګنجی او روی

يو ګنجی و، په ډېران ګرځېده، ګرځېده، ګرځېده، يوه لښته يې پيدا کړې او د سين په غاړه يې ښخه کړې وه. دې لښتې ته به يې په خولی کې اوبه راوړې او اچولې به يې. ګنجی به لښتې ته په خندا شو او وبه يې ويل، ستا مېرمن د سی د سی کم، که سباته زه راغلم او تا ترښاخونو پاڼې نه وې کړې، دبابا په تبرګي به دې ټوټه کړم او د سين منځ ته به دې ختا کړم.

بله ورځ چې ګنجی راغی، ګوري چې نيالګی غټ شوی او پاڼې يې کړي. ګنجي ورته کړه، اوس نو ته بايد د سپي توتان هم ونيسي، که دې ونه نيول دبابا تبرګی درپسې راوړم، چې ګنجی کلارې بله ورځې راغی، ګوري، چې ونې د سپي توتان هم نيولي. ګنجی بل فرمايش تير که ويلی، چې د سړو (انسانانو) د خوراک توتان او سر ونيسه، چې ګنجی راغی، څه ګوري، چې د سړو توتان يې هم نيولي.

ونې ته به يې اوبه اچولې او يوې نه بلې ورځې ته غټېده. خوشاله و، هرشی داوبو دی کنه په اوبو ښه راځي.

بله ورځې چې ګنجی کرارې خپلې ونې ته ورغلی، په دې کې

www.sikaraam.com

پې یوه «روې» خدای راپېښنه کړې، ورته وئ، وازویه زار دې شم، قربان دې شم، ته لږ چشې خو راکه کنه ! ګنجی ورته وئ، چشی غواړې، روې ورته وئ، تو تان غواړم، ګنجي وته کړه، چې تاته یې درکم، زه به خاورې خورم؟ ګنجی وته کړه، خیر دی زویه دغه یوه ځانګه راوځنډه، دانورېې ستا ، روې ګنجی ته چل جوړ کړی و، ورته وی، خیر دی زویه !؟

ګنجي چې ځانګې پسې ورخېژ که، روې ټوپ که، ګنجی یې دپښې نه راونیو او لاندې یې ختا که، روی سمدلاسه ګوډی خلاص که او ګنجی یې په کې وروا چوه.

دګنجی د سر نه دې خدای مه خبروه، تک تور، لکه توره تبی، روې په لاره روانه ده، که ګوري، چې یو سړی قولبه کئ، داورته وئ، ماما زه دادرې پالېزه اپلو اوړمه درې خرواره متیازې کوم، ته زما دې ګوډي ته لږ ګوره، روې ګوډی پرېښوده، دلته چې دهقان غوایانو ته هو هو غږ کي، ګنجی وسره دګوډي دمنځ نه سمې نارې وئ، چې دهقان غوایانو ته کوکو غږ کي، ګنجی ورسره کوکو غږ کي، دهقان ته شک پیدا شو، چې ولا ځوانه په ګوډي کې څوک سړی دی؟

دهقان چې ګوډي ته لاس کړ، ګنجي ټوپ که، ګوري، چې د«رنجو کنډو» ګنجی دی، په دې سر یې ترېنه ټس وویست، خوارشي دروې سره څه کی؟ بلا دې ووهه، پاځه او پښې سپکوه، کنه غړمبار یې خیجي او ښویه به دې تېر کي، ګنجي دوه خپلې کړې دوه پردې، او سیده یې خپل توت ته ځان ورساوه. روې چې


www.sikram.com

راغله ګوري، چې ګنجی تښتېدلی، ماماته وئ، ګنجی څه شو؟ هغه ورته وئ، ولا که پوه یم، دا سې یو شي منډې والې، تور سریې و، روې تندي ته تس ورکه او ورپسې یې توت ته ورهئ کړې.

چې ګوري ګنجی په ونه ختلی، روې ورته وئ، ای ګنجیه راټوپ که لږ کارمې درسره دی، ګنجی ورته وئ،زه دې پېژنمه ته خو هماغه یې چې په ګوډي دې ننیستی ومه.روې ورته کئ، چې ولا که زه هغه یمه، ما دې خدای وشرمئ، چې زه بل څوک یم، کمکل ګنجي ورټوپ کړی، روې بیا رانیولی، او په ګوډي یې ننیستی. فکر یې کړی، چې که دا چیرته کېدم، بیا تښتي، داوارې یې رسا خپل کورته بیولی، لورته یې ویلي، چې دګوډي خوله غوټه که او په دورشیي کې یې ځوړند که، زه چیرته ځم یوټونګه کار مې دی، چې راغلم دواړه به په شریکه ګنجی وخورو دخیره !

لوریې ویلی، ښه ده.روې بهرته لاړه او چې دلورېې زړه تنګ شو، دګوډي خوله یې خلاصه کړه، که ګوري، دګنجي تور سر دی او دروې دلور خوښ شو، ورته کړه یې ګنجیه دا سر دې چیرته جوړ کړی، ګنجي چې دروې په کور کې بغرۍ او چومبی ولیده، ورته کړه یې، دا مې راته مورپه بغرۍ کې جوړ کړی، ویلی څنګه؟ ګنجی وئ، دازما سر یې داسې په دې بغرۍ کېښود دا چومبی یې پې باندې راګوزار که، ډېر ښایسته جوړیږي، یقین وکه !

دروې لور ورته کړه، وئ هله ماته یې هم دغسې راجوړ که شابه ! دغه دی چومبی او دغه دبغرۍ !

ګنجي دروې دلور سر بغرۍ ته برابر که او دپاسه یې پرې دتیږو

www.sikaraam.com

چو مبی ورګوزار که، چې په يو درز، د روې دلور سره دانه وانه شوه او ماغزه يې وشيندل شول. ګنجي دوه خپلې کړې دوه پردې او پښې يې سپکې کړې. منډې - منډې لاړ په سين پورېوته !

روې چې راغله، غږ يې که بلې نستې ! بلې نستې !زړه که يې تندي له تس ورکه، چې داڅه پساتې وشوې. که ګوري، د ګنجي کالي پراته دي او دبلې نستې کالي ګنجي په ځان کړي، تښتېدلې.
روې پل اخيستې پسې بوی - بوی -بوی اخر يې درک ولګوو، روې د سيند نه پورې نارې کړې، وه زويه زار دې شم، ته کمسې (کوم ډول) پورېوتې، پورې غاړه مې لور واده ده جواب يې راليږلې، ورکره څمه، هغه ورته راچغه کړه، تاته چل وښيم، چې بيا مې په ګوډي ننباسې؟ روې ورته کئ، چې ولاکه زه هغه يم، هغه به بل څوک وه؟

ګنجي چورت وواهه، چې دې ته څنګه چل جوړ کي، چې ځان ترې خلاص کي، ورته وئ، ای بوډۍ !يناغه مخامخ دجرندې پل ګورې، وئ، هو يناغو نه يو دانه کې ما سر ننيسته او سين ته مې ورکولې که، چې په منډه يې راپورېستم، روې ورته وئ، ته رشتيا وی، هغه وته وئ، بيخي ما کله دروغ ويلی؟

وئ، ښه دغه دی خير نو...

روې دجرندې يو پل راو خوځوو، د سين غاړې ته يې برابر که، سر يې په کې تر سينو پورې بند که، چې تبله يې ورکړه، پل داوبو منځ ته ورغی، روې لاړه ډوبه شوه !

قيصه لاړه بکرو ته - زه لاړم شکرو ته

قیصه لاړه کوا ته وته. زه راغلم پراته وته (۱)

***د نکلونو د تیوریکي پېژندنې لپاره وګورئ:***

۱. *زرینې څانګې:* حبیب الله رفیع، د زیري کالنۍ، ۱۳۶۰ المریز، کابل.

۲. *د پښتو شفاهي داستان یوه تحلیلي څېړنه:* د کاندید اکاډمېسین محمد ابراهیم عطايي، د اطلاعات و کلتور وزارت، ۱۳۷۰، کابل.

۳. *د خلکو سندرې:* د حبیب الله رفیع، افغانستان اکاډمي، ۱۳۴۹، کابل.

۴. *فرهنګ ادبیات پښتو* (دریم ټوک): د چاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ۱۳۶۲ لمریز، کابل.

*د کیسو ټولګې:*

*ملي هینداره* درېیم ټوکه، *د ننګرهار نکلونه*، *د ګوربزو نکلونه* او ځینې نور

---

۱. داکیسه د ننګرهار د کامې ولسوالۍ د شنې کلا د حضرت ولي ماما له خولې لیکل شوې دې ورته یوه کیسه غوتۍ خاورې په ننګرهار نکلونه نومي کتاب کې هم ثبت کړې، چې موضوع یې همدا ده، خو الفاظ او محاورې یې بدلې دي هغه کیسه آغلې خاورې د ننګرهار په روداتو کې ثبت کړې دانبیې، چې څرنګه په پښتني سیمو کې شفاهي کیسې په لنډه واټن کې هم یو تر بله توپیر لري

www.sikaraam.com

# وړې کيسې

وړې کيسې د پښتنو د ژوند يوه بله برخه ده، چې وخت ناوخت يې د خبرو په وخت وايي. کله په خبرو کې د استناد لپاره د متل په بڼه راځي. پښتانه د تفريح، جرګو مرکو پروخت ځانګړې ژبه لري، چې کله ترې ادبي او کنايوي تعبيرونه راوځي، او له يوې پېښې نه د نتيجې اخيستو او يا د يوې مسلې د پوره څرګندولو لپاره وړې کيسې هم نامتو دي. وړې کيسې کله ټوکې او کله انتقاد وي.

*د بېلګې په توګه:*

يو سړى يوه پير ته ورغلى و، ويل يې دعا راته وکړه، چې خداى يو زوى راکړي. هغه ورته وويل، واده دې کړى؟ ده ورته وويل، چې واده مې کړى وى، نو بيا تا ته راتلم !؟

دغه ډول کيسې معمولا هغه مهال ويل کيږي، چې څوک له چانه څه غواړي او هغه ترې د يوې بلې اساسي لارې پوښتنه وکړي او يا د ځان د خلاصون هڅه کوي، نو بيا د ځواب لپاره ورته د غسې وړې انتباهي کيسې له مقابل لوري نه ويل کيږي.

د غسې نورې بيلګې ډېرې دي، لکه کوم کور به، چې ميلمنو ته


www.sikaraam.com

ناوخته ډوډۍ ورکوي او میلمانه وږي وي، نو بیا میلمانه او کوربانه په ګډه دا ډول کیسې کوي او ورته وایي، چې ته لکه چې هماغه کانه کوې، چې:

کوم سړی و، د شپې یې ښه ډېر میلمانه راغلي وو، میلمانه وږي وو، ده ډوډۍ ښه ناوخته کړه، میلمنو ډوډۍ غوښته خو ده نه راوړه، میلمنو فکر کاوه، چې ګنې کوربه یې ډېر ښه خواړه پاخه کړي، چې میلمنو به د ډوډۍ خبره وکړه، کوربه به ویل، صبر وکړئ، خدای به خیر کړي، هرڅه ډېر دي. د شپې ناوخته چې میلمانه له نورو ځایونو هم ووتل، نو کوربه شنه سابه او سوکړک ورته راوړل، چې هر کپ کوي، کوربه ترې پوښتي: مزه کوي؟ هغوی ورته وایي، ډېره خوند کوي.

ځینې دا ډول کیسې او ټوکې یو ډول ګڼي. خو ټوکې کله د ساعت تېرۍ لپاره هم وي او پرته د خبرو له موقع هم ویل کېدای شي.

## *دوړو کیسو د تفصیل لپاره وګورئ:*


۱. *د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون*: د غوټۍ خاورې، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲ لمریز، کابل.

۲. *پښتو قصې*: د پوهاند رښتین او غلام رحمان جرار، پښتو ټولنه، ۱۳۳۱ لمریز، کابل.

۳. *زرینې ځانګې*: د حبیب الله رفیع، د زېري کالنۍ، ۱۳۶۰ لمریز، کابل.


www.sikaraam.com

# ټوکې

ټوکې کله په یوه مناسبت وي او کله د ساعت تېرۍ او تفریح وسیله. ټوکې د ژوند مالګه ده او د ژوندانه په هره برخه کې یې اړتیا پېښېږي. د ټوکو دود په ټولو انساني او بشري ټولنو کې رواج دی. هره ټولنه خپلې ځانته ټوکې لري. ښايي ځینې وخت ټوکې له یوه فرهنګ او یوې ژبې نه نورو ته هم ورغلې وي. نورو ژبو ته ورغلې ټوکې معمولا د اخیستونکې ژبې له چاپیریال، ژبې اصطلاحاتو او محاورو سره برابرېږي.

ټوکې هم سر او پای نه لري، هر کله پېښېدی شي، هر کله ویل کېدی شي او دا هم نه شي څرګندېدی، چې کله پیل شوي او څنګه؟ پرته له دې چې ووایو ټوکې د انسانانو له زېږون او فعالیت سره سمې پیدا شوي دي. ټوکې که څه هم هر کله ادبیات نه وي او یا په بله ژبه بېخي په ادبیاتو کې نه شي شمېرل کېدی، خو د پښتنې ټولنې د فوکلور د مطالعې پروخت یې یادول په کار دي. ښايي، ځینې ټوکې او چته ادبي او هنري ژبه ولري. که داسې وي، ښايي،

www.sikaraam.com

دباسوادو خلکو له خوا ویل شوي وي. کومې ټوکې چې په ولس کې مشهورې دي، اکثره یې که له یوې خوا یوه مانا لري او په خاص مناسبت دویلو وړ وي، نو له بلې خوا د ساعت تېرۍ او خندا وسیله هم ده او داتمه ترې په کار نه ده، چې دغه ډول دټوکو نثرونه دې هم ارومرو ادبیات وي.

ټوکې، ډېرې شوي او په یو شمېر کتابونو کې هم راټولې شوې. په پښتو کې دځینو نورو ژبو په څېر ټوکې ځانګړي کرکټرونه هم لري. لکه ملا نصرالدین چې کله دټوکو پروخت دیوه نامعلوم او یا ناپېژاندي کرکټر په توګه مطرح دی. ځینې وایي ملا نصرالدین، چې کله په ملا نصیرالدین هم یادېږي، دایران په اوسنۍ جغرافیه کې زوکړی دی، ځینې یې دهند او ځینې یې بیا دافغانستان بولي.

ځینې نورلوی او واړه کرکټرونه هم لري، لکه دمحمود پاچا لټان، حضرت باز استاد او نور.

په ولسي بڼه دټوکو بڼه کله داسې وي، چې دوه ټوکیان یو پربل دخلکو په وړاندې ټوکې کوي، ځینې داټوکې دوړې بولي. لکه داسې خوله لکه کنډول، داسې خېټه لکه کندو، داسې پوزه لکه ځنګل او ګنې نورې. دسوال وځواب ټوکې اکثرا یو پوره عبارت وي لکه:

داسې تور دی لکه اورلړونی. خوار شې په دا ورانه خوله لکه سورلنډی چې دارې چینګې کړي. په پښتنو کې دې ته ورته ګڼې ټوکې شته، چې ځینې یې راټولې شوې هم دي.

www.sikaraam.com

*په دې اړه وګورئ:*

۱. *د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون:* دغوتۍ خاورې، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۶ لمریز، کابل.

۲. *ټوکې ټکالې:* د محمد مومن پتوال، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۷۰ لمریز، کابل.

۳. *زرینې ځانګې:* د حبیب الله رفیع، د زېري کالنۍ، ۱۳۶۰ لمریز، کابل.

۴. *ولسي مرغلرې:* د سیدا ګل غریبیار، ۱۳۸۵ لمریز، پېښور. او ګڼې نورې ټولګې.

www.sikaraam.com

# متلونه

متلونه منظوم هم وي او منثور هم. منظوم متلونه د نظم په برخه کې معرفي شوي. دلته منثور متلونه یادوو.

مخکې ویل شوي، چې متلونه هغه لنډې ویناوې، ترکیبونه، عبارتونه او یا لنډې او پخې خبرې دي، چې د خبرو د استناد لپاره کارول کیږي. منثور متلونه په پښتني ټولنه کې خورا ډېر دي، چې یو شمېر یې راټول شوي او ګڼ نور لا پاتې دي. هر متل ځانته یوه کیسه لري، چې د همغې په بنسټ رامنځته شوی وي. په ځینو سیمو کې دا کیسې معمولا توپیر هم لري، خو هدف یې یو وي. متلونه د خبرو او عمل د سمون لپاره د بحث په وخت ویل کیږي او خورا اغېزمن رول ښیي.

لکه په ډېرو قصابانو کې غوا مرداریږي

پردی کټ د نیمو شپو وي

د سترو ځای کنګره ده

د بزرګ پوښتنه له ګاونډي نه وکړه

www.sikaraam.com

چې سرژوندی وي، خولۍ ډېرې دي

مه کوه په چا، چې وبه شي په تا

پلار دې سپرو مړ کړ، که پلیو: زموږ له ښې یې ویوست، هریوه چې مړ کړ.

که ډوډۍ پردۍ ده، خېټه خو دې خپله ده

چاړه چې د سرو شي، څوک یې په ګېډه نه منډي

که غر لوړ دی په سر یې لار ده

غر په غره نه ورځي - انسان په انسان ورځي

غل تر کوره مه څغلوه

که غل نه تښتي، مل دې وتښتي

غل هم وايي خدایه، مل هم وايي خدایه!

فقیرانو ته کوځې مه ښایه

پیل چې مړ هم شي، په نس کې یې یو زنګون اوبه ولاړې وي

د زمرو کور بې هډوکو نه وي

له کلي وځه، له نرخه مه وځه

کارغه د زړکې تګ کاوه، خپل یې هېرشو

کارمې د بل خوښ دی، خوراک مې خپل

سل دې ومره، خو د سلو سر نه

کار چې په سلا شي، بې بلا شي.

متلونه ځینو په بېلابېلو بڼو وېشلي. عمده ډولونه یې منظوم او منثور متلونه دي، خو د ډیالوګ په بڼه متلونه، کیسه ایز متلونه، تلمیحي متلونه او په عادي متلونو هم وېشل شوي دي.ورسره

www.sikaraam.com

منثور متلونه کله ، یو ځانګړی اهنګ رابښيي، چې نه پوره نظم وي او نه پوره نثر، بلکې مسجع نثر ته ورته بڼه رابښيي.

ଔଷ୍ଷ

## *د متلونو تفصیل پر نورو سربېره په لاندې کتابونو کې هم کتلی شئ:*

۱. *پښتو متلونه* (له انګلیسي او دري ژباړې سره): دعبدالروف بېنوا تالیف، د پښتو څېړنو نړېوال مرکز، ۱۳۵۸ المریز، کابل

۲. *د متلونو قیصې*: موسی خان شینواری، خپرندوی په خپله، ۱۹۹۹ میلادي، پېښور

۳. *متلونه-متلونه*: دیدار کاکړ، پښتو ادبي ټولنه قلعه سیف الله، ۱۹۹۹ میلادي، کوټه

۴. *روهي متلونه* (بېلابېل ټوکونه): د پروفیسور محمد نواز طایر، پښتو اکاډمي، پېښور پوهنتون، ۱۹۸۰، ۱۹۸۲، ۱۹۸۶، ۱۹۹۲ میلادي، پېښور

۵. *پښتو متلونه*: د تاربرن، د شېر محمد کریمي ژباړه، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۰ المریز، کابل

۶. *ولسي مرغلرې* (لنډۍ، متلونه، ټوکې): د سیدا ګل غریبیار، خپرندوی په خپله لیکوال، ۱۳۸۵ المریز، پېښور

د متلونو په باب په بېلابېلو کتابونو کې دیوې برخې په ډول بحث شوی او ګڼې مستقلې مجموعې یې هم چاپ دي.

www.sikaraam.com

# کیسۍ یا اړونه

کیسۍ یا اړ+اړونه، چې په دري یې چیستان بولي او ځینې ورته ټکونه وایي، په نورو ژبو کې بېلابېل نومونه لري، هم په منظومه بڼه شته او هم په منثوره، سره له دې چې د کیسیو په اړه مو په منظومه برخه کې په پوره تفصیل بحث کړی خو اوس مو چې منثور متلونه وپېژندل، نو باید منثورې کیسۍ هم وپېژنو.

منثورې کیسۍ هم پوښتنې دي چې کله د ماشومانو او کله دلویانو له خوا له یوه بل سره د مقابلې په وخت، د استعداد او ذهن معلومولو په وخت او د تفریح او ساعت تېرۍ په وخت کاریږي.

لکه:

دا به څه شی وي؟

-زما یو شی دی، هرکورته یې څانګې تللي دي.(لمر سترګه)

دا به څه وي؟

-زما یو شی دی، درسته ورځ ګرځي، چې بېګا شي، پسته

www.sikaraam.com

مسته تو شکه ځانته کېږدي (مېږه او مږ)

*او دا به څه وي؟*

چې وږې شي نو غاپي، او چې څه ورواچوې نو غلې شي. سپی نه دی ووایه دا څه دی؟

(ځواب: نس - ګېډه)

دژوندي نه مړی پیدا شي او دمړي نه ژوندی

(ځواب: هګۍ)

زما یو شی دی په تبر نه ماتیږي؟

(ځواب: سیوری)

## *دلا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ:*

*د همدغه کتاب په دویم څپرکي کې د کیسې یا اړ وروستی برخه*

www.sikaraam.com

# اصطلاحات او محاورې

اصطلاحات او محاورې د پښتو ژبې او پښتنو د ژوند یوه مهمه ګړنۍ برخه ده، چې هر کله د خبرو اترو او جرګو - مرکو په وخت لکه د متلونو په څېر کارول کېږي. اصطلاحات اکثره وخت نیمګړي عبارتونه وي، خو پاخه او د کار لفظونه لري، چې د خبرو داستناد او په خبرو کې د یوې کیسې په یادولو لپاره کارول کېږي.
اصطلاحات ډېری وخت مستعاره مانا ښندي او پخې خبرې دي. ځینې اصطلاحات سیمه ایز وي او ځینې یې د سیمو د بېلتون په وخت بېلې ماناوې لري. لکه:
په جامو کې نه ځاییدل (په خبرو کې د کارونې په وخت په دې بڼه: په جامو کې نه ځاییږم)، هغه، چې ډېر خوشاله وي.
داسمان ستورې شمارل، په دې توګه، چې یو څوک ناممکن کار ممکنوي. دې ته ورته بله اصطلاح بیا داسې هم شته، داسمان

www.sikaraam.com

شنو ته خېژول، یعنې ډېر په تکلیف او ستونزو اخته کېدل، یا اخته کول.

زړه اچول، په یوه ستونزمن کار پسې زړه بایلل او ناروغه کېدل. ګزک کول، چې یوه مسله له ځو پلوه له ستونزو سره مخ شي. له زانګو نه کټوري غوښتل، ناممکن کار چې ترسره کېدی نه شي، خو کوونکی یې په هڅه کې وي. کله-کله د یوې مسلې په باب څو ډوله اصطلاحات موجود وي، لکه د ناممکن کار د کېدا لپاره د هوسۍ په ښکر کې کېدل، پلانی مسله د هوسۍ په ښکر کې ده. پنډزي (پنځه ډزي) خلاصول. پلانی هسې پینډزي خلاصوي، مانا دا چې په خبرو کې ډېر دروغ وايي. ګورګورې ځنډل، مانا دا چې څوک پرچا ډېر نازېږي او د ستونزې پروخت یې مرستې ته په تمه وي. که څوک د دغه نظر مخالف وي، بیا وايي، په پلاني ګورګورې مه ځنډه، مانا دا چې ډېر پرې مه نازېږه، د و مره ارزښتمن نه دی.

*ځینې نور اصطلاحات دا دي:*

لاس لنډول- پوزه پرې کول- لاس اچول- لاس پورته کول-لاس ورکول-لاس ترزنې کېناستل-لاس پاکول-لاس مې تنګ دی.

اصطلاحات له ژوند سره مله رااوان دي، ځینې زاړه اصطلاحات نویو هغو ته ځای پرېږدي، څو مره چې ژوند پرمختګ کوي، اصطلاحات او تعبیرونه هم بدلیږي او نوي کیږي.

www.sikaraam.com

*دې لپاره وګورئ:*

۱.*زرینې څانګې*: د حبیب الله رفیع، زېرې جریده، ۱۳۶۰ المریز کابل.

۲.*پښتو اصطلاحات او محاورې*: د محمد ګل خان مومند، پښتو ټولنه، ۱۳۲۰ المریز، کابل.

۳.*د پښتو شفاهي ادبیات شکل او مضمون*: د غوټۍ خاورې، د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲ المریز، کابل

۴.*فوکلور مجله* (کابل): د بېلابېلو لیکوالو او څېړونکو لیکنې.

۵.*ژبپالنه*: د حبیب الله رفیع، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۱، کابل.

ځینې نور کتابونه هم په دې برخه کې لږ و ډېر یادونې لري، خو لا تر اوسه ورته منظم کار نه دی شوی.

# تشبیهات او استعارې

تشبیهات او استعارې د پښتو او خبرو پروخت کارېږي.او اصطلاحاتو ته ورته دنده ترسره کوي. دداغه بڼې خبرو نوم (تشبیهات او استعارې) په ولس کې په همدې نامه نه یادېږي، بلکې هلته دعامو خبرو په لړکې شمېرل کېږي.

لکه دباد بڼکه، پلانی یې دباد بڼکه کړ، یعنې دبڼکې په شان یې سپک کړ. دسپی په کاسه کې یې اوبه ورکړې، یعنې ډېر یې خپه کړه. په پوزه مچ نه پرېښودل، یعنې داچې سمه خبره هم نه اوري. اسمان په ترینګلی وهل، یعنې داچې ډېر مغروره کېدل.دحلوا دخوراک کېدل، مانا داچې یوڅوک ډېر وهل ټکول وخوري. ځینې وخت تشبیهات په مخکنیو پښتو پورې په تړاو ویل کېدی شي. دانو دبلدو او اشنا کسانو ترمنځ وي، چې پخوا کومه پېښه تېره شوې وي او دوی یې یادوي.دغه ډول تشبیهات کله عام نه وي او یوازې په هماغه اړونده کسانو اړه مومي، چې په

www.sikaraam.com

یوه پېښه یا مسله کې سره ښکېل وي. ځینې وخت تشبیهات او استعارې ، اصطلاحاتو او محاورو ته ورته وي. په دې برخه کې نورې څېړنې ضرور دي.

ددې لپاره کتلای شئ:

۱.زرینې ځانګې: د حبیب الله رفیع، زېرى جریده، ۱۳۶۰لمریز، کابل


www.sikrnaam.com

# تکیه کلامونه

تکیه کلامونه هم د پښتو ولسي نثر یوه لنډه بڼه ده، چې معمولا د خبرو په وخت د هرچا له خوا کارېدی شي. تکیه کلامونه، کله خبروته د پام اړولو لپاره وي او کله د عادت له مخې کارېږي. تکیه کلام د هرچا بېل وي، خو داسې هم نه ده، چې ارومرو به هرڅوک یو نوی تکیه کلام لري. ځینې تکیه کلامونه یو وي، خو بېلابېل خلک یې کاروي، ځینې بیا په لږ بدلون د نورو په خولو کې وي. کله تکیه کلامونه بې مانا خبرې وي او کله مانا هم لرلی شي. لکه:

تاسره خدای په نېکې چارې مل شه! غوږ باسه، چې دی نو - تاته دې وویل شي - هسې خوشې چتي - مړه ته پربږده یاره !هسې ما وی چې !

په پښتو کې د تکیه کلامونو زښتې ډېرې بیلگې شته، چې

www.sikaraam.com

د سیمو له مخې کله یو له بل سره تو پیرونه هم لري.

*دتکیه کلامونو په باب لا پوره کار نه دی شوی، یو لړ خه چې یاد شوي دهغو لپاره وګورئ:*

۱. *زرینې څانګې*: د حبیب الله رفیع، زېری جریده، ۱۳۶۰المریز، کابل.

۲. *دپښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون*: دغوثي خاورې، دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۲المریز، کابل.


www.sikandaram.com

# دعاوې او ښېراوې

دعاګانې او ښېراوې هم د پښتنو دولسي ګړنې نثر یوه برخه ده.
دښو او بدو پېښو په وخت یې پښتانه او پښتنې کاروي. لکه:

خدای دې درباندې تود باد هم نه لګوي
خدای دې ولې کبلې که
خدای دې تاترین دوزخ ځای که
خدای دې ګورکې په ځلورې که
ځوانیمرګ شې
سلاسل شې،
تبا او برباد شې
کور دې دکنډۍ جومات شه
کور دې دغنمو ډک شه
بېخ دې شین شه یا بېخ دې ووځه

www.sikaraam.com

# ستړي مه شي او مخه ښه

ستړي مه شي او مخه ښه هم په پښتنو کې کله ځانګړې اصطلاحات او ترکيبونه وي، چې دژبې سوچه او کره برخه ده او د دود له مخې په ټولو پښتني سيمې کې شته، خو کله يو له بل سره تو پيرونه هم ښيي.

لکه:

جوړ په خير- جوړ تازه -وه په خير -راورسېدې جوړ زما خيال دی-

خدای دې مل شه - ځه الله دې مل شه -بيا به سره ګورو- ايله بيله چې لاردې غلطه کړه

دالمر له کومې راوخوت- مور به منګی واړوو، چې پلانی راغی!

دمخې دې رڼا شه !په مخه مو زېړي ګلونه

ستړی مه شې – ته ستړی مه شې او نور

www.sikaraam.com

# القاب او صفات

په پښتني ټولنه کې ځينو هغو خلکو ته چې يوه پېښنه يا يوه کيسه ورپورې اړه مومي، ځانګړي القاب او صفات هم کارېږي. دا معمولاً دياد شخص له حال او چار سره ورته وي. لکه څوک چې ډېر مغروره وي، ورته وايي: دا ډېر کاکه ده. هغه، چې په ځان او کاليو ډېر پام کوي او درون او سخت کار نه کوي ورته وايي: دی کالي په ترينګلي. خنډي ! پلانی د سرې زوی نه دی !

ځينې دا ډول اصطلاحات کله د ټوکو په بڼه وي او کله هم دليکلو وړ نه وي.

www.sikaraam.com

# نومونه

په ځينو پښتنو کې نومونه هم دځانګړي ذوق له مخې ايښودل کيږي، که څه هم دا ذوق به بيا دځينو نورو نه خوښيږي. په ځينو سيمو کې دماشوم دنه پاتې کېدو په وجه او يا هم دماشوم دګرانښت په وجه په بېلا بېلو بڼو نومونه وي. لکه: بله نسته، بس لاله، پاتې شاه، بس نوره

او دګل ترکيب په نارينه او ښځينه نومونو کې. لکه دنارينه وو لپاره: انارګل، شين ګل، سورګل، محمد ګل، او په ښځينه وو کې: ګلخانګه، ګلبشره، ګلۍ، ګليسواره

www.sikaraam.com

او عام نومونه لکه، غمی، ببری، زرڅانګه، زرلښته، ململه، تالېمنه.

ځينې وخت اصلي نوم په بدله او لنډه بڼه اړول کيږي. لکه:

محمد شاه خان په مچا خان ، خان په خاني او زينب په زينوګی او نور.

په پښتني ټولنه کې دغو ته ورته ګڼ نومونه موندی شو.

www.sikaraam.com

# روایات

دتــاریخي، ملــي او نــورو ولســي پېښــو پــه بــاب ځــانګړي روایتونه، چې کله خو، له عقل او فکر نه لیرې هم وي او کله بیا معقول او رښتیا. مثلاً کافر غونډۍ، چې اصلاً دننګرهار په کامه کې موقعیت لري، په دې باب دیادې سیمې ښځینه بېلابېلې کیسې او روایتونه لري، چې نکلونه او وړې کیسې نه دي، خو دیوې مخکینۍ پېښې یا موجود په باب ځانګړي افکار راښیي:

*په پخوانیو زمانوکې کافران زمونږ سیمې ته راغلي وو، دلته یې ځای په ځای داسې ځایونه جوړ کړي وو، چې هم په کې دوی وسېدل، هم یې په کې خپل دکفر عبادت کاوه او...*

څېړندوی رفیع، عقیدې او اندود هم یو ځانګړی ژانر ښوولی، خو فکر کیږي، چې دا به هم دروایاتو یوه برخه وي. لکه دلمر او سپوږمۍ او یا دنورو طبیعي موجوداتو په باب دخلکو عقیدې او فکرونه، چې ولې رامنځته شوي؟ دکومې اړتیا له مخې خدای

www.sikaraam.com

تعالی پلانی شی پیدا کړي. ـ ـه کله دا اوړدې کیسې وي او کله په کې خرافي مسایل هم کتل کېدی شي.

دغه راز د رمزونو او کنایو په باب هم وایي، چې داسې یو ژانر هم شته او د پخوانیو نکلونو په منځ کې یې ځینې برخې راغلي دي.

په پښتو فوکلوریکو نثرونو کې ګڼې نورې برخې هم شته، چې لا څېړل شوي نه دي او کېدی شي، چې مو ړ ته د نویو ژانرونو او ډولونو بڼې وښيي. هیله ده یو وخت په دې باب پښتانه څېړونکي او ځوانان ژورې څېړنې وکړي.

ΩΩΩ

*یو ر ته یادشوي ډولونه:*

تشبیهات او استعارې، تکیه کلامونه، ستړي مه شي، دعاوې –ښېراوې، القاب او صفات، نومونه، روایات، عقیدې او اندودونه په دغه ددو اثارو کې لړ څه یاد شوي:

۱. *زرینې ځانګې*: د حبیب الله رفیع اثر، زېری جریده، ۱۳۶۰ المریز، کابل.

۲. *د پښتو شفاهي ادبیاتو شکل او مضمون*: د غوتۍ خاورې، د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲ المریز، کابل

www.sikaraam.com

# وروستۍ خبرې او وړاندیځونه[۱]

پښتو فوکلور یو ارت او ویړ ډګر لري پښتانه، چې لا تر اوسه یې په لرو برکې دنفوسو پوره او کره شمېر جوت نه دی، څه نا څه څلوېښت میلیونه اټکل شوي، دا څلوېښت میلیوني ملت چې انګلیسي استعمار څه د پاسه یوه پېړۍ مخکې دډېورنډ د کرښې په وسیله په غیر طبیعي بڼه د خپلو ګټو لپاره بېل کړی، په خپل

---

۱. وړاندیځونه یا وړاندیځ

په پښتو او ځینو خویندو ژبو کې یو شمېر تکي د «ي» په زیاتون، نسبتي بڼه خپلوي په دري ژبه کې پېشنهاد، پېشنهادي. شرق، شرقي غرب، غربي، معمولې کلیمې دي، چې هره یوه یې جلا مانا لري، خو په پښتو کې ځینې کلیمې بیا داوړنه شي ادا کېدی او ژباړه یې هم له ستونزو سره مخ وي

ددغو تکیو د سمون لپاره یوه پښتانه لیکوال (امین الله دریځ) داسې وړاندیځ کړی و:

پېشنهاد = وړاندیځ

پېشنهادي = وړاندیز

شرق = ختیځ

شرقي = ختیز

غرب = لویدیځ

غربي = لویدیز

ما ته هم له هغه مهاله دا وړاندیځ معقول و بریښېد او له هم هغه مهاله مې یې په ذهن سیوری خپور کړی، ځکه مې نو پېشنهاد = وړاندیځ او جمعه وړاندیځونه ولیکل.

[ستوري د ادب په اسمان کې (تذکره) ۱۱۲ م مخ]

www.sikaraam.com

ژوند انه کې راز-راز ښېگڼې، بدګڼې او لاسته راوړنې لري. پښتنې ټولنه، چې تراوسه يې لا ډېره برخه له سواد نه محرومه ده، په خپل ژوند کې بېلابېل فکرونه، خيالونه او احساسات توليد کړي، چې ځينې يې اوچت ادبي مقام لري او ځينې يې ادبيات نه دي، خو د عمومي بشري پېژندنې او ددود و کولتور د مطالعې په برخه کې مهم ارزښت لري.

پښتنو د نورو ولسونو غوندې، د ژوند لوړې ژورې تېرې کړي، مبارزې يې کړي، تاريخونه يې جوړ کړي او اتلولۍ يې زېږولې. پښتانه لا تراوسه له مدني ښېگڼو بې برخې دي. پخوا تردې لا ډېر بې برخې وو، دغه نامدنيتوب دوی اړ کړي، چې د ګړنيو وييناوو په مرسته خپل احساسات، خيالونه او فکرونه نورو ته ورانتقال کړي. څرنګه چې ترپرونه يې ورځپاڼې او نور رسنيز وسايل نه لرل، ګړنيو وييناوو د دوی دا برخې بشپړې کړي. فوکلور د بې سواده ذهنيتونو او دلاس ناخوړليو فکرونو زېږنده وي او پښتانه لا تراوسه د همدغه ډول يوه اندود خاوندان دي.

په دغه کتاب کې د همدغسې يوه فکر په رڼا کې پښتنې فوکلور معرفي شوی او ددې لپاره چې د زده کوونکو لپاره تدريسي ارزښت ومومي، نو ژبه يې ساده او روانه ده او د څېړنې پرځای په کې تر ډېره تدريسي مېتود په پام کې ساتل شوی دی.

په دغه کتاب کې لومړی د فوکلور عامه معرفي او په دې اړه د کورنيو او بهرنيو پوهانو نظريات راټول شوي بيا فوکلوريک ژانرونه په عامو او خاصو بنو وېشل شوي. په عامو کې هغه

www.sikaraam.com

ژانرونه ښوول شوي، چې شاعران یې معلوم نه دي او په خاصو کې هغه، چې شاعران یې معلوم دي. بیا ولسي نثرونه راپېژني.

په دغه کتاب کې فوکلور او فوکلوریک ادبیات د دوه سره نښتو او په هممهال، سره جلا پدیدو په توګه پېژنو. یعنې یو عام فوکلور دی او بل فوکلوریک ادبیات. ادبیات یې هغه برخه ده، چې د ښکلیو خیالونو، هنري ارزښتونو او د ښکلا پېژندنې د معیارونو ځینې برخې په کې کتی شو، خو تولیدوونکي (ولس) لا په دې نه دی پوه، چې دا ارزښتونه څه دي، بلکې، په تصادفي بڼه یې تولید کړي. دلته دوه اړه برخې ځکه لږ څه ګډې ښکاري، چې نه شو کولی منظوم فوکلوریک ژانرونه یو له بله سره جلا مطالعه کړو. خو لږ ترلږه دا شوي، چې کومې برخې یې ادبیات یا ادبیاتو ته نژدې ارزښتونه لري.

دا کتاب سره له دې چې ټولوونه ده او د مخکنیو لیکل شویو اثارو په رڼا کې لیکل شوی، خو ورسره ځینې نوي نظریات هم وړاندې کوي. مثلاً د فوکلور او فوکلوریکو ادبیات ترمنځ د بیلتانه کرښه ایستل.

نوی ژانري وېش، په زیاترو هغو کتابونو کې چې فوکلور راپېژني، وینو، ځینې ژانرونه داسې وو، چې په اصل کې باید «یو» وګڼل شي، خو په جلا بڼه راپېژندل شوي. په دغه کتاب کې هڅه شوې، د علمي او سیستماتیکو نظریاتو په رڼا کې یو ژانر په بل ورننه نه وزي.

کتاب پر سریزې سربېره منظم اځلیک لري، تروسه وسه


www.sikaraam.com

هڅه شوې، د فوکلور په اړه موجود ټول اثار مطالعه شي او له ټولو دنتیجې اخیستنې یا پایله نیوي په توګه لنډ او جامع معلومات وړاندې شي.

ددې لپاره چې زده کوونکو ته اسانه شي، دهر ژانر ترپېژندنې وروسته هغه کتابونه هم یاد شوي، چې لږو ډېر دیاد ډول یا ځېل په اړه په کې معلومات کتل کېدی شي.

## وړاندیځونه:

- د افغانستان د پوهنتونونو زده کوونکي باید د فوکلور دمضمون په اړه یوازې ددغه کتاب په منځپانګه بسنه ونه کړي، بلکې هغه اثار چې تردې وړاندې لیکل شوي او په حقیقت کې پرې زموږ د فوکلور ستنې ولاړې دي، ترلاسه یې کړي، وې لولي او په اړه یې کره کتنې وکړي او خپله مطالعه پراخه کړي.

- د پښتني فوکلور مینه وال زده کوونکي باید له خپلو سیمو او ولس نه د فوکلور راټولولو په کار کې سترپا ونه پېژني او باید ه دي، چې په پوره امانتدارۍ د فوکلور ژغورنې او ثبتونې په کار کې ونډه پراخه کړي.

- د افغانستان پوهنتونونه باید، چې د فوکلور پېژندنې دارزښتونو د ساتنې لپاره په خپل چوکاټ کې د زده کړې عملي شرایط هم رامنځته کړي. د فوکلور اړونده ځینې وسایل، انځورونه او پام وړ ځیزونه له یوې خوا وژغوري او له بلې خوا زده کوونکو

ته په کې د عملي زده کړې لارې چارې پرانیزي.

- د افغانستان پوهنتونونو ته په کار دي، چې د فوکلور مضمون د ښه تدریس او زده کړې لپاره د ادبیاتو پوهنځي زده کوونکو ته د لرو سیمو د سفرونو او کتنو لارې چارې برابرې کړي.


www.sikaraam.com

# اخځلیک

*(له کوموا اخځونو چې مخامخ اخیستنې شوي، په متن کې دوه ځایه ښوول شوي-دلته دهغو په ګډون، هغه نورا اخځونه هم ورګډ شوي، چې مخامخ اخیستنې ترې نه دي شوي او یوازې کتل شوي.هغه کتابونه، چې لیکوال او مدون یې معلوم نه دی او یا خپرونې (مجلې) دي، په پیل کې یې دکتاب او اثر نوم راځي.)*


۱. آریانا(مجله): دافغانستان دتاریخ ټولنه، د۱۳۴۵م لمریز کال کلیکسیون، کابل

۲. احمد رنجبر(ډاکټر):روش تحقیق و ماخذ شناسي، اساطیرخپرونې، ۱۳۶۸لمریز، تهران

۳. اخون میر حسن(احسن بابا): چاربیتې، پښتو ادبي ټولنه خویشکي، ۲۰۱۲میلادي، پېښور

۴. ادب (مجله+دري): دکابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځی، د۱۳۳۳لمریزکال کلیکسیون


www.sikaraam.com

۵. اسدالله شعور(دکتور): مفاهمه شفاهي وسیر تاریخي ان درافغانستان، دژورنالستانو اتحادیه، ۱۳۶۷المریز، کابل

۶. اصف بهاند: دکوچنیانو ادبیات، دچاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ۱۳۶۶ل کابل.

۷. افغانستان(کتاب): اریانا دایرة المعارف،۱۹۵۸-۱۳۳۷، کابل

۸. اورنګزېب ارشاد: بدیع او د پښتو شعر، دانش کتابخانه، ۱۳۶۹المریز، پېښور

۹. اولس (مجله): کوټه، د۱۹۹۲میلادي کال بېلابېلې ګڼې

۱۰. برکت الله کمین مجددي:دعشق سوغات-دکمین کلیات(دپروفیسورخدمتګار په زیار)،خپرندوی نه ښيي، ۱۳۹۱المریز، کابل

۱۱. پرویزبابایي(راټول وونکی او لیکونکی):فرهنګ اصطلاحات فلسفه(انګلیسي-فارسي)دویم چاپ، نګاه خپرندویه ټولنه،۱۳۸۲، تهران

۱۲. پښتانه(کتاب-دویم ټوک):میاخان اپریدی(مهتمم)، دقبایلو مستقل ریاست؟،۱۳۵۰المریز، کابل

۱۳. پښتو-پښتو تشریحي قاموس:دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۵المریز، کابل

۱۴. پښتو څېړنې(کتاب):پښتو ټولنه، ۱۳۵۲المریز، کابل(دسیمینارد مقالو ټولګه)

۱۵. پښتو لنډۍ(کتاب): دافغانستان دعلومو

www.sikaraam.com

اکاډمي(پښتوټولنه)، ۱۳۶۴لمريز
۱۶. پېښور (مجله): پېښور پښتو ادبي جرګه، د۲۰۱۱م او ۲۰۱۲م کال بېلابېلې ګڼې، پېښور
۱۷. تاريرن(د شېرمحمد کريمي ژباړه): پښتو متلونه، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۰لمريز، کابل
۱۸. جېم دارمستېټر: د پښتونخوا د شعرهار وبهار(دريم چاپ)، ۱۳۵۲، پښتوټولنه، کابل
۱۹. جنزانولډسن: سپوږميه کړنګ وهه راخېژه !، ۱۹۲۹ ميلادي، پېښور
۲۰. جميل صليبا(ډاکټر): فرهنګ فلسفي، (ژباړن: منوچهر صانعي دره بيدی)، حکمت خپرونې، ۱۳۸۱لمريز، تهران
۲۱. حبيب الله حاج پښتونزوی: د ادبي تيورۍ درسي لکچرنوټ (ماسټري دوره)، کابل پوهنتون، ۱۳۹۰لمريز
۲۲. حبيب الله رفيع: دخلکوسندرې، دافغانستان د تاريخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹لمريزکابل
۲۳. حبيب الله رفيع: ژبيالنه، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۱لمريز، کابل
۲۴. حبيب الله رفيع: زرينې څانګې، زېرى جريده، ۱۳۶۰لمريز، کابل
۲۵. حبيب الله رفيع: کتابونه دريابونه، دساپي دموقوفاتو اداره، ۱۳۷۶ل=۱۹۹۷م، پېښور
۲۶. حبيب الله رفيع، دهوتکو نارې،(خپرندوی نه ښيي)،

www.sikaraam.com

۱۳۴۹المریز، کابل
۲۷. حسن عمید: فرهنګ فارسي عمید ،امیر کبیر خپرندویه موسسه، ۱۳۷۷المریز، تهران
۲۸. حنیف خلیل: مختصر تاریخ زبان وادب پشتو، مقتدره قومي زبان اداره، ۲۰۰۹میلادي، اسلام اباد
۲۹. خاطرا پریدی: دخاطر کلیات، (خپرندوی نه لري)، ۱۹۹۹میلادي، پېښور
۳۰. خان خادم کوچی: کوچیانۍ پانګه، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹المریز، پېښور
۳۱. داورخان داود(پروفیسور): پښتو ټپه، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۹۵میلادي، پېښور
۳۲. داورخان داود(پروفیسور): پښتو فوکلورکې اړ، (خپرندوی په خپله لیکوال)، ۱۹۹۷میلادي، پېښور
۳۳. دوست شینواری (سرمحقق): زړه پانګه(لومړی ټوک)، دافغانستان دعلوموا کاډمي، ۱۳۲۱المریز، کابل
۳۴. دوست شینواری(خېړنوال): دپښتو دولسي ادب لارې، ۱۳۵۲المریز، کابل
۳۵. دوست شینواری(سرمحقق): داد ب دتیورۍ اساسونه، دچاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ۱۳۶۵المریز، کابل
۳۶. دیدار کاکړ: متلونه-متلونه، پښتو ادبي ټولنه قلعه سیف الله، ۱۹۹۹میلادي، کوټه
۳۷. زلمی هېوادمل(سرمحقق): بیدیاني ګلونه، دافغانستان

www.sikaraam.com

دعلومو اکاډمي؟١٣٦٢المريز، کابل
٣٨. زلمی هېوادمل(سرمحقق):دپښتو ادبیاتو تاریخ(لرغوني او منځنی دورې-لومړی ټوک)، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۰م ميلادي کال، پېښور
٣٩. زلمی هېوادمل: دپښتو ادبي تاریخ دمنابعو پېژندنه او ارزيابي، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ١٣٦٧المريز، کابل
٤٠. زلمی هېوادمل: دفولکلورپوهنې سمپوزیم (د مقالو مجموعه)، دافغانستان دعلومو اکاډمي-دژبواوادبیاتو مرکز، ١٣٦٢المريز، کابل
٤١. زلمی هېوادمل: ولسي سندرې(لومړی، دويم او دريم ټوکونه)، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ١٣٦١، ١٣٦٢، ١٣٦٩المريز، کابل
٤٢. زلمی هېوادمل: پښتو ولسي ادبيات، دساپي دموقوفاتو اداره، ١٣٧٢المريز، پېښور
٤٣. زلمی هېوادمل: فرهنګ ادبيات پښتو(دريم ټوک)، دچاپ او خپرونو دولتي کومېټه، ١٣٦٢المريز، کابل
٤٤. دزيري کالنی (١٣٦٠):زيری جريده، ١٣٦٠المريز، کابل (دمقالو ټولګه)
٤٥. دزيري کالنی( ١٣٦٣):، زيری جريده، ١٣٦٣المريز، کابل (دمقالو ټولګه)
٤٦. س(سيداګل) غريبيار- کامه وال: ولسي مرغلرې، خپرندوی په خپله ليکوال، ١٣٨٥المريز، پېښور

www.sikaraam.com

۴۷. سراج الدین سعید او مولوي صالح محمد هوتک: تذکرة الشعرا، هېواد ورځپاڼه، ۱۳۶۲ میلادي، کابل
۴۸. سلمی شاهین: د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، پښتو اکاډمي-پېښور پوهنتون، ۱۹۸۹-۱۹۸۸، پېښور.
۴۹. سهیل انشا (ډاکټر میا): اوبلم پهلا قدم (اردو)، یونیورسټي پبلشرز، ۲۰۰۹ میلادي، پېښور
۵۰. سیال کاکړ (پروفیسور): انګۍ، پښتو ادبي بورډ کوټه، ۱۹۸۷ میلادي، کوټه
۵۱. سیال کاکړ (پروفیسور): پښتني افکار، اسلامیه پریس کوټه؟
۵۲. سیال کاکړ (پروفیسور): د کسي دلمنې پښتانه لیکوال (لومړی ټوک)، پښتو ادبي دنیا، ۱۹۷۴ میلادی، کوټه
۵۳. سید تسنیم الحق کاکاخېل: روح ادب، پښتو اکاډمي-پېښور پوهنتون، ۱۹۸۷ (؟) پېښور
۵۴. سید خیر محمد عارف: دغاړو ادبي خبرنه، پښتو ادبي ملګري لورلای، ۱۹۹۵ میلادي، کوټه.
۵۵. سید محمود کارګر: پښتو ژبه (درسي کتاب)، د ښوونې او روزنې وزارت، ۱۳۲۷ المریز، کابل
۵۶. سید محی الدین هاشمي: د لیکوالۍ فن، میرویس خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳ المریز، پېښور
۵۷. سید نظیم سیدی (څېړنیار): زرچاڼ، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱ المریز، جلال اباد

www.sikaraam.com

۵۸. صدیق الله رښتین(پوهاند ): پښتني لارښود، ګودر خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ المریز، جلال اباد
۵۹. طه ندا(ډاکټر-لیکوال)دډاکټر زهرا خسروي ژباړه: ادبیات تطبیقي(الادب المقارن-اصلي عنوان)، فرزان خپرونې، ۱۳۸۰ المریز، تهران
۶۰. عبدالحلیم اثر افغاني (قاضي): باغ وبهار، پښتو اکاډمي-پېښور پوهنتون، ۲۰۰۲ میلادي، پېښور
۶۱. عبدالرحیم مجذوب:دمروتو کسرونه، پښتو اکاډمي-پېښورپوهنتون، ۱۹۵۹ میلادي، پېښور
۶۲. عبدالرسول بیات:فرهنګ واژه ها(دویم چاپ)، «اندیشه وفرهنګ دیني» موسسه، ۱۳۸۷ المریز، تهران
۶۳. عبدالروف بېنوا:پښتو متلونه، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۵۸ المریز، کابلب
۶۴. عبدالروف بېنوا:پښتونستان، ۱۳۳۰ المریز، پښتو ټولنه، کابل
۶۵. عبدالقدیم پتیال: نتلی لیکوال، دکندهار داطلاعاتواوفرهنګ ریاست، ۱۳۹۰ المریز، کندهار
۶۶. عبدالکریم پتنګ: فولکلوري ملغلرې، پښتوټولنه، ۱۳۵۲ المریز، کابل
۶۷. عبدالکریم پتنګ: دغرونو څوکې، دفلالوژۍ پوهنځی(اوسنی، دژبو او ادبیاتو پوهنځي)کابل پوهنتون، ۱۳۵۹ المریز، کابل

www.sikaraam.com

۶۸. عبدالکریم پتنګ: ګړنی ادب، عرفان مجله، ۱۳۵۷، کابل
۶۹. عبدالکریم پتنګ: پښتو منظومې قیصې، زیری جرید، ۱۳۵۷، کابل
۷۰. عبدالله بختانی خدمتګار(څېړندوی): پښتو چاپي اثار-په دوو تېرو پېړیو کې، د اطلاعاتو او کولتور وزارت، ۱۳۵۷المریز، کابل
۷۱. عبدالله بختانی خدمتګار: تورېرېښ، پښتو ټولنه، ۱۳۴۷المریز، کابل
۷۲. عبدالواحد ټېکدار: چاربیتې، پښتو ادبي بورډ، ۱۹۹۷میلادي، پېښور
۷۳. عربعلي رضایي: واژګان توصیفي ادبیات، (انګلیسي-فارسي)، فرهنګ معاصر، ۱۳۸۲المریز، تهران
۷۴. علي محمد سوبمن: فولکلوري ګېډۍ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۵، کابل
۷۵. علي محمد منګل: فولکلوري ګلونه، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۰المریز، کابل
۷۶. علي محمد منګل(سرمحقق): ګلونه په لنډیو کې، (خپرندوی په خپله لیکوال)، ۱۳۹۱المریز، کابل
۷۷. علي محمد منګل(سرمحقق): د ولسي ادب لهجه سوتل، خپرندوی نه لري، ۱۳۹۱میلادي، کابل
۷۸. غلام حسین بیوس: ولسي لوبې، بیفیرجي ټي زیډ موسسه، ۱۳۷۸المریز، پېښور

www.sikaraam.com

۷۹. غلام حضرت روغمن: د ماشوم ګلونه، د افغانستان دليکوالو انجمن، ۱۳۶۷المريز، کابل
۸۰. د /غلام محي الدين افکار او اثار(د سيمنار د مقالو ټولګه): دزلمي هېوادمل په زيار، کابل پوهنتون، ۱۳۶۰المريز، کابل
۸۱. غوټۍ خاورې: د پښتو شفاهي ادبيات شکل او مضمون، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۶المريز، کابل
۸۲. غوټۍ خاورې: دننګرهار نکلونه، د افغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۸المريز، کابل
۸۳. فضل مير ختک: فضليات(د پښتو ادبي اصطلاحات)، حيات بک ډيپو کرک، ۱۹۹۹ميلادي، پېښور
۸۴. فولکلور مجله: د اطلاعاتو او کولتور وزارت، د ۱۳۵۲-۱۳۵۳المريزو کلونو ببلا بېلې ګڼې، کابل
۸۵. قلندر مومند -فريد صحرايي: درياب (قاموس)، د پښتونخوا د پوهنې اداره(nwfp text book board)، ۱۹۹۴ ميلادي، پېښور
۸۶. کابل(مجله): دعلومو اکاډمۍ دژبو او ادبياتو مرکز خپرونه، د ۱۳۶۶م لمريز کال بېلا بېلې ګڼې، کابل
۸۷. لطيف بهاند (دکتور+ ژباړن): کلتور پوهنه، د افغانستان علمي تحقيقاتي مرکز، ۱۹۹۹ميلادي، مسکو
۸۸. مجاور احمد زيار(پوهاند دکتور): پښتو شعر څنګه جوړېږي، د اطلاعاتو او کولتور وزارت، ۱۳۶۹المريز، کابل
۸۹. مجموعه مقالات سومين جشنواره ادبيات معاصر

www.sikaraam.com

افغانستان (کتاب): د افغانستان قلم ټولنه، ۱۳۸۲لمریز، کابل.
۹۰. محمد ابراهیم عطایي (کاندید اکاډمیسین): د پښتو پرشفاهي داستان یوه تحلیلي څېړنه، د اطلاعاتو او کولتور وزارت، ۱۳۷۰لمریز، کابل.
۹۱. محمد اسرار اتل: زیړ مازیګری په پېښور کې دی، محمد وسیم وسیم «اشناکور» باغ حرم – مردان...، ۲۰۱۲میلادي، پېښور
۹۲. محمد اسماعیل یون: د پښتو شعر هندسي جوړښت، دژبو او ادبیاتو پوهنځی -کابل پوهنتون، ۱۳۷۷لمریز، کابل.
۹۳. محمد افضل بنووال (پوهاند دوکتور): فولکلور شناسي، انتشارات سعید، ۱۳۸۹لمریز، کابل
۹۴. محمد انور نومیالی: د پښتنو د ټولنیز تاریخ مبادي، (خپرندوی: په خپله لیکوال)، ۱۹۹۰میلادي، (لیکنه)، ۱۹۹۷میلادي(چاپ)، مسکو
۹۵. محمد پرویش شاهین: د پښتنو ژوند ژواک، شعیب سنز پبلشرز، ۱۹۸۹میلادي، سوات پښتونخوا.
۹۶. محمد داود وفا: د ننګرهار فرهنګي بهیرته یوه کتنه، د افغانستان د مطالعاتو مرکز، ۱۳۷۷لمریز، پېښور
۹۷. محمد رحیم الهام (د اکاډمیسین کاندید): ادبي مسالې، د افغانستان د لیکوالو انجمن، ۱۳۶۷لمریز، کابل
۹۸. محمد صادق ژړک: په کاکړیو غاړو کې د پښتو سوچه توري، پښتو ادبي غورځنګ کوټه، ۱۳۸۴لمریز، کوټه
۹۹. محمد صادق ژړک: کاکړۍ غاړې، پښتو ادبي غورځنګ


www.sikaraam.com

کوټه، چاپکال نه لري، کوټه
۱۰۰. محمد صدیق روهي (څېړندوی): دادب او فولکلور په باره کې، د چاپ او خپرونو دولتي کومېټه(پښتوټولنه)، ۱۳۶۲ لمریز، کابل
۱۰۱. محمد صدیق روهي (څېړندوی): فولکلور پېژندنه، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۵ لمریز، کابل
۱۰۲. محمد صدیق روهي(داکاډمیسین کاندید ): شعرپېژندنه، ناهید کتاب خپرولو موسسه، ۱۹۹۲ میلادي، پېښور
۱۰۳. محمد عارف غروال:غرنۍ سندرې، پښتوټولنه، ۱۳۶۰ لمریز، کابل
۱۰۴. محمد فاضل شریفي(محقق): ادبیات کودک درافغانستان، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۸۸ لمریز، کابل
۱۰۵. محمد فیاض شاداب: دګلستان سندره، دانش کتابخانه ډهکي نعلبندي، ۱۹۹۸ میلادي، پېښور
۱۰۶. محمد مندور(پوهنیار محمد امان صافی-ژباړن):الادب ومذاهبه(دادب ادبي مذهبونه)،رحمانیه پرنټرز، ۱۹۸۲ میلادي، پېښور
۱۰۷. محمد نوازطایر: په پښتو کې دماشومانو سندرې اوصوتونه، پښتو اکاډمي- پېښورپوهنتون، ۱۹۸۲ میلادي(؟)
۱۰۸. محمد نوازطایر:پشتو زبان وادب یک مطالعه(اردو)، پښتو اکاډمي- پېښور پوهنتون، ۱۹۸۸ میلادي، پېښور
۱۰۹. محمد نواز طایر:روهي ادب(اردو)،پښتو اکاډمي-


www.sikandam.com

پېښور پوهنتون، ۱۹۸۷میلادي، پېښور
۱۱۰. محمد نواز طایر(ژباړن)-خواجه الطاف حسين حالي(ليکوال): مقدمه د شعر او شاعرۍ، پښتو اکاډمي- پېښور پوهنتون،۱۹۸۱میلادي، پېښور
۱۱۱. محمد معين (ډاکټر):فرهنگ فارسي معين، شپږ ټوکيز، دويم چاپ، ۱۳۸۲لمريز، نامن خپرونه،تهران(دويم ټوک)
۱۱۲. محمد موسی خان شينواری: د متلونو قيصې، خپرندوی په خپله ليکوال، ۱۹۹۹میلادي، پېښور
۱۱۳. محمد هوتک بن داود: پټه خزانه(دويم چاپ)، د پوهنې وزارت، ۱۳۳۹لمريز، کابل
۱۱۴. مراد شينواری: د خيبر ادب(تذکره): (منظور عام پريس-چاپخې)،۱۹۵۸میلادي، پېښور
۱۱۵. مشتاق مجروح يوسفزی: زرکاني، تاج کتب خانه، ۱۹۹۸میلادي، پېښور
۱۱۲. مصطفی نژدې او محمد اسماعيل سربن:پښتني فولکلور، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۴لمريز، کابل
۱۱۷. ملنگ جان: د وطن د مينې کچکول،(د سيد اکل غريبيار په زيار)، ۱۳۸۵لمريز، پېښور
۱۱۸. مولوي احمد د تنگي: قيصه دادم خان او درخانۍ ( د ډاکټر خالد خان ختک په سريزه او څېړنه)، خالد کتب خانه، ۱۹۹۱میلادي، پېښور
۱۱۹. نورالحبيب نثار:د ماشوم نرۍ، داريک دگرځنده

www.sikaraam.com

کتابتونونو اداره، ۱۹۹۹میلادي، پېښور
۱۲۰. همېش خلیل: د چاربیتي شاعران(دوه ټوکه)، پښتو اکاډمي – پېښورپوهنتون، ۲۰۰۷-۲۰۰۸میلادي، پېښور

## د انګلیسي ژبې کتلي کتابونه:

## The inglesh source:

121. *The Encyclopedia Americana*,(grolier).scholastic library,2003<USA.

122. *Oxford Wordpower Dictionary*,OXFORD University,Fivet Prent ,Jungle Publications Tehran.

123. Kathryn Vanspanckeren :*U.S.A. Literature In Brief* ,New Community Development Organization, 2011, USA.

124. R.Babloyan, ,and M.Shumskaya: *Folktales From The Soviet Union* Imported pub, 1987.

125. Margaret Baker: *Folklore and Customs of Rural England*, David & Charles , 1989.

126. Katharine Briggs – ed: *British Folktales*, Dorset Press 1989.

127. Joseph Brucha, The Return of The Sun: *Native American Tales from the Northeast Woodlands* Crossing Press 1989.

128. Joanna Cole: *Best Loved Folktales of The World* Doubleday Press 1983.

129. Richard Dorson: *Folklore Selected Essays,* Induniv Press, 1972,USA.

130. Richard Dorson: *Folklore and Folklife An Introduction,* Univ of Chicago Press, 1989.

131. Alan Dundes, *Interpreting Folklore*, Ind, Univ Press, 1980, USA.

132. M.Edmonson: *Lore Introduction to The Science of Folklore and Literature,* Holt , 1971.

133. R. ed Claire, *Farrar Women and Folklore, Iimages and Genres,* Waveland Press, 1986, USA.

134. Steven S Jones: *Folklore and Literature in the U.S* , Garland , 1984, USA.

www.sikaraam.com

*Rich national and international resources have been used in writing this book. Pashto department of Language and Literature faculty of Nangarhar University has confirmed the accuracy of the book and acknowledged the effort.*

*I hope this book proves handy to Afghan and foreign students, who are keen to learn about Pashto folklore, as far as introduction of Folklore and Folkloric literature go.*

*Sincerely*

*Muhammad Dawood Wafa*

*Jalalabad*



www.sikaraam.com

# Introduction

This book is about Pashto language's folklore. Pashto is an Arianic language which is closely related with Indo-Arianic and Indo-European languages. Pashto is Pashtun tribe's language and this tribe has been kept busy in war by either themselves or outsiders; this tribe has been kept away from civil, social, political, economic and cultural development, therefore it has rich folkloric literature. Eastern and western world confirmed in researches that Pashto has richer and handier folklore in the region as compared to other languages.

In the recent past, folklore is being studied as a professional subject in Afghan Universities but did not have a suitable lecture book. Despite the fact that many Afghan and Foreign researchers conducted researches in folklore, no organized lecture book was made of these researches.

Author of this book has had the obligation to teach this subject for many years and now due to motivation of the university administration and students, the author finally succeeded to write a book.

Apart from introduction to folklore in which eastern and western researchers' opinions have also been discussed, Pashto's versified and prosaic folklore, especially, those areas that are treated as literature have also been introduced in an organized and sequent manner.

A good characteristic of this is that it discusses recent and former researches and opinions about folklore in details. Pieces, which had no or little ground in folklore and folkloric literature, are discussed and uncovered in details in this book which could be proved interesting to students and public readers.

This book has four units: first unit presents theoretical materials of folklore, second unit discusses common versified genres, third unit covers specified versified genres and fourth unit illustrates prosaic genres.


www.sikardam.com

# Pashto Folklore Guide

Mohammad Dawood Wafa



خپرندوی: ختیځ اکاډمي – ننګرهار

خپرنی لړ: "۱"

Designed by: Abdul Hadi Asar

www.sikaraam.com